# فقه

Ketabton.com

Download fr

(c) ketabton.com: The Digital Library

# آسانه فقه

عربي ليکنه

شيخ شفيق الرحمن ندوي رحمة الله عليه

پښتو ژباړه

مولوي احمدالله ابوالبدر مرتاض

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب ټول حقوق په خپرندوی اړه لري!

## د کتاب پېژندنه

| | |
|---|---|
| ❁ د کتاب نوم | : آسانه فقه |
| ❁ مصنف | : شيخ شفيق الرحمن ندوي رحمه الله |
| ❁ ژباړن | : مولوي احمدالله ابوالبدر مرتاض |
| ❁ خپرندوی | : صداقت خپرندويه ټولنه/ کندهار |
| ❁ کمپوز/ ډيزاين | : صداقت د کتاب چاپولو اداره |
| ❁ د پښتۍ طرحه | : محمدعمر |
| ❁ چاپ کال | : ۱۳۹۰ ش - ۲۰۱۰ ع |
| ❁ دوهم چاپ | :۱۳۹۲ ش - ۲۰۱۳ ع. |
| ❁ د چاپ شمېر | : ۱۰۰۰ ټوکه |
| ❁ کچه | : ۲۱×۱۲/۵۰ سانتي متره |

د تر لاسه کولو پته:

**صداقت خپرندويه ټولنه**

ارګ بازار، منير مارکېټ، کندهار - افغانستان

تليفون: ۰۷۰۰۳۰۹۲۴۴ - ۰۷۰۰۳۰۵٤۰۷

ايميل: sadaqat.books@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


۱. پیلامه ........................................ ۱
۲. **د پاکۍ کتاب** ........................................ ۲
۳. د اوبو هغه ډولونه چې د پاکۍ لپاره کارېږي ........ ۳
۴. د اوبو ډولونه او حکمونه ........................ ۳
۵. د هغو اوبو حکم چې پاک شی ورسره ګډ شوي وي ........ ۵
۶. د پاتهه شوني احکام ........................ ۶
۷. د څاهانو د اوبو احکام ........................ ۷
۸. د انساني حاجت د پرځای کولو اداب ........................ ۹
۹. د استنجاء احکام ........................ ۱۲
۱۰. د مرداریو ډولونه او احکام ........................ ۱۳
۱۱. د سختې مردارۍ حکم ........................ ۱۵
۱۲. سپکه مرداري لاندې ډولونه لري ........................ ۱۵
۱۳. د سپکې مردارې حکم ........................ ۱۵
۱۴. مرداري په څو ډوله له منځه وړل کېږي ........................ ۱۶
۱۵. د اودس کولو حکم ........................ ۱۸
۱۶. د اودس رکنونه ........................ ۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۷. د اودس د سهي کېدلو شرطونه ........ ۱۹
۱۸. د اوداسه د واجب کېدلو شرطونه ........ ۱۹
۱۹. هغه احکام چي په اوداسه پوري اړه لري ........ ۲۰
۲۰. د اوداسه سنتونه ........ ۲۱
۲۱. د اوداسه ادبونه ........ ۲۲
۲۲. د اوداسه مکروهات ........ ۲۳
۲۳. د اوداسه ړولونه ........ ۲۴
۲۴. اودس څه مهال فرضېږي؟ ........ ۲۴
۲۵. اودس څه مهال واجبېږي ........ ۲۴
۲۶. اودس څه مهال مستحب دئ ........ ۲۵
۲۷. اودس ماتوونکي شیان ........ ۲۶
۲۸. هغه شیان چي اودس نه ماتوي ........ ۲۷
۲۹. د لمبېدلو فرضونه ........ ۲۸
۳۰. د لمبېدلو سنتونه ........ ۲۸
۳۱. د لمبېدلو ړولونه ........ ۲۹
۳۲. لمبېدل څه مهال فضېږئ؟ ........ ۲۹
۳۳. څه مهال غسل سنت دئ؟ ........ ۲۹
۳۴. غسل څه مهال مستحب دئ؟ ........ ۳۰
۳۵. د تیمم وهلو مشروعیت ........ ۳۱
۳۶. د تیمم د سهي کېدو شرطونه ........ ۳۲
۳۷. د تیمم رکنونه ........ ۳۴
۳۸. د تیمم سنتونه ........ ۳۴

(c) ketabton.com: The Digital Library


۳۹. د تیمم کولو ډول ........ ۳۵
۴۰. د تیمم ماتوونکي ........ ۳۵
۴۱. هغه څه چي په تیمم پوري اړه لري ........ ۲٦
۴۲. پر موزو مسح کول ........ ۳۷
۴۳. د مسح د روایښت شرطونه ........ ۳۷
۴۴. د مسح فرضونه او سنتونه ........ ۳۸
۴۵. پر موزو د مسح کولو موده ........ ۳۸
۴٦. د موزې د مسح ماتوونکي شیان ........ ۳۹
۴۷. پر پټۍ او ترړل سوی ځای مسح کول ........ ۳۹
۴۸. **د لمانځه کتاب** ........ ۴۱
۴۹. د لمانځه ډولونه ........ ۴۲
۵۰. د لمانځه د سهي کېدو شرطونه ........ ۴۲
۵۱. د لمانځه وختونه ........ ۴۳
۵۲. هغه څه چي د لمانځه په وختونو پوري اړه لري ........ ۴۴
۵۳. هغه وختونه چي لمونځ پکښي روا نه دئ ........ ۴۵
۵۴. هغه وختونه چي نفلي لمونځ پکښي مکروه دئ ........ ۴٦
۵۵. د اذان او اقامت حکم ........ ۴۷
۵٦. د اذان مستحبات ........ ۴۸
۵۷. هغه څه چي په اذان کي مکروه دي ........ ۵۰
۵۸. د لمانځه د سهي کېدو شرطونه ........ ۵۱
۵۹. هغه څه چي د لمانځه په شرطو پوري اړه لري ........ ۵۳
٦۰. د لمانځه رکنونه ........ ۵۴
٦۱. د لمانځه واجبونه ........ ۵۵
٦۲. د لمانځه سنتونه ........ ۵۷

(c) ketabton.com: The Digital Library


۶۳. د لمانځه مستحبات ........................ ۶۰
۶۴. د لمانځه فاسدوونکي ........................ ۶۱
۶۵. هغه څه چي لمونځ نه فاسدوي ........................ ۶۴
۶۶. هغه څه چي په لمانځه کي مکروه دي ........................ ۶۴
۶۷. هغه څه چي په لمانځه کي مکروه نه دي ........................ ۶۷
۶۸. د لمانځه د ادا کولو ډول ........................ ۶۸
۶۹. د جماعت د لمانځه فضیلت ........................ ۷۱
۷۰. د جماعت د لمانځه حکم ........................ ۷۳
۷۱. جماعت د چا لپاره سنت دئ؟ ........................ ۷۳
۷۲. د جماعت لمونځ څه مهال له ذمې اوړي ........................ ۷۴
۷۳. د امامت د سهي کېدو شرطونه ........................ ۷۵
۷۴. د امامت لپاره تر ټولو ډېر څوک حقدار دئ؟ ........................ ۷۶
۷۵. هغه کسان چي امامت ئې مکروه دئ ........................ ۷۷
۷۶. د مقتدي د درېدو ځای او د صفونو ترتیب ........................ ۷۷
۷۷. د اقتدا د سهي کېدو شرطونه ........................ ۷۸
۷۸. مقتدی به څه مهال د امام متابعت کوي؟ ........................ ۷۹
۷۹. د سترې احکام ........................ ۸۰
۸۰. د لمونځ کوونکي مخ ته د تېرېدو احکام ........................ ۸۱
۸۱. څه مهال واجب څه مهال روا ده چي لمونځ پرېښودل سي ........................ ۸۲
۸۲. د وتر لمونځ ........................ ۸۲
۸۳. سنت لمونځونه ........................ ۸۵
۸۴. هغه لمونځونه چي مؤکد سنت دي ........................ ۸۶
۸۵. هغه لونځونه چي غیر مؤکد سنت دي ........................ ۸۶
۸۶. مستحب لمونځونه او شپه په ویښه تېرول ........................ ۸۷

(c) ketabton.com: The Digital Library




۸۷. د لمانځه جدول ........................ ۸۸

۸۸. لمونځ په ناسته کول ........................ ۸۹

۸۹. د سپرتیا پر مهال لمونځ کول ........................ ۸۹

۹۰. په کښتۍ کي لمونځ کول ........................ ۹۰

۹۱. په ریل ګاډي کي لمونځ کول ........................ ۹۰

۹۲. د تراویح لمونځ ........................ ۹۱

۹۳. د مسافر لمونځ ........................ ۹۲

۹۴. د سفر د نیت د سهي کېدو شرطونه ........................ ۹۳

۹۵. څه مهال لمونځ لنډېږي؟ ........................ ۹۴

۹۶. د لنډولو موده ........................ ۹۴

۹۷. په مقیم پسي د مسافر اقتداء کول ........................ ۹۵

۹۸. د وطن ډولونه او احکام ........................ ۹۵

۹۹. د ناروغ لمونځ ........................ ۹۶

۱۰۰. د قضایي لمونځونو قضا راوړل ........................ ۹۷

۱۰۱. فرضي لمونځ په جماعت سره نیول ........................ ۹۹

۱۰۲. د روژې او لمانځه فدیه ........................ ۱۰۱

۱۰۳. د سهوي د سجدې احکام ........................ ۱۰۲

۱۰۴. هغه څه چي د سهوي په سجده پوري اړه لري ........................ ۱۰۴

۱۰۵. د سهوي سجدې د کولو ډول ........................ ۱۰۵

۱۰۶. د سهوي سجده څه مهال له منځه ځي ........................ ۱۰۶

۱۰۷. په شک سره څه مهال لمونځ له منځه ځي؟ ........................ ۱۰۶

۱۰۸. د تلاوت د سجدې احکام ........................ ۱۰۷

۱۰۹. هغه څه چي د تلاوت په سجده پوري اړه لري ........................ ۱۰۸

۱۱۰. د تلاوت سجدې د کولو ډول ........................ ۱۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library




۱۱۱. د جمعې لمونځ........................ ۱۱۱
۱۱۲. د جمعې د لمانځه د سهي کېدو شرطونه .................. ۱۱۲
۱۱۳. د جمعې د لمانځه د فرضېدو شرطونه .................. ۱۱۳
۱۱۴. د خطبې سنتونه .................. ۱۱۳
۱۱۵. هغه څه چي د جمعې په لمانځه پوري اړه لري .................. ۱۱۴
۱۱۶. د اخترونو احکام .................. ۱۱۵
۱۱۷. د اختر لمونځ پر چا واجب دئ؟ .................. ۱۱۶
۱۱۸. د اختر د لمانځه د روا کېدو شرطونه .................. ۱۱۶
۱۱۹. د کوچني اختر د ورځي غوره کارونه .................. ۱۱۷
۱۲۰. د اختر د لمانځه د ادا کولو ډول .................. ۱۱۸
۱۲۱. د لوی اختر د ورځي احکام.................. ۱۱۹
۱۲۲. د لمر او سپوږمۍ د تورېدو لمنځونه .................. ۱۲۰
۱۲۳. د استسقا لمونځ.................. ۱۲۱
۱۲۴. **د جنازې کتاب** .................. ۱۲۳
۱۲۵. تر غسل مخکي به په مړي څه کوي؟ .................. ۱۲۴
۱۲۶. مړي ته د غسل ورکولو حکم .................. ۱۲۵
۱۲۷. د غسل ورکولو ډول .................. ۱۲۵
۱۲۸. مړي ته د کفن ورکولو احکام .................. ۱۲۶
۱۲۹. د کفن ډولونه .................. ۱۲۷
۱۳۰. نارینه ته د کفن ورکولو ډول .................. ۱۲۷
۱۳۱. ښځي ته د کفن ورکولو ډول .................. ۱۲۸
۱۳۲. د جنازې د لمانځه احکام.................. ۱۲۸
۱۳۳. د جنازې د لمانځه شرطونه .................. ۱۲۹
۱۳۴. د جنازې د لمانځه سنتونه.................. ۱۲۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳۵. هغه څه چې د جنازې په لمانځه پورې اړه لري ........ ۱۳۱
۱۳۶. د جنازې د لمانځه ډول ........................ ۱۳۲
۱۳۷. د جنازې د وړلو احکام ........................ ۱۳۳
۱۳۸. د مړي د ښخولو احکام ........................ ۱۳۳
۱۳۹. د قبرو د زیارت کولو احکام .................. ۱۳۵
۱۴۰. د شهید احکام .................................. ۱۳۵
۱۴۱. **د روژې کتاب** ................................ ۱۳۸
۱۴۲. روژه پر چا فرض ده ............................ ۱۳۹
۱۴۳. د روژې ادا پر چا فرض ده ...................... ۱۳۹
۱۴۴. د لاندې شرطو پر مهال ادا سهي کېږي ........... ۱۴۰
۱۴۵. د روژې ډولونه ................................. ۱۴۰
۱۴۶. د روژې د نیت وخت ............................. ۱۴۲
۱۴۷. د میاشتې لیدل څنګه ثابتېږي؟ .................. ۱۴۳
۱۴۸. د شک په ورځ روژه نیول ........................ ۱۴۴
۱۴۹. هغه شیان چې روژه نه ماتوي ...................... ۱۴۴
۱۵۰. څه مهال قضا او کفاره دواړه لازمېږي؟ ............ ۱۴۶
۱۵۱. د کفارې د وجوب شرطونه ......................... ۱۴۶
۱۵۲. د کفارې بیان ..................................... ۱۴۷
۱۵۳. څه مهال قضا بېله کفارې لازمېږي؟ ............... ۱۴۸
۱۵۴. هغه څه چې د روژاتي لپاره مکروه دي ............. ۱۴۹
۱۵۵. هغه څه چې د روژاتي لپاره مکروه نه دي .......... ۱۵۰
۱۵۶. هغه څه چې د روژاتي لپاره مستحب دي ............ ۱۵۰
۱۵۷. هغه عذرونه چې د روژې ماتول روا کوي ............ ۱۵۱
۱۵۸. څه وخت په نظر وفا کول واجب ده ................ ۱۵۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۵۹. اعتکاف ........................ ۱۵۳
۱۶۰. د اعتکاف موده ........................ ۱۵۳
۱۶۱. د اعتکاف فاسدونکي شیان ........................ ۱۵۴
۱۶۲. هغه عذرونه چي له مسجد څخه د وتلو لپاره روا دي ........ ۱۵۴
۱۶۳. هغه څه چي د معتکف لپاره مکروه دي ........................ ۱۵۵
۱۶۴. د اعتکاف کولو اداب ........................ ۱۵۵
۱۶۵. سر سایه ........................ ۱۵۶
۱۶۶. سر سایه پر چا واجب ده ........................ ۱۵۶
۱۶۷. لاندي شیان په ضروري او اصلي اړتیاوو کي داخل ........ ۱۵۷
۱۶۸. د کوم چا له خوا سر سایه ادا کېږي ........................ ۱۵۸
۱۶۹. د سر سایې اندازه ........................ ۱۵۸
۱۷۰. **د زکات کتاب** ........................ ۱۵۹
۱۷۱. د زکات د فرض کېدو شرطونه ........................ ۱۶۱
۱۷۲. زکات څه مهال ادا کېږي ........................ ۱۶۲
۱۷۳. د زکات ورکړه څه مهال سهي کېږي ........................ ۱۶۲
۱۷۴. د سرو او سپینو زرو زکات ........................ ۱۶۳
۱۷۵. د سامان زکات ........................ ۱۶۴
۱۷۶. د پور زکات ........................ ۱۶۵
۱۷۷. د ضمار مال زکات ........................ ۱۶۶
۱۷۸. هغه څوک چي زکات ورکول کېږي ........................ ۱۶۷
۱۷۹. هغه څوک چي زکات نه ورکول کېږي ........................ ۱۶۹
۱۸۰. **د حج کتاب** ........................ ۱۷۰
۱۸۱. د حج د فرض کېدو شرطونه ........................ ۱۷۱
۱۸۲. د حج د ادا کولو د واجبېدو شرطونه ........................ ۱۷۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۸۳. د حج د اداکولو د سهي کېدو شرطونه ........... ۱۷۲
۱۸۴. د احرام تړلو ځای ........... ۱۷۳
۱۸۵. د حج ارکان ........... ۱۷۴
۱۸۶. د حج واجبونه ........... ۱۷۴
۱۸۷. د حج سنتونه ........... ۱۷۵
۱۸۸. هغه څه چي په حج کي منع دي ........... ۱۷۶
۱۸۹. د حج د اداکولو ډول ........... ۱۷۷
۱۹۰. قران حج ........... ۱۸۰
۱۹۱. تمتع حج ........... ۱۸۱
۱۹۲. عمره ........... ۱۸۲
۱۹۳. جنایتونه او سزاوي ........... ۱۸۲
۱۹۴. هدیه ........... ۱۸۶
۱۹۵. د رسول الله د قبر لیدو ته ورتلل ........... ۱۸۷
۱۹۶. **د اختري کولو کتاب** ........... ۱۸۹
۱۹۷. اختري پر چا واجب دئ؟ ........... ۱۹۰
۱۹۸. د اختري کولو وخت ........... ۱۹۰
۱۹۹. هغه حیوان چي د اختري لپاره کفایت نه کوي ........... ۱۹۱
۲۰۰. د اختري غوښي او پوستونه چا ته ورکول کېږي ........... ۱۹۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیلامه

کله چې په کال ۱۳۸۵ کې ما په قادري تعلیمي مرکز کې درس ورکاوه نو د فقه مشهور کتاب (الفقه المیسر) زما په برخه وو. زما په زړه کې ګرځېدله چې که خدای وغواړي دا کتاب به پښتو ته ژباړم، ما همدغه اراده پخوله چې په یوه کتابخانه کې مې د دې کتاب پښتو ژباړل سوې نسخه ولیدله چې رښتیا ووایم ډېر خوشحاله سوم چې په دې عصر کې چې د برګر د خوړلو زمانه ده داسي ښاغلي سته چې د خیر په کار مسابقه کوي، د چا بانه ته نه ګوري قدم اخلي.

نو ما خپله اراده له ذهنه پرېوله خو په کال ۱۳۹۰ کې د صداقت خپرندویه ټولني مشر محمدعمرجان ما ته وړاندیز وکړ چې یاد سوی کتاب دوهم وار پښتو ته وژباړم ځکه لومړي ژباړونکي که څه هم ستړیا ګاللې وه کتاب ئې ژباړلی وو خو ګرامري او ژبنیزي ستونزي پکښې کمي نه دي. ما هم ورسره ومنل په ژباړه مې پیل وکړ په څو محدودو شپو کې ژباړه پای ته ورسېده. کله چې ما نوې او پخوانۍ ژباړې مقایسه کړې دوه توپیره پکښې ښکاره وه، یو دا چې: په نوې ژباړه کې لنډې جملې او خواږه مفردات په کار لوېدلي دي مخکنۍ ژباړه دغه مالګه نه لري.

بل دا چې په نوې ژباړه کې پښتو د پښتو په قالب کې لیکل سوې ده، مخکنۍ ژباړه دغه سُرخي او سفېده نه لري قضاوت لوستونکو ته پرېږدو.

د لوی خدای ﷻ څخه غواړم چې ما ته د ژباړلو، ښاغلي محمدعمرجان ته د خپرولو اجر نصیب کړي.

د دعا په امید

مولوي احمدالله ابوالبدر مرتاض کندهار

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پاکۍ کتاب

الله ﷻ ویلي دي: إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلتَّوَّٰبِينَ وَيُحِبُّ ٱلْمُتَطَهِّرِينَ ﴿٢٢٢﴾[1]

ژباړه: ربښتیا الله توبه ګاره او پاکي کوونکي خوښوي.

رسول ﷺ ویلي دي: الطهور شطر الایمان[2] "پاکي د ایمان یوه برخه ده".

پاکي د عباداتو له پاره اساس دئ، لمونځ بې له پاکۍ نه سهي کېږي. رسول ﷺ ویلي دي:

(مفتاح الجنة الصلاةُ ومفتاحُ الصلوةِ الطُهُورُ[3]".

لمونځ د جنت کیلي ده، پاکي د لمانځه کیلي ده".

طهارت په شریعت کي پاکۍ ته وایي، هغه که له محسوسي ناپاکۍ څخه وي، یا له معنوي عیوبو څخه وي.

**په شریعت کي پاکي دوه ډوله ده:**

لومړی: له بې اودسۍ څخه پاکوالی، دا ډول پاکي د حکمي پاکۍ په نوم یادېږي.

دوهم: له مرداریو څخه پاکوالی، دا ډول پاکي د حقیقي پاکۍ په نوم یادېږي.

له بې اودسۍ څخه پاکوالی په اودس کولو، لمبېدلو او کله چي د اوبو کارول

---

[1] [البقره: ۲۲۲]

[2] دغه حدیث احمد، مسلم، ترمذي او نسائي روایت کړي دئ.

[3] دغه حدیث احمد، ترمذي او بیهقي په شعب الایمان کي کي روایت کړی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستونزمن وي په تیمم وهلو تر لاسه کېږي. خو له مرداریو څخه پاکوالی، د پاک کوونکو شیانو په کارولو او مرداریو په لېرې کولو تر لاسه کېږي لکه: خالصې اوبه، پاکې خاورې، ډبرې او نورو او د مرداریو په لیرې کولو تر لاسه کېږي.

## د اوبو هغه ډولونه چې د پاکۍ له پاره کارېږي

پاکي په مطلقو اوبو منځته راځي. مطلقې اوبه هغه اوبه دي چې پر خپل هغه حالت پاته وي چې د پیدایښت پر مهال ئې درلودې، بل هیڅ شی ورسره ګډ شوی نه وي.

**لاندې ډولونه ټول مطلقې اوبه دي:**

۱. د باران اوبه

۲. د ویالې اوبه

۳. د څاه اوبه

۴. د چینې اوبه

۵. د دریاب اوبه

۶. هغه اوبه چې د واورې په ویلې کېدلو تر لاسه سوې وي.

۷. هغه اوبه چې د یخې په ویلې کېدلو تر لاسه سوې وي.

## د اوبو ډولونه او حکمونه

**د پاکۍ راوستلو او نه راوستلو په اعتبار اوبه پنځه ډوله دي:**

لومړۍ: پاکې پاک کوونکې اوبه چې مکروه نه وي، مطلقې اوبه، پاکې او پاک کوونکې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهم: پاکي پاک کوونکي اوبه خو مکروه وي، دا هغه اوبه دي چې پیشي، چرګي، وحشي مرغانو او مارانو چښل څنې کړي وي. په دغه ډول اوبو اودس او غسل کول تنزیهي مکروه دي، دا هغه مهال که مطلقي اوبه موجودي وي، که مطلقي اوبه موجودي نه وي بیا د دې ډول اوبو کارول مکروه والی نه لري.

دریم: هغه اوبه چې پاکي وي، خو په پاکولو کي ئې شک وي. دا هغه اوبه دي چې خره او غاتري چښل څنې کړي وي، دغه ډول اوبه بې له شکه پاکي دي، خو په دې کي ئې شک سته چې پاک کوونکي دي که نه دي؟. که نوري اوبه نه وي بې اودسه سړی به په دغو اوبو اودس کوي بیا به تیمم وهي، دی اختیار لري که اودس مخکي کوي که تیمم مخکي کوي، فرق نه لري.

څلورم: هغه اوبه چې پاکي وي خو پاک کوونکي نه وي، دا هغه اوبه دي چې یو وار کارول سوي وي، دغه ډول اوبه پاکي دي، پاک کوونکي نه دي، دوهم وار اودس نه په کېږي.

کارول سوي (مستعملي) اوبه هغه اوبه دي چې یو وار اودس یا غسل په سوی وي، بې اودسي په لیري سوې وي، یا د ثواب په نیت پر اودس سربېره بل اودس په سوی وي. که اودس لرونکی سړی اوبه د ځان سړولو یا بل چا ته د اودس ښوولو په نیت وکارولې اوبه مستعملي نه ګرځي. که بې اودسه سړی د ځان سړولو یا بل چا ته د اودس ښوولو په نیت وکاروي اوبه مستعملي ګرځي[۱]، همدارنګه اوبه هغه وخت مستعملي ګرځي چې د اودس کوونکي یا غسل کوونکي له بدن څخه جلا سي.

پنځم: هغه اوبه دي چې مرداري وي، دا هغه اوبه دي چې روانی نه وي، مرداري ورلوېدلې وي، فرق نه کوي که د مرداری اغېز پر ښکاره وي که نه وي یو برابر دي. پړ کومو اوبو چې د مرداری اغېز او اثر ښکاره وي هغه مرداري دي، فرق

---

[۱] څکه بې اودسه سړي چې اودس وکړي پاک کېږي فرق نه لري. که د پاکی نیته ولري که نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه کوي که اوبه لږ وي که ډېري وي، ولاړې وي، که رواني وي. که اوبه په لوی حوض کي موجودي وي، حوض دومره لوی وي چي د يوې خوا د اوبو په ښورولو د بلي خوا اوبه و نه ښوري دا ډېري اوبه ګڼل کېږي.

ځيني وخت داسي اندازه ورته ټاکل کېږي چي هغه اوبه ډېري دي، چي حوض د شرعي ګزو په اندازه لس په لس ګزه کي پراخوالی ولري او د اوبو ژوروالی دومره وي چي په لپه کي د اوبو په اخيستلو سره د حوض تل ښکاره نه سي.

داسي نه وي هغه اوبه لږ بلل کېږي. د مردارو اوبو حکم دا دئ چي پاکي نه په راځي، که د بل شي سره ګډ ي سي هغه شی مردار ګرځي.

کومي اوبه چي د درختي او مېوې په نښتېځلو تر لاسه سي اودس نه په روا کېږي، فرق نه کوي که دغه ډول اوبه په کښېکښلو تر لاسه سوي وي که خپله راوتلي وي، په هغو اوبو اودس روا نه دئ چي په پخېدلو سره له خپل طبعي حالته وتلي وي، لکه: ښوروا او شربتونه.

# د هغو اوبو حکم چي پاک شی ور سره ګډ سوی وي

کله چي د اوبو سره پاک شی لکه صابون، اوړه او زعفران ګډ سي دغه شيان پر اوبو غالبه نه وي اوبه پاکي دي اودس په روا دئ. که دوی پر اوبو غالب وي اوبه ئې له نرمی او بهېدلو ايستلي وي اوبه پاکي دي خو اودس په روا نه دئ.

کله چي د زړښت له امله د اوبو رنګ، خوند او بوی بدل سي اوبه پاکي دي اودس په روا دئ، کله چي د اوبو سره هغه شی ګډ سي چي ډېری وخت له اوبو څخه بېل نه وي لکه د اوبو پر سر زرغون پېروي، د درختو پاڼي او نور دغه اوبه پاکي دي اودس په روا دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د اوبو سره داسي شی ګډ سي چي دوه صفتونه ولري لکه شيدې چي رنګ او خوند لري بوی نه لري، که د دې شي يو صفت پر اوبو غالبه سو او اوبه مغلوبه سي اودس په روا نه دئ.

که د اوبو سره داسي نرم شی ګډ سو چي درې صفتونه ولري لکه سرکه، په ذرو صفتو کي دوه صفتونه پر اوبو غالبه سوه اوبه مغلوبه دغه شی غالبه ګڼل کېږي اودس په روا نه دئ.

که د اوبو سره مايع شی ګډ سو هيڅ وصف ئې نه درلودی لکه مستعملي اوبه او د ګلاب هغه اوبه چي بوی ئې تللی وي، دلته وزن ارزښت لري، که دوه کيلو مستعملي اوبه د يوه کيلو پاکو اوبو سره ګډې سوې اودس په روا نه دئ.

که يو کيلو مستعملي اوبه د دوو کيلو پاکو اوبو سره ګډې سي اودس په روا دئ.

## د پاته شوني احکام

پاته شوني (پس خورده) هغه اوبه دي چي د انسان او حيوان تر چښلو وروسته په لوښي کي پاته سي. پاته شوني اوبه حيوان ته په کتو بېلابېل احکام لري.

لومړی: د انسان پس خورده پاکه ده، اودس په روا دئ، دا هغه مهال که د انسان خوله د چښلو پر مهال په مردار شي ککړه نه وي. مسلمان، کافر، ناولی او پاک ټول يو برابر دي.

د آس پس خورده هم پاکه ده، اودس په روا دئ هيڅ مکروه والی پکښې نسته، همدا ډول د هغه حيوان چي غوښي ئې خوړل کېږي پاته شونې ئې پاکه ده اودس په روا دئ، مکروه والی پکښې نسته، لکه غويی، اوښ، پسه او نور.

دوهم: د پيشي پاته شونې پاکه ده، خو اودس په کول تنزيهي مکروه دي. دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه وخت که نوري پاکي اوبه موجودي وي او د پیشي خوله په مرداری ککړه نه وي (تازه ئې موږک خوړلی نه وي).همدا رنګه پس خورده د ځیرونکو مرغانو لکه باز او تپوس پس خورده پاکه ده خو اودس کول په مکروه دئ.

همدا ډول د کورنیو حیوانانو لکه موږک او نورو پاته شونې پاکه ده خو اودس په کول تنزیهي مکروه دي.

دریم: د خره او غاتري پاته شونې بې شکه پاکه ده خو دا شک موجود دئ چي اودس په روا دئ که نه دئ؟ نو همدا وجه ده چي د دغه ډول اوبو په موجودیت کي به اودس او تیمم دواړه کوي، بیا به لمونځ کوي.

څلورم: د سرکوزي پاته شونې مرداره ده، اودس په روا نه دئ. همداسي د سپي پاته شونې مرداره ده اوس په روا نه دئ. همداسي د زمري، پړانګ، شرموښ او نورو ځیرونکو حیوانانو چي په هوا نه الوزي پاته شونې (پس خورده) مرداره ده اودس په روا نه دئ.

د کوم حیوان چي پاته شونې پاکه وي، خوله (عرق) ئې هم پاکه ده. د کوم حیوان چي پاته شونې مرداره وي خوله ئې هم مرداره ده.

# د څاهانو داوبو احکام

کله چي څاه ته مرداري ولوېږي که څه هم لږ وي لکه یو څاڅکیویني یا یو څاڅکی شراب د څاه د ټولو اوبو کښل واجب دي. که څاه ته حیوان ولوېدی چي ذات ئې مردار وي لکه سرکوزی او نور د ټولو اوبو کښل واجب دي، فرق نه کوي که حیوان ژوندی را وکښل سي که مړ وي، خوله ئې اوبو ته رسېدلې وي که نه وي حکم ئې یو دئ، که په څاه کي یو حیوان ولوېدی چي ذات ئې مردار نه وو لاکن پس

(c) ketabton.com: The Digital Library



خورده ئې مرداره وه نو د څاه د ټولو اوبو راکښل واجب دئ.

که څاه ته انسان ولوېدې ژوندی ځني راووتی بدن ئې په مرداري ککړ نه وو، د څاه اوبه نه مردارېږي.

که څاه ته غاتره، خر، تېپوس، څرخک (باز) ولوېدل ژوندي را وايستل سول بدن ئې په مرداريو ککړ نه وو خولې ئې اوبو ته رسېدلې نه وي د څاه اوبه پاکي دي.

که د ورلوېدلي شي ناړي د اوبو سره ګډې سوې دغه اوبه د پاته شوني حکم لري.

که په څاه کي حيوان مړ سي، بهېدونکې وينه ونه لري لکه غوماشه، مچ او غالبوزه اوبه نه په مردارېږي.

که په څاه کي هغه حيوان مړ سو چي په اوبو کي ژوند کوي، په اوبو کي زېږي، لکه ماهي، چنګښه، چنګابښ اوبه نه مردارېږي.

که په څاه کي لوی حيوان مړ سو لکه سپی، پسه يا انسان، تر پړسېدلو مخکي را وايستل سو اوبه مرداري ګرځي، د څاه ټولي اوبه بايد وکښل سي.

که ممکنه نه وه چي د څاه ټولي اوبه وکښل سي يا په ټولو هغو صورتو کي چي د څاه وچول واجب وي د دوه سوه ميانه سلواغو کښل کفايت کوي، که پيشي، چرګه او دوی ته ورته حيوان په څاه کي مړ سي څلوېښت سلواغې کفايت کوي. که چوغکه، موږک او دوی ته ورته حيوان پکښې مړ سي شل سلواغې کفايت کوي، کله چي ټاکلې اندازه اوبه وکښل سي څاه، رسی، سلواغه د را کښونکي سره لاسونه پاک ګرځي.

څاه ته که خوشايي، پچه، د غوايي مرداري ولوېږي يوازي هغه مهال څاه مردارېږي که دغه ورلوېدلي شيان دومره ډېر وي چي په هره سلواغه کي د اوبو سره مل راخېژي.

څاه ته که د کوتري، چوغکي مرداري ولوېدل اوبه نه مردارېږي. که څاه ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



حیوان ولوېدی پکښې وپړسېد معلومه نه وه چي څه مهال لوېدلی دئ نو څاه د درو ورځو او شپو څخه مردار ګڼل کېږي. د درو ورځو د لمونځو قضا به راګرځوي، که ئې د دې څاه په اوبو اودس نه وو کړی لمونځ راګرځول نه غواړي، که په دغه اوبو لمبېدلی وو یا ئې کالي په پرېولي وه ده هم وار دې پرېمینځي، دوهم وار دي ولمبېږي که په څاه کي تر پړسېدلو مخکي یو حیوان پیدا سو او معلومه نه وه چي څه وخت څاه ته لوېدلی دئ نو د غه څاه د یوې ورځي او یوې شپې څخه مردرا ګڼل کېږي. صرف هر چا که دا اوبه استعمال کړي وي، د یوې ورځي او یوې شپې د لمونځونو قضا به راوړي.

# د انساني حاجت د پر ځای کولو آداب

رسول ﷺ ویلي دي: انما انا لکم بمنزلة الوالد اعلمکم فاذا اتی احدکم الغائط فلا یستقبل القبلة و لا یستدبرها و لا یستطب بیمینه و کان یامر بثلاثة احجارٍ وَ یَنهيَ عن الروث والرمة.

زه تاسي ته ستاسي د پلار غوندي یم، تاسي ته ښوونه کوم، کله چي په تاسي کي یو څوک د صحراګښت له پاره ووزي مخ او شا دي د قبلې لوري ته نه کوي، په راسته لاس دي ځان نه پاکوي، درې ډبري دي کاروي، خوشایي او هډوکي دي نه استعمالوي.

**څوک چي د ډکو او تشو متیازو اراده ولري لاندي آداب به په پام کي نیسي:**

۱. د خلکو له سترګو دي لیري ولاړ سي تر څو د ده رنګ او بوی محسوس نه سي.

۲. د صحراګښت له پاره دي نرمه ځمکه خوښه کړي تر څو د بولو څاڅکي پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونه پاشل سي.

۳. بيت الخلاء (تشناب) ته تر ننوتلو مخکي دي دا دعا ووايي: اعُوذُبِاللهِ مِنَ الخُبُثِ والخَبَائِثِ. له نارينه او ښځينه شيطانانو څخه الله ته پناه ورم. که چا صحرا ګښت په دښت کي کاوه پورته دعا دي هغه مهال ووايي چي کالي راټول کړي ځان ئې لوڅ کړی نه وي.

۴. تشناب ته دي لومړی چپه پښه دننه کړي، د راوتلو پر مهال دي لومړی راسته پښه دباندي وباسي.

۵. د ناستي پر مهال دي پر چپه پښه زور کوي په دې ډول په آسانۍ سره صحرا ګښت تر سره کېږي.

۶. د صحرا ګښت او استنجا پر مهال دي سر پټ وي.

۷. په غار کي دي بولي نه کوي کېدلای سي په غار کي ضررمنه خزنده موجوده وي دی به وچيچي.

۸. پر لاره او هديره کي دي صحرا ګښت نه کوي.

۹. په هغه سايه (سيوري) کي دي صحرا ګښت نه کوي چي خلک د ناستي له پاره کار ځني اخلي.

۱۰. د خلکو د راټولېدو په ځای کي دي صحرا ګښت نه کوي.

۱۱. تر مېوه لرونکي وني لاندي دي صحرا ګښت نه کوي.

۱۲. بې عذره دي د صحرا ګښت پر مهال خبري نه کوي، خو که ړوند سړی ووينې چي د کندي پر لوري روان وي او دا ېره موجوده وي چي کندي ته به ولوېږي بيا پر ده واجبه ده چي خبري وکړي لار ور وښيي.

۱۳. دا مکروه ده چي د صحرا ګښت يا استنجا پر مهال حمد ووايي، قرآني

(c) ketabton.com: The Digital Library



آیاتونه ووایي.

۱۴. دا تحریمي مکروه ده چي د صحرا ګښت پر مهال مخ یا شا د قبلې خوا ته وګرځوي، تشناب او دښت یو حکم لري.

۱۵. تحریمي مکروه ده چي په لړو ولاړو اوبو کي دکي یا تشي متیازي وکړي.

۱۶. تنزیهي مکروه ده چي په روانو اوبو کي دکي یا تشي متیازي وکړي او یا په ډیرو اوبو کي چي ولاړي وي.

۱۷. مکروه ده چي د لمبېدلو په ځای (غسلخانه) کي بولي وکړي.

۱۸. مکروه ده چي څاه، ویالې او حوض ته نژدې صحرا ګښت وکړي.

۱۹. مکروه ده چي په داسي ځای کي چي سرې پټ نه وي د استنجاء له پاره خپل شرم ځای ښکاره کړي.

۲۰. مکروه ده چي بې له عذره په راسته لاس استنجاء ووهي.

۲۱. مکروه ده چي بې له عذره په ولاړه بولي وکړي ځکه د بولو څاڅکي د ده پر کالیو او بدن پاشل کېږي.

۲۲. کله چي له صحرا ګښت څخه فارغه سي چپه پښه دي راوباسي بیا دي دا دعا وکړي: [اَلحَمدُلِلهِ الَّذِی اَذهَبَ عَنِی الاَذْی وَ عَافَانِی]. هغه الله لره ستاینه ده چي زما څخه ئې تکلیف لیري کړ او زه ئې هوسا کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د استنجاء احکام

الله جَلَّ جَلالُه ویلي دي:

فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَن يَتَطَهَّرُوا وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ ﴿١٠٨﴾ [التوبه: ۱۰۸].

دلته خلک دي د پاکۍ سره مینه لري، الله پاک کوونکي خوښوي.

رسول عليه السلام ویلي دي: استنزِهوا من البولِ فَإن عامةَ عَذابِ القَبرِ منه .

"له بولو څخه ځان پاک ساتئ ربښتیا د قبر عام عذاب له دغه څخه دئ".

تر استنجاء مخکي ځان وچول لازم دي. ځان وچول دا دي چي د مخ او شا پر شرم ځایونو چي کوم څه پاته وي هغه لیري کړل سي، تر څو د ده غالب ګومان وسي چي دغه ټاکلي ځایونه پاک دي، په دې هکله که څوک یو خاص عادت ولري لکه ولاړېدل، ښورېدل، غاړي تازه کول او نور دغه عادت دي تر سره کړي.

**د استنجاء له پاره تفصیل سته:**

که مرداري د راوتلو تر ځای تېره سي نور بدن ککړ کړي، د یوه درهم[٥] تر اندازې زیاته سي، د دې ځای پرېولل فرض[٦] دي که پاته سي لمونځ ئې روا نه دئ.

که دغه ځای د یوه درهم په اندازه ککړ سي، پرېولل ئې واجب دي، که تر ټاکلي ځای تېر نه سي استنجاء سُنت ده. روا ده چي د استنجاء پر مهال یوازي او به و کاروي.

دا هم روا ده چي یوازي ډبره یا ډبري ته ورته شی و کاروي، دا هغه مهال که

---

[٥] په وزني نجاست کي د یوه درهم وزن معتبر دئ، په نرم نجاست کي د یوه درهم مساحت چي د ورغوي د منځ په اندازه دئ اعتبار لري.

[٦] فرض هغه دي چي په قطعي دلیل ثابت وي، واجب هغه دي چي په داسي دلیل ثابت وي چي شبهه پکښي وي، سنت هغه دي چي د رسول الله صلي الله علیه وسلم په فعل یا وینا ثابت وي، خو رسول الله دوامداره نه وي تر سره کړي، واجب او فرض په عمل کي یو ډول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ککړ سوی ځای یوه درهم ته رسېدلی نه وي، خو په اوبو سره استنجاء وهل ښه کار دئ.

غوره دا ده چي لومړی په ډبره یا ډبري ته په ورته شي ځان پاک کړي وروسته اوبه وکاروي په دې ډول به ښه پاک سي.

غوره دا ده چي استنجاء په درو ډبرو ووهل سي، که دوې یا یوه ډبره وکاروي هم کفایت کوي.

کله چي خپل شرمځای په ډبره یا ډبري ته په ورته شي پاک کړي لومړی دي لاسونه ومینځي بیا دي خپل شرم ځای تر هغه مهاله پرېولي چي بوی ئې ورک سي.

کله چي له استنجاء څخه فارغه سي لاسونه دي پرېولي، ټینګ دې وموږي تر څو بوی ئې ورک سي.

# د مرداريو ډولونه او احکام

الله ﷻ ویلي دي: [و ثیابک فطهر[7]] خپلي جامې پاکي کړه.

رسول ﷺ ویلي دي: لا يَقبَلُ اللهُ ثلاةً مِن غَيرِ طُهُورٍ.

"الله بې له پاکۍ لمونځ نه قبلوي".

مرداري دا ده چي بدن، کالي او ځای پر داسي حالت وي چي شریعت ئې مردار وګڼي او د پاک کولو امر ئې وکړي.

مرداري دوه ډوله ده:

۱. حکمي

۲. حقیقي

[7] المدثر ۴ ایت

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکمي مرداري هغه ده چې انسان پر داسي حالت وي چې د دغه حالته سره ئې لمونځ روا نه وي، حکمي مرداري د بې اودسۍ په نوم یادېږي، بې اودسي دوه ډوله ده:

۱. یوه لویه بې اودسي ده چې انسان پر داسي حالت وي چې لمبېدل باندي فرض وي، د دغه حالته سره لمونځ ورته روا نه وي، د قرآنکریم لوستنه ورته روا نه وي.

۲. بله کوچنۍ بې اودسي ده، هغه دا چې سړی پر داسي حالت وي چې اودس باندي لازم وي په دغه حالت کي لمونځ روا نه دئ، د قرآن له پاڼو څخه ورته قرائت روا نه وي خو د قران کریم له یادو ویل روا دئ.

حقیقي مرداري هغه ناولي او مردار مواد دي چې پر مسلمان لازمه ده چې له هغوی څخه ځان پاک وساتي.

**حقیقي مرداري دوه ډوله ده:**

یوه سخته مرداري ده: دا هغه مرداري ده چې مرداروالی ئې په قطعي دلیل ثابت وي.

**سخته مرداري په لاندي ډول ده:**

۱. د رګو وینه، چې د ذبح پر مهال د باندي وزي.

۲. شراب.

۳. د مردار سوي حیوان لاښ او پوست.

۴. د هغه حیوان بولي چې غوښې ئې نه خوړل کېږي.

۵. د ثیرونکو حیوانانو فضله مواد او ناړي.

٦. د سپي فضله مواد.

۷. د چرګي او بطي فضله مواد.

۸. هر هغه شی چې د هغه په وتلو سره د سړي اودس ماتېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سختې مردارۍ حکم

سخته مرداري د يوه درهم[۸] په اندازه معاف ده، که تر يوه درهم زياته سوه په اوبو يا بل مايع شي سره ئې پرېولل واجب دي. د هغه په موجوديت کي لمونځ روا نه دئ.

سپکه مرداري هغه ده چي مردار والی ئې په قطعي توګه معلوم نه وي، ځکه داسي دليل موجود وي چي پر پاکوالي دلالت ولري.

# سپکه مرداري لاندي ډولونه لري

۱. د آس بولي.
۲. د هغه حيوان بولي چي غوښې ئې خوړل کېږي لکه اوښ، غويي، پسه.
۳. د هغه مرغه فضله مواد چي غوښې ئې نه خوړل کېږي.

# د سپکې مردارۍ حکم

سپکه مرداري تر هغه مهاله معاف ده چي زياته سوې نه وي، د زياتوالي له پاره د جامې يوه څلورمه تاکل سوې ده.

[۸] که د يوه درهم په اندازه مرداري موجوده وي لمونځ روا دئ، خو مکروه دئ. که ئې د لېري کولو وس ولري نو لېري ئې کړئ او بيا لمونځ وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بولو هغه ثاڅکي معاف دي چې د ستني د سرو غوندي کوچني وي. که مردار کالي، یا مردار فرش د بیده په خولو لوند سي یا د لندو پښو په قدمو لانده سي که د مرداری اثر (نخښه) پر بدن معلومه سي بدن او قدم مردار دي، که نخښه ښکاره نه سي مردار نه دي.

که لنده جامه پر وچې مرداري مځکي وغوړول سي په دغه جامه سره مځکه لنده سي که پر جامه د مرداری نخښه نه وي جامه پاکه ده. که پاکه وچه جامه په لنده مرداره جامه کي وپېچل سوه مرداره جامه دومره لنده وه که کښېکښېل سوې وای اوبه نه ځني وتلې پاکه وچه جامه پاکه ده.

که پر مرداریو باد راوالوتی، مرداري ئې پر لندو جامو وپاشل که د مرداری نخښه پر معلومه سي جامې ناپاکي دي، که نخښه معلومه نه وي پاکي دي.

## مرداري په څو ډوله له منځه وړل کېږي؟

کومه مرداري چې په سترګو لیدل کېږي لکه وینه او غایطه مواد، پاکي ئې دا ده چي د دوی ذات لیري کړل سي. دا که په یو وار پرېولو سره وي که په ډېرو وارو سره فرق نه کوي. که بوی او رنګ ئې پاته وي لیري کول ئې ستونزمن وي پروا نه لري.

کومه مرداري چې په سترګو نه لیدل کېږي لکه بولي کله چي درې واره ومینځل سي او هر وار دومره ونښتېځل سي چي ثاڅکي نه کوي او هر وار پاکي اوبه وکارول سي شی پاک ګرځي.

حقیقي مرداري له بدن او کالیو څخه په اوبو او هر مایع (بهېدونکي) شي لکه سرکه او د ګلاب اوبه له منځه ځي. اودس په سرکه او د ګلاب په اوبو روا نه دئ.

موزې په پرېولو پاکي ګرځي. همدا ډول موزه پر پاکه مځکه وموښل سي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکېږي، دا هغه مهال که مرداري تن درلودی که وچه وي که لنده وي فرق نه لري حکم ئې يو دئ.

توره، چاړه، هینداره، ښیښه او غوړ لوښی په موښلو پاکېږي.

مځکه چي وچه سي د مرداري نخښه پر پاته نه سي پاکه ګرځي، تیمم باندي روا نه دئ خو لمونځ باندي روا دئ.

که د مرداري ذات تغیر وکړ، د مثال په ډول مالګه سوه پاکه ګرځي که مرداري وسوځل سي هم پاکه ګرځي.

که د انسان مني پر بدن یا کالیو ولوېدل وچ سول په موښلو پاکېږي که لانده وه هرومرو پرېولل غواړي.

د حیوان پوست په پخولو پاکېږي، پخول که حقیقي وي که حکمي وي فرق نه کوي.

د سرکوزي پوست په هیڅ حالت نه پاکېږي.

د انسان پوست په پخولو پاکېږي خو استعمال ئې روا نه دئ. ځکه د انساني کرامت سره ټکر لري.

د هغه حیوان پوست چي غوښي ئې نه خوړل کېږي په شرعي ذبح کولو سره پاک ګرځي.

په هر شي کي چي وینه ځای ونه لري لکه وریښتان، ښکه، ښکرونه، هډوکي او نور د حیوان په مړینه مردار نه ګرځي.

دا هغه مهال که پر دوی غوړ نه وه که غوړ باندي وي بیا مردار دي، د مردار سوي حیوان پلې مرداري دي.

د مشکو له پاره د پوستکي کڅوړه د مشکو غوندي پاکه ده، د مشکو خوړل روا دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اودس کولو حکم

الله ﷻ ویلي دي: يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قُمۡتُمۡ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ فَٱغۡسِلُواْ وُجُوهَكُمۡ وَأَيۡدِيَكُمۡ إِلَى ٱلۡمَرَافِقِ وَٱمۡسَحُواْ بِرُءُوسِكُمۡ وَأَرۡجُلَكُمۡ إِلَى ٱلۡكَعۡبَيۡنِ... [المائده: ٦]

اې مؤمنانو! کله چي لمانځه ته ولاړ سئ خپل مخونه پرې مینځئ، لاسونه تر څنګلو پرېولئ، پر خپلو سرو مسح وکړئ، پښې تر بجلکو پرېولئ.

رسول ﷺ ویلي دي: لا يقبلُ صلاةَ احَدِكُم اذا احدثَ حَتي يَتوضا.

"ستاسي د یوه لمونځ الله ﷻ تر هغه مهاله نه قبلوي چي دی بې اودسه وي تر څو اودس ئې تازه کړی نه وي".

په شریعت کي اودس دا دئ چي سړی ځان داسي پاک کړي چي د مخ، لاسونو او پښو پرېولل پکښې وي د سر مسح پکښې وي، بې له اودسه لمونځ روا نه دئ.

قران ته بې اودسه لاس وروړل روا نه دي. څوک چي دوامداره[۱] اودس ولري د ثواب حقداره دئ، په آخرت کي د لوړو درجو وړ دئ.

# د اودس رکنونه

**د اودس رکنونه چي د اوداسه فرضونه دي څلور دي:**

۱. یو وار مخ پرېولل. مخ په اوږدو د تندي له لوړي برخي څخه د زني تر لاندي برخي پوري دئ. په بره له یوه غوږه تر بله غوږه پوري دئ.

۲. د څنګلو سره د لاسونو پرېولل یو وار.

---

(۱) یعني چي اودس ئې مات سي ژر بیا اودس وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳. د سر يوه څلورمه مسح کول.

۴. د بجلکو سره پښې پرېولل يو وار.

## د اودس د سهي کېدلو شرطونه

**اودس يوازي هغه مهال سهي کېږي چي درې شرطونه موجود سي:**

۱. ټولو هغو غړو ته به اوبه رسول کېږي چي پرېولل ئې فرض دي.

۲. داسي شی به موجود نه وي چي د اوبو د رسېدو مخنيوی کوي، لکه شمع، موم خيشته اوره (د نوکانو رنګ).

۳. داسي شی به موجود نه وي چي د اودس کولو پر مهال اودس بيرته له منځه يوسي، که موجود وي اودس نه سهي کېږي.

## د اوداسه د واجب کېدو شرطونه

**اودس هغه مهال واجبېږي چي لاندي شرطونه موجود وي:**

۱. **غټ والی:** پر کوچني اودس واجب نه دئ.

۲. **عقل:** پر لېوني اودس واجب نه دئ.

۳. **اسلام:** پر کافر اودس واجب نه دئ.

۴. پر دومره اوبو واک درلودل چي د ټولو فرضي غړو له پاره کفايت وکړي. که د اوبو پر استعمال قدرت ونه لري اودس باندي واجب نه دئ، که پر دومره اوبو واک ولري چي د اودس له پاره کفايت نه کوي هم اودس واجب نه دئ.

۵. کوچنۍ بې اودسي به موجوده وي، که څوک اودس ولري اودس باندي نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶. له ناولیتوب (جنابت) څخه به پاک وي، ځکه د ناولي له پاره چي غسل باندي فرض وي يوازي اودس کفايت نه کوي.

۷. وخت به تنګ وي، که پراخ وخت موجود وي، سمدلاسه اودس فرض نه دئ.

## هغه احکام چي په اودس پوري اړه لري

که ږيره ګڼه وي د سرېږني برخي پرېولل واجب دي، که ږيره ګڼه نه وي بيا پوستکي ته اوبه رسول واجب دي. د ږيري د ځړېدلو ورېښتانو پرېولل فرض نه دي، مسح کول ئې هم واجب نه دي.

که په نوکانو کي داسي شئ بند وي چي اوبه د پوستکي څخه راګرځوي لکه موم او خيشته اوړه د هغه ليري کول واجب دي، لاندي برخي ته اوبه رسول واجب دي، که نوکان دومره اوږده سي چي د ګوتو سرونه پټ کړي پرې کول ئې واجب دي، تر څو اوبه پوستکي ته ورسېږي. د نوکانو خيره او د کيکو ګنډکي د اوبو مخ نه نيسي.

که ګوتمي په ګوته وي تنګه وي د اودس کولو پر مهال ئې ښورول واجب دي.

که د پښو د چاکونو پرېولو سړي ته تاوان کاوه کفايت کوي چي اوبه سرېږه پر تېري کړل سي.

که يوه سړي پر سر مسح وکړه وروسته ئې سر وخراوه مسح بيرته راګرځول نه غواړي. که سړي اودس وکړ وروسته ئې نوکان پرې کړه، يا ئې برېتونه لنډ کړه، د دغو ځايونو دوهم ځلي پرېولل واجب نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اوداسه سنتونه

لاندي کارونه په اودس کي سنت دي باید پام ورته وسي، تر څو اودس په بشپړه بڼه تر سره سي:

۱. تر پیل مخکي به د اوداسه نیت کوي.

۲. بسم الله الرحمن الرحیم به وایي.

۳. داوړه لاسونه دي تر لومړي بنده پوري پرېولي.

۴. مسواک به وهي، که مسواک موجود نه وي ګوته به استعمالوي.

۵. خوله به پرېولي.

۶. پزه به پرېولي.

۷. که ئې روژه نه وي د خولې او پزي په مینځلو کي به مبالغه (ډېر کوښښ) کوي.

۸. هر اندام به درې واره پرېولي.

۹. یو وار دي ټول سر مسح کړي.

۱۰. د غوږونو پر دباندي او دننه برخو دي مسح وکړي.

۱۱. ږیره دي له لاندي خوا څخه خلال کړي، ګوتي دي پکښې تېري کړي.

۱۲. د ګوتو په منځنو کي دي ګوتي تېري کړي.

۱۳. د پرېولو پر مهال دي خپل اندامونه وموږي.

۱۴. دوهم اندام به د لومړي اندام تر وچېدو مخکي پرېولي.

۱۵. د اندامو په پرېولو کي به ترتیب مراعاتوي. لومړی مخ، بیا لاسونه بیا پر سر مسح کول وروسته به پښې پرېولي.

۱۶. راسته لاس دي تر چپه لاس، راسته پښه دي تر چپې پښې مخکي پرېولي.

۱۷. د سر مسح دي د سر له لومړۍ برخي څخه پیل کړي.

۱۸. پر غاړه دي مسح وکړي، پر غوټو (کرنکه) دي مسح نه کوي، ځکه پر غوټو مسح کول بدعت دئ.

## د اوداسه ادبونه[۱۰]

**په اوداسه کي لاندي کارونه مستحب دي:**

۱. د اودس کولو له پاره دي پر لوړ ځای کښېني تر څو د مستعملو اوبو څاڅکي پر ونه پاشل سي.

۲. قبلې ته مخامخ دي کښېني.

۳. په اودس کولو کي دي له بل چا څخه مرسته نه غواړي.

۴. عادي خبري دي نه کوي (دعاوي دي کوي).

۵. د اودس کولو پر مهال دي هغه دعاوي کوي چي له پيغمبر ﷺ څخه نقل سوي دي.

۶. د زړه نيت او د خولې ويل به سره يو ځای وي.

۷. د هر انداز د پرېولو پر مهال به بسم الله الرحمن الرحيم وايي.

۸. کله چي د غوږو مسح کوي لندې ګوتي دي د غوږونو په دننه برخه کي دننه کړي.

۹. که ګوتمی پراخه وي ودې ښوروي، که تنګه وي ښورول ئې لازم دي.

۱۰. د پزي او غوږونو له پاره دي په راسته لاس اوبه پورته کوي.

۱۱. پزه دي په چپه لاس تکوهي.

---

[۱۰] ادبونه، مستحبات او فضائل داسي لفظونه دي چي معنا ګاني ئې دومره ډېر فرق نه لري، د ادابو او سنتو تر منځ فرق دا دئ: سنت هغه دي چي رسول الله دوامداره کړي وي، خو يو يا دوه واره ئې پر ايښي وي، نو مسلمان ته ئې په کولو ثواب ورکول کېږي پر پرېښولو ئې ملامتيا سته. اداب هغه دي چي پر کولو ئې ثواب سته او پر نه کولو ئې ملامتيا نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲. که شرعي عذر ونه لري د وخت تر مخه دي اودس کوي.

۱۳. کله چي له اودس څخه فارغه سي ولاړ دي سي قبلې ته مخامخ دي ودرېږي، لاندي کلمه دي ووايي:

[اَشهَدُاَنْ لاَّ اِلَهَ اِلاَّاللهُ وَحْدَهُ لاشَرِيکَ لَهُ واَشهَدُ اَنَّ مُحَمَّداًعَبْدُه وَرَسُولُه اللهُمَّ اجعَلنِی مِنَ التَوَّابِينَ وَاجعَلنِی مِنَ المُتَطَهِرِينَ].

ترجمه: زه شاهدي اداء کوم چي د الله څخه پرته هيڅ معبود نسته، الله ﷻ تنها دئ. ده لره شريک نسته او زه شاهدي اداکوم چي محمد (صلی الله عليه وسلم) د ده بنده او رسول دئ. راضي يم په دې چي الله ﷻ مي رب دئ، محمد (صلی الله عليه وسلم) مي نبی او اسلام مي دين دئ. ياالله! ما د ډېرو توبه کوونکو او د ډېر پاک او صفا خلکو څخه وگرځوي.

# د اوداسه مکروهات

**په اوداسه کي لاندي کارونه مکروه دي:**

۱. په اوداسه کي اوبه ډېري کارول.

۲. په اوداسه کي ډېري کمي اوبه کارول.

۳. اوبه په زوره پر مخ وهل.

۴. عادي خبري کول.

۵. د بل چا څخه مرسته غوښتل. که عذر ولري بيا مرسته غوښتل پروا نه لري.

۶. پر سر درې واره مسح کول او د هر وار له پاره نوي اوبه اخيستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اوداسه ډولونه

**اودس درې ډوله دئ:**

۱. فرضي اودس

۲. واجب اودس

۳. مستحب اودس

# اودس څه مهال فرضيږي؟

**پر بې اودسه سړي دلاندي شيانو له امله اودس فرضيږي:**

۱. د فرضي او نفلي لمونځو له پاره.

۲. د جنازې د لمانځه له پاره.

۳. د تلاوت د سجدې له پاره.

۴. د قرآن شريف د را اخيستلو او لاس ور وړلو له پاره، که پر کاغذ، درهم، او دېوال باندي ايات ليکل سوي وي د لاس ور وړلو له پاره اودس فرض دئ.

# اودس څه مهال واجبيږي؟

د کعبې د طواف له پاره اودس واجب دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اودس څه مهال مستحب دئ؟

**دلاندي كارونو له پاره اودس مستحب دئ:**

۱. د خوب کولو له پاره.

۲. کله چي له خوب څخه راویښ سي.

۳. د دوامداره اودس لرلو له پاره.

۴. پر اودس سربېره بل اودس د ثواب ګټلو په نيت[۱۱].

۵. تر غيبت، چوغلګرۍ او درواغو ويلو وروسته اودس کول، تر ګناه کولو وروسته هم اودس مستحب دئ.

٦. د بد شعر تر ويلو وروسته.

۷. له لمانځه څخه دباندي تر په زوره (قهقهه) خندا کولو وروسته[۱۲].

۸. مړي ته د غسل ورکولو له پاره.

۹. د مړي د وړلو له پاره.

۱۰. د لمانځه د هر وخت له پاره.

۱۱. د جنابت (ناوليتوب) تر غسل مخکي اودس.

۱۲. جُنُب (ناولی سړی) چي د خوراک، څښاک او خوب اراده ولري.

۱۳. د غوسې پر مهال.

۱۴. د قرآن له پاړو څخه د قرآنکريم لوستني له پاره.

۱۵. د حديثو د ويلو او روايت کولو له پاره.

۱٦. د شرعي علومو د لوستلو له پاره.

---

[۱۱] پر اودس سربېره بل اودس هغه مهال مستحب دئ چي په لومړي اودس عبادت سوی وي، که نه وي سوی په دې صورت کي دوهم اودس اسراف دئ.

[۱۲] په زوره خندا که د لمانځه په جريان کي وي اودس ماتوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۷. د اذان کولو له پاره.

۱۸. د اقامت کولو له پاره.

۱۹. د خطبې لوستنې له پاره.

۲۰. د رسول عليه السلام د زيارت کولو له پاره.

۲۱. د عرفات له پاره.

۲۲. د صفا او مروا د تګ کولو لپاره.

# اودس ماتوونکي شيان

**په لاندې شيانو اودس ماتيږي:**

۱. کله چې د شا او مخ له شرم ځايونو څخه يو شی ووزي، لکه بولې، غائطه مواد، باد او نور.

۲. کله چې له بدن څخه وينه او نو ووزي پاک ځای ته وبهيږي.

۳. کله چې له خولې څخه وينه ووزي پر ناړو زياته وي يا ورسره برابره وي.

۴. کله چې خواړه، اوبه، وينه، او ژړ په ډکه خوله قی کړي[۱۳].

۵. کله چې بيده سي او شاتنی عورت ئې پر مځکه قرار ونه لري. يا تر وينبېدو مخکې شاتنی عورت له مځکې څخه پورته سي.

۶. کله چې بې سده سي.

۷. کله چې لېونی سي.

۸. کله چې نشه سي.

۹. کله چې بالغ سړی په ويښه په هغه لمانځه کې په زوره وخاندي چې رکوع او

(۱۳) که خوله ډو مره ډکه سي چې په تکليف را تولېږي ډکه ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سجده ولري. که کوچنی او بیده په لمانځه کي په زوره وخاندي اودس نه ماتېږي، همدا ډول د جنازې په لمانځه او د تلاوت په سجده کي په زوره خندل اودس نه ماتوي.

# هغه شیان چي اودس نه ماتوي

**لاندي شیان اودس ماتوونکو شیانو ته ورته دي خو اودس نه ماتوي:**

۱. کله چي وینه ښکاره سي و نه بهېږي.
۲. کله چي له بدن څخه غوښه ولوېږي وینه ورسره نه وي.
۳. کله چي له تپ او غوږ څخه چینجی ووزي.
۴. کله چي قی په ډکه خوله نه وي.
۵. کله چي بلغم قی کړي لږ او ډېر یو حکم لري.
۶. کله چي لمونځ کوونکی په لمانځه کي بیده سي فرق نه کوي که په ولاړه بیده سي که په ناسته، یا په رکوع او سجده کي حکم ئې یو دئ. دا هغه مهال که د لمانځه پر سنت طریقه وي.
۷. کله چي اودس لرونکی سړی بیده سي، شاتنی عورت ئې پر مځکه وي.
۸. کله چي خپل لاس تناسلي آلې ته وروړي.
۹. کله چي ښځي ته لاس ور وړي.
۱۰. کله چي بیده سړی کوږ سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لمبیدو فرضونه

د لمبیدو فرضونه درې دي:

۱. خوله پرېولل.
۲. پزه پرېولل.
۳. ټول بدن داسي پرېولل چي هیڅ ځای وچ پاته نه سي.

# د لمبیدلو سنتونه

لاندي کارونه په لمبېدلو کي سنت دي، باید پام ورته وسي تر څو غسل په ښه توګه تر سره سي:

۱. د غسل تر پیلېدلو مخکي بِسم الله ویل.
۲. داسي نیت کول چي د پاکېدلو له پاره لمبېږم.
۳. دواړه لاسونه تر کوچنیو بندو پوري پرېولل لکه د غسي چي په اُوداسه کي هم کېدل.
۴. تر لمبېدلو مخکي دي هغه مرداري لیري کړي چي د ده پر بدن یا جامه موجوده وي.
۵. تر لمبېدلو مخکي دي اودس وکړي خو د پښو پرېولل دي وځنډوي دا هغه مهال که دی په کښته ځای کي وو او به پکښې جمع کېدلې.
۶. پر ټول بدن دي درې واره اُوبه واچوي.
۷. لومړی دي پر سر اوبه واچوي بیا دي پر راسته اوږه بیا دي پر چپه اوږه اوبه واچوي.
۸. بدن دي وموږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹. بدن دي پرله پسې پرېولي تر څو بدني اندامونه يو تر بل مخکي وچ نه سي. که سړی روانو اوبو ته ولوېدی هلته يو ګړی پټکښې پاته سو ځان ئې وموښی، غسل ئې بشپړ دئ. که سړی حوض ته ولوېږي همداسي ده.

## د لمبېدو ډولونه

**لمبېدل درې ډوله دي:**

۱. فرضي لمبېدل
۲. سنت لمبېدل
۳. مستحب لمبېدل

## لمبېدل څه مهال فرضېږي؟

**دلاندي شيانو د يوه په موجوديت سره غسل فرضېږي:**

۱. کله چي سړی جُنُب (ناولی) سي.
۲. کله چي ښځه له حيض څخه پاکه سي.
۳. کله چي ښځه له نفاس څخه پاکه سي.
۴. پر ژونديو د مړي غسل فرض دئ.

## څه مهال غسل سنت دئ؟

**غسل په لاندي صورتو کي سنت دئ:**

۱. د جمعې د لمانځه له پاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲. د دوو اخترو له پاره.

۳. د احرام له پاره.

۴. تر زوال وروسته په عرفات کي د حاجي له پاره.

## غسل څه مهال مستحب دئ؟

**په لاندي صورتو کي غسل مستحب دئ:**

۱. د برات د پنځلسمي شپې په نيمي کي.

۲. د شبقدر په شپه.

۳. کله چي لمر او سپوږمۍ ترنځه و نيسي (تورسي).

۴. د استسقاء د لمانځه له پاره.

۵. د ېړي پر مهال.

۶. د تاريکۍ پر مهال.

۷. د سخت باد پر مهال.

۸. کله چي نوي کالي اغوندي.

۹. څوک چي له ګناه څخه توبه ګاره سي.

۱۰. څوک چي له سفر څخه راسي.

۱۱. څوک چي مديني منورې ته ننوزي.

۱۲. څوک چي مکې مکرمې ته ننوزي.

۱۳. د لوی اختر په ورځ چي پر مزدلفه دريږي.

۱۴. د طواف زيارت له پاره.

۱۵. چا چي مړي ته غسل ورکړی وي.

۱۶. چي وينه وکاږي (حجامت وکړي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۷. څوک چي له لېونتوب څخه پر سد سي. که څوک له بېهوښۍ (کوما) او نشې څخه پر سد سي هم غسل ورته مستحب دئ.

۱۸. څوک چي مسلمان سي او جُنب نه وي، که جُنب وي غسل باندي فرض دئ.

# د تيمم وهلو مشروعيت

الله ﷻ ويلي دي: وَإِن كُنتُم مَّرْضَىٰٓ أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوْ جَآءَ أَحَدٌ مِّنكُم مِّنَ ٱلْغَآئِطِ أَوْ لَـٰمَسْتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَلَمْ تَجِدُوا۟ مَآءً فَتَيَمَّمُوا۟ صَعِيدًا طَيِّبًا فَٱمْسَحُوا۟ بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَفُوًّا غَفُورًا ﴿٤٣﴾ [النساء: ۴۳].

که تاسي ناروغان واست يا مسافر واست يا په تاسي کي يو څوک له صحرا کښت څخه راسي، يا د ښځو سره جنسي نژدېوالی وکړي او به پیدا نه کړي نو په پاکه خاوره تيمم ووهئ، نو خپل مخونه او لاسونه مسحه کړئ، بېشکه الله بخښوونکی او مهربان دئ.

رسول ﷺ ويلي دي:

فُضِلنَا عَلَي النَاسِ بِثَلاثٍ جُعِلَت صُفُوفُنَا كَصفُوفِ المَلائكَةِ وَ جُعِلَت لَنَا الارضُ كُلُهَا مَسجِداً وَ جُعِلَت تُربَتُهَا لَنَا طَهُوراً اِذَا لَم نَجِد المَاءَ.

"موږ تر نورو خلکو په درو شيانو نازول سوي يو، زموږ صفونه د ملائکو د صفو غوندي ګرځول سوي دي، زموږ له پاره ټوله مځکه د لمونځ کولو ور ګرځېدلې ده، کله چي موږ او به پیدا نه کړو د مځکي خاوره زموږ له پاره پاک کوونکې ګرځېدلې ده".

تيمم له دې وجي شرعي سوی دئ چي ځيني وختونه انسان د اوبو د کارولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



واک ونه لري ځکه اوبه موجودي نه وي یا سړی ناروغ وي. نو د اوداسه پر ځای تیمم ووهي. تر څو له هغو عباداتو څخه بې برخي نه سي چي بې له اودسه او تیممه روا نه دي لکه لمونځ او نور چي ډېر اهمیت لري. تیمم په لغت کي قصد ته ویل کېږي او په شریعت کي تیمم هغه خاورینه پاکي ده چي د مخ او لاسونو مسح په ځان کي لري د مسح پر مهال به څنګلي هم مسح کوي، د پاکۍ نیت ضروري دئ.

## د تیمم د سهي کېدو شرطونه

**تیمم هغه مهال سهي کېږي چي لاندي اته شرطونه موجود وي:**

۱. نیت کول، بې له نیته تیمم روا نه دئ. د هغه تیمم له پاره چي لمونځ په روا کېږي په لاندي درو شیانو کي یو شی ضروري دئ:

لومړی: د بې اودسۍ څخه د پاک کېدلو نیت، په نیت کي د بې اودسۍ تعین اړین نه دئ.

دوهم: د لمونځ د روا کېدلو نیت.

دریم: د هغه مقصودي عبادت نیت کول چي بې له پاکۍ روا نه وي، لکه لمونځ او د تلاوت سجده. که څوک د قرآن د لمس کولو او را اخیستلو په نیت تیمم ووهي په دغه تیمم لمونځ روا نه دئ. ځکه د قرآن را اخیستل او لاس ور وړل مقصودي عبادت نه دئ. همدا ډول که د اذان کولو په نیت تیمم ووهل سي په دغه تیمم لمونځ روا نه دئ. ځکه اذان او اقامت مقصودي عبادتونه نه دي. که څوک د قرآن د لوستني په نیت تیمم ووهي په دغه تیمم لمونځ روا نه دئ ځکه د قرآن لوستل که څه هم مقصودي عبادت دئ خو بې له اودسه روا دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شرط دا دئ چي لاندي عذرونه به موجود وي:**

لومړی: اوبه به یو میل یا زیات لیري وي.

دوهم: د ده به غالب ګومان وي یا به پوه ډاکټر ورته ویلي وي چي د اوبو استعمال تا ته تاوان کوي، ناروغه کېږې یا دي ناروغي زیاتېږي، یا دي رغېدنه ځنډېږي.

دریم: د ده غالب ګومان به وي که سړې اوبه وکاروي مړ به سي.

څلورم: که تږی سړی بېرېدی که په اوبو اودس تازه کړم زه یا زما ملګری به له تندي مړه سي.

پنځم: د اوبو د راکښلو له پاره سلواغه او رسۍ موجوده نه وي.

شپږم: د ده او اوبو په منځ کي دښمن یا وحشي حیوان موجود وي.

اووم: د ده به غالب ګومان وي که زه په اودس کولو اخته سم د اختر یا جنازې لمونځ به راڅخه تېر سي. که دا بېره ورسره وي چي که زه په اودس کولو اخته سم د لمانځه وخت به تېر سي، یا به د جمعې لمونځ تېر سي، تیمم نه روا کېږي. بلکي اودس دي وکړي، وروسته بیا دي د لمانځه قضا راوګرځوي یا دي د جمعې د لمانځه په عوض کي د ماپښین لمونځ وکړي.

۲. شرط دا دئ چي تیمم به د مځکي له جنس څخه په پاک شي سره وهل سوی وي، لکه خاوره، ډبره، رېګ، تیمم پر لرګي روا نه دئ په سپینو او سرو زرو روا نه دئ.

۳. شرط دا دئ: چي ټوله مخ، دواړه لاسونه د څنګلو سره به مسح کوي.

۴. شرط دا دئ چي د مسح له پاره به پوره ورغوی یا د ورغوو ډېره برخه کاروي، که د دوو ګوتو په سرو مخ او لاسونه مسح کړي تیمم روا نه دئ.

۵. شرط دا دئ: چي مسحه به کوي په دوه واره وهلو سره او د ورغوي لاندي خواوي به پر مځکه وهي. که دواړه وهل (یو ځل مخ بیا لاسونه) له یوه ځایه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه وي پروا نه لري. که د سړي پر بدن خاوره ولوېږي دی هغه د تیمم په نیت پر مخ او لاسونو مسح کړي تیمم سهي دئ.

۶. شرط دا دئ چي: پر بدن به داسي شی نه وي چي د مسح مخنیوی وکړي لکه موم، وازګه، روغني رنګ او نور. که موجود وي واجب ده چي تر تیمم کولو مخکي به دغه شی لیري کوي که ئې لیري نه کړي تیمم روا نه دئ.

۷. شرط دا دئ چي: حیض، نفاس او په سملاسي توګه د بې اودسه کېدلو حالت به نه وي. که د حیض، نفاس او په سملاسي توګه د بې اودسه کېدلو حالت وي تیمم سهي نه دئ.

# د تیمم رکنونه (داخلي فرضونه)

**د تیمم یوازي دوه فرضونه دي:**

۱. د ټول مخ مسح کول.

۲. د څنګلو سره د دواړو لاسونو مسح کول.

# د تیمم سنتونه

**لاندي کارونه په تیمم کي سنت دي:**

۱. په پیل کي به بسم الله الرحمن الرحیم وایي.

۲. ترتیب به مراعاتوي، لومړی مخ، بیا راسته لاس وروسته چپه لاس به مسح کوي.

۳. د مخ او لاسونو تر منځ به ځان په بل کار نه اخته کوي (دواړه به پرله پسې متصل مسح کوي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴. د لاسونو مخ او شا دواړه به پر خاورو وهي.
۵. کله چې لاسونه له خاورو راپورته کړي ودې څنډي.
۶. کله چې لاسونه پر خاورو ایږدي ګوتې دي وغوړوي.

## د تیمم کولو ډول

څوک چې غواړي تیمم ووهي له مړوندو څخه دي لستوڼي پورته کړي بیا دي بسم الله الرحمن الرحیم ووایي.

د لمانځه د روا کېدو نیت دي وکړي. د ورغوو مخونه دي پر پاکو خاورو کښېږدي. د ګوتو تر منځ دي فاصله راولي، بیا دي پر خاورو د لاسونو مخ او شا دواړه کښېږدي، بیا دې پورته کړي، لاسونه دي وڅنډي، بیا دې پر مخ تېر کړي.

بیا دي د لومړي وار غوندي لاسونه پر خاوره کښېږدي بیا دي په چپه ورغوي راسته لاس وروسته دي په راسته ورغوي چپه لاس مسح کړي، څنګلي دې ورسره مسح کړي.

تیمم بشپړ سو، خپل فرضي او نفلي لمونځ دي دومره وکړي چې ذی ئې غواړي.

## د تیمم ماتوونکي

۱. هر شي چې اودس ماتوي تیمم هم ماتوي.
۲. که د اوبو د استعمال قدرت پیدا کړئ هغه عذر له منځه ځي چې د هغه له امله ده ته تیمم روا سوی وو، لکه د اوبو نه موجودیت، له دښمن څخه بېره او داسي نور تیمم ماتېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هغه څه چې په تيمم پورې اړه لري

څوک چې د جنازې د لمانځه، د تلاوت د سجدې له پاره تيمم ووهي روا ده چې په دغه تيمم سره نور لمونځونه هم وکړي، خو د چې مسجد ته د ننوتلو له پاره تيمم ووهي په دغه تيمم سره لمونځ کولای نه سي.

څوک چې د قبرونو د زيارت له پاره يا د مړي د ښخولو له پاره تيمم ووهي په دغه تيمم سره نور لمونځونه کولای نه سي.

که څوک اميد ولري چې د وخت په آخر کې اوبه پيدا کولای سم ده ته مستحبه ده چې لمونځ وروستي وخت ته وځنډوي، که چا وعده ورسره کړې وه چې زه اوبه درکومنو پر ده واجب ده چې تيمم وځنډوي.

که د چا سره لږ اوبه وي دی اړ وي چې اوږه خيشته کړي په موجوده اوبو دي اوږه خيشته (لانده) کړي د لمانځه له پاره دي تيمم ووهي.

که د چا سره لږ اوبه وي دی اړ وي چې دغه اوبه د اشپزۍ له پاره وکاروي، اشپزي دي پرېږدي د لمانځه له پاره دي اودس وکړي.

پر سړي واجبه ده چې له خپل ملګري څخه د اوبو غوښتنه وکړي. دا هغه مهال که دوی په داسي ځای کي وه چې پر اوبو بخيلي نه کېدله، که په داسي ځای کي وه چې پر اوبو بخيلي کېدل بيا د اوبو غوښتنه واجبه نه ده.

که څوک عذر ونه لري روا ده چې تر وخت مخکي تيمم ووهي، که د چا لاسونه پرې وه، پښې ئې پرې وې مخ ئې ټپي وو، لمونځ دي بې اودسه کوي.

که د اندامو ډېره برخه يا نيمی ټپي وي تيمم دي ووهي.

که ډېره برخه ئې روغه وي اودس دي کوي، پر ټپونو دي مسح کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پر موزو مسح کول

الله ﷻ ویلي دي: يُرِيدُ ٱللَّهُ بِكُمُ ٱلْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ ٱلْعُسْرَ [البقره: ۱۸۵]

الله غواړي چي پر تاسي اساني راولي، الله نه غواړي چي پر تاسي سختي راولي.

رسول ﷺ ویلي دي: اَلْمَسحُ عَلىَ الخُفَينِ لِمُسافِرٍ ثَلاثَةُ اَيامٍ وَ لَيَالِيهَا و لِلمُقِيمِ يَومُ وَ لَيلَةٌ .

"مسافر دي پر موزو درې ورځي او شپې مقیم دي یوه ورځ او یوه شپه مسح کوي".

خلکو ته د اسانۍ په موخه سپېڅلي شریعت روا کړې ده چي د پښنو د پرېولو په عوض کي پر موزو مسح وکړي.

# د مسح د روا ېښت شرطونه

## لاندي شیان د مسح د روا کېدو شرطونه دي:

۱. موزې به په پاکۍ په پښنو سوي وي. که سړي پښې پرېولي وي موزې ئې په پښنو کړې وروسته ئې اودس بشپړ کړ، په وروستیو اودسو کي مسح ورته روا ده. دا هغه مهال که ئې تر بې اودسۍ مخکي اودس بشپړ کړی وو.

۲. موزې به داسي جوړې وي چي بجلکي پټي کړي.

۳. دواړې موزې به دومره څیرې نه وي چي درې کوچنۍ ګوتي تر ښکاره سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴. موزې به بې له ترلو پر پښو تينګيږي.
۵. موزې به داسي وي چي او به به نه پرېږدي چي قدمو ته ورسيږي.
۶. په موزو کي به تک کېدلای سي.

## د مسح فرضونه او سنتونه

د لاس د دريو کوچنيو ګوتو په اندازه مسح کول فرض ده، د هري پښې مخ به مسح کوي. سنت ده چي د ګوتو تر منځ فاصله راولي بيا ئې د پښې د ګوتو له سرونو څخه تر پنډيو پوري کش کړي.

## پر موزو د مسح کولو موده

د مقيم له پاره د مسح موده يوه ورځ يوه شپه ده.
د مسافر له پاره درې ورځي درې شپې دي.
د مسح موده د بې اودسه کېدلو له وخت څخه پيليږي.
د موزو د په پښه کولو له وخت څخه نه پيليږي.
که مقيم سړی مسح پيل کړه موده پوره سوې نه وه مسافر سو. د مسافر موده دي پوره کړي. که مسافر سړی مقيم سو يوه ورځ او يوه شپه ئې مسحه کړې وه نو د مسحي وخت ئې پوره دئ.
که مسافر تر يوې ورځي او شپې لږ وخت مسح کړې وه اوس مقيم سو، يوه ورځ او شپه دي پوره کړي (د مسح موده پای ته رسيږي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د موزې د مسح ماتوونکي شیان

۱. هر شی چې اودس ماتوي مسح هم ماتوي.
۲. د موزې په ختلو سره مسح ماتېږي.
۳. که قدم د موزې لومړي برخي (پنډۍ) ته وخېژي مسح ماتېږي.
۴. چې موده پوره سي مسح ماتېږي.
۵. که په موزه کې دننه اوبه د پښې ډېري برخي ته ورسېږي مسح ماتېږي، د سر د مسح پر ځای پر لنګوټه، رخچیني مسح روا نه ده، پر روی بند چې پر مخ اچول سوی تړکر دئ مسح روا نه ده. د لاسونو د پرېولو په عوض کي پر دسکلو مسح روا نه ده.

# پر پټۍ او تړل سوي ځای مسح کول

الله ﷻ ویلي دي: هُوَ ٱجۡتَبَىٰكُمۡ وَمَا جَعَلَ عَلَيۡكُمۡ فِي ٱلدِّينِ مِنۡ حَرَجٍ [الحج: ۸۷]

الله تاسي غوره کړي یاست، پر تاسي ئې ستاسي په دین کي سختي راوستې نه ده.

کله چې یو اندام زخمي سي وتړل سي، سړي وس نه درلودی چې زخمي ځای پرېولي، د مسح کولو وس ئې هم نه درلودی، د رغېدو تر وخته دي سر بېرنه پټۍ مسح کوي. شرط نه دئ چې پټۍ به په اوداسه او پاکۍ تړل سوې وي.

که یو اندام مات سي بیا وتړل سي همداسي حکم لري، روا ده چي پر مات سوي پښې مسح وکړي روغه پښه پرېولي، که پټۍ د ټپ تر رغېدو مخکي خلاصه سوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسح له منځه نه ځي، روا ده چې نوې پټۍ باندي وتړي مسح د سره را ونه ګرځوي.

ښه دا ده چې د پټۍ تر نوي کولو مخکي مسح وکړي، که د سړي سترګو ته شي ولوېدی پوه ډاکټر ورته وويل سترګي مه پرېوله، ده ته روا ده چې پر سترګو مسح وکړي، د سر، موزو او پټۍ د مسح له پاره نيت شرط نه دئ يوازي د تيمم له پاره نيت شرط دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لمانځه کتاب

الله جل جلاله ویلي دي: حَـٰفِظُوا۟ عَلَى ٱلصَّلَوَٰتِ وَٱلصَّلَوٰةِ ٱلْوُسْطَىٰ وَقُومُوا۟ لِلَّهِ قَـٰنِتِينَ ﴿٢٣٨﴾ [البقره: ۲۳۸]

پر لمونځو ټينګ اوسئ پر منځني لمونځ (ټينګ اوسئ) د الله له پاره عاجزه ودرېږي.

رسول عليه السلام ويلي دي: ارايتم لو ان نهرا بباب احدكم يغتسل فيه كل يوم خمسا هل يبقي من درنه شيي قالو لا يبقي من درنه شيی قال فذلک مثل صلوت الخمس يمحو الله بهن الخطايا[۱۴].

تاسي ما ته ووايا ست که ستاسي د دروازې سره ويا له وي تاسي هره ورځ پنځه واره پکښې لمبېږئ، آيا خيره به پاته سي؟

اصحابو وويل: خيره به هيڅ پاته نه سي.

رسول عليه السلام وويل: لمونځونه همداسي دي. الله جل جلاله په لمونځو سره ګناه له منځه وړي.

لمونځ لوی عبادت دئ ځکه بنده د خپل رب سره پيوند سي، لمونځ د الله جل جلاله د بې شمېره نعمتو شکر دئ. لمونځ ته په عربي کي صلٰوة وايي. صلٰوة په لغت کي دعا ته ويل کېږي په شريعت کي لمونځ د هغه مخصوصو افعالو، ويناوو،

[۱۴] رواه البخاري ومسلم عن ابي هريره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تکبیرونو نوم دئ چې په تکبیر سره شروع کېږي او په سلام پای ته رسېږي.

# د لمانځه ډولونه

**لمونځ دوه ډوله دئ:**

یو هغه لمونځ دئ چې رکوع او سجده ولري.

بل هغه لمونځ دئ چې رکوع او سجده پکښې نه وي. دا د جنازې لمونځ دئ.

هغه لمونځ چې رکوع او سجده ولري درې ډوله لري:

۱. فرضي لمونځ، دا هره ورځ د پنځه وختو لمونځ دئ.

۲. واجب لمونځ، دا لمونځ وتر، د دوو اخترونو لمونځونه او د هغه نفلي لمونځو قضا ده چې تر شروع کېدلو وروسته فاسد سوي وي، تر طواف وروسته دوه رکعتونه هم واجب دي.

۳. نفلي لمونځ، دا ډول لمونځ هغه لمونځ دئ چې نه فرضي وي نه واجب وي.

# د لمانځه د سهي کېدو شرطونه

**لمونځ یوازي هغه مهال فرضېږي چې په سړي کي درې شرطونه جمع سي:**

۱. اسلام، پر کافر لمونځ نسته.

۲. غټ والی، پر کوچني لمونځ نسته.

۳. عقل، پر لېوني لمونځ نسته.

مور او پلار ته په کار ده چې کله د دوی اولادونه اووه کلن سي پر لمونځو دې امر کړي، کله چې لس کلن سي د لمانځه نه کولو په وجه دې په چپلاخه ووهي، تر څو تر بلوغ مخکي د لمانځه عادت ونیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لمانځه وختونه

الله ﷻ ويلي دي: إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ كَانَتۡ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ كِتَٰبٗا مَّوۡقُوتٗا ﴿١٠٣﴾ [النساء: ۱۰۳]

بې له شکه لمونځ په ټاکلي وختو پر مؤمنانو فرض دئ.

رسول ﷺ ويلي دي: خمس صلوات افترضهن الله تعالي من احسن و ضوءهن و صلاهن لوقتهن و اتم رکوعهن و خشوعهن کان له علي الله عهد ان يغفر له ومن لم يفعل فليس له عهد ان شاءَغفرله و ان شاءَ عذبه.

الله پنځه لمونځه فرض کړي دي، څوک چي ښه اودس وکړي لمنځونه په خپلو وختو کي ادا کړي، رکوع بشپړه وکړي، عاجزي پکښې وکړي، الله ژمنه کوي چي ده ته به بخښنه کوي که څوک ئې دا ډول ادا نه کړي الله ژمنه نه کوي، که ئې خوښه وي بخښنه کوي که ئې خوښه وي عذاب ورکوي.

الله ﷻ پنځه لمونځونه په يوه شپه او ورځ کي فرض کړي دي:

۱. دوه رکعتونه د سهار په وخت کي فرض دي. د سهار وخت د رښتيني سباوون (سپېدو) څخه د لمر تر راختلو پوري دي.

۲. څلور رکعتونه د ماپښين په وخت کي فرض دي، د ماپښين وخت د لمر له زوال څخه بيا چي د هر شي سايه د هغه شي دوه برابره سي، دا د امام اعظم رحمه الله عليه پر مذهب د ده پر مسلک فتوا ورکول کېږي، وروستنيو علماوو د ده مسلک خوښ کړی دئ، خو امام ابو يوسف رحمه الله عليه او امام محمد رحمه الله عليه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماپښین وخت تر هغه وخته پورې ګڼل کېږي چې د هر شي سایه د هغه شي یو برابر سي، امام الطحاوي د دوی مسلک خوښ کړی دئ.

۳. د مازیګر په وخت کي څلور رکعته لمونځ فرض دئ. د مازیګر وخت هغه مهال پیلېږي[15] چي د ماپښین وخت پای ته ورسېږي، بیا تر لمر لوېدو پوري دوام کوي.

۴. د ماښام په وخت کي درې رکعته لمونځ فرض دئ. د ماښام وخت هغه مهال پیلېږي چي د مازیګر وخت پای ته ورسېږي بیا د سور شفق تر ورک کېدو پوري دوام کوي، فتوا همدا ډول ده.

۵. د ماخستن په وخت کي څلور رکعته لمونځ فرض دئ. د ماخستن وخت د سور شفق له ورک کېدو څخه د رښتیني سباوون (سپېدو) پوري دوام کوي. د وتر لمونځ واجب دئ، وخت ئې د ماخستن تر فرضو وروسته دئ، که څا تر فرضو مخکي وتر وکړه راګرځول غواړي.

## هغه څه چي د لمانځه په وختونو پوري اړه لري

ښه دا ده چي: د سهار لمونځ په رڼا کي وسي.

ښه دا ده چي: په دوبي کي د ماپښین لمونځ وځنډول سي.

ښه دا ده چي: د ماپښین لمونځ په ژمي کي ونه ځنډول سي.

ښه دا ده چي: که په ژمي کي که ورځ اوریځ ولري د ماپښین لمونځ وځنډول سي تر څو زوال یقیني سي.

[15] کله چي د هر شي سایه دوه برابره سي د امام اعظم رحمة الله علیه پر مسلک د ماپښین وخت پای ته رسېږي، خو امام بو یوسف او امام احمد رحمة الله علیهم وایي چي د هر شي سایه دوه برابره سي د ماپښین وخت پای ته رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه دا ده چي: د مازیګر لمونځ دومره وځنډول سي چي لمر تغیر ونه کړي.

ښه دا ده چي که اوریځ موجوده وي د مازیګر لمونځ ونه ځنډول سي.

ښه دا ده چي: د ماخستن لمونځ د شپې تریوې دریمي پوري وځنډول سي.

ښه دا ده چي: وتر د شپې وروستی برخي ته پرېښوول سي، دا هغه مهال که سړی ډاډمن وو چي د شپې په وروستی برخه کي ویښېدلای سم، روا نه ده چي دوه فرضي لمونځونه (په یوه وخت کي) جوړه کړل سي.

په دې هکله د عذر موجودیت او نه موجودیت اغېز نه لري.

یوازي پر حاجي لازمه ده چي په عرفات کي د لوی پاچا (یا د هغه د نائب) سره د ماپښین او مازیګر لمونځونه د ماپښین په وخت کي یو ځای ادا کړي او څوک چي مزدلفې ته ځي د ماښام او ماخستن لمونځونه دي په هغه وخت کي ادا کړي چي مزدلفې ته ورسېږي.

## هغه وختونه چي لمونځ پکښي روا نه دئ

په لاندي وختو کي فرضي، نفلي او واجب لمونځ روا نه دئ. د لمانځه قضا راوړل هم پکښي روا نه ده:

۱. کله چي لمر راخېژي تر څو لوړ پورته کېږي.

۲. کله چي لمر پر سر وي تر څو له سر څخه اوړي.

۳. کله چي لمر ژړ سي تر څو پټېږي. خو د دغي موجوده ورځي د مازیګر لمونځ په دغه حالت کي روا دئ، په یاد سوو وختو کي که لمونځ واجب سو، د مکروه والي سره روا دي، که په دغو وختو کي جنازه حاضره سوه د مکروه والي سره ادا کېږي. که په دغو وختو کي د سجدې آیات تلاوت سو د مکروه والي سره د تلاوت سجده ادا کېږي. په دغو وختو کي نفلي لمونځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تحريمي مکروه دئ.

## هغه وختونه چي نفلي لمونځ پکښي مکروه دئ

۱. کله چي سپيدې راوخېژي يوازي د سهار دوه رکعته سنت مکروه نه دئ نور نفلي لمونځونه مکروه دي.

۲. د سهار له لمانځه وروسته بيا د لمر تر راختلو پوريَ نفلي لمونځ مکروه دئ.

۳. د مازيگر له لمانځه څخه وروسته بيا تر لمر لوېدو پوري نفلي لمونځ مکروه دئ.

۴. کله چي خطيب د خطبې د ويلو له پاره راووزي بيا د خطبې تر پای ته رسېدو پوري نفلي لمونځ مکروه دئ.

۵. د اقامت کولو پر مهال،نفلي لمونځ مکروه دئ خو له دغه حکم څخه د سهار سنت مستثنی دئ، ځکه که د سړي يقين وي چي د امام سره دوهم رکعت نيولای سم د اقامت پر مهال بې له مکروه والي سنت کولای سي.

۶. د اختر تر لمانځه مخکي په عيدگاه او کور کي نفل کولای نه سي.

۷. د اختر تر لمانځه وروسته يوازي په عيدگاه کي نفل کولای نه سي، که د اختر تر لمانځه وروسته نفلي لمونځ په کور کي وکړي روا دي.

۸. که د وخت د تنگی له امله د فرضي لمونځ د قضا کېدو بېره وي نفلي لمونځ روا نه دئ.

۹. که ډوډی حاضره سوه او سړی وږی وو، ډوډی ته ډېر لېواله وو لمونځ نسته.

۱۰. کله چي د تشو او ډکو متيازو په وجه په تکليف وي لمونځ نسته، لمونځ مکروه دئ فرضي او نفلي يو حکم لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱. که داسي شی موجود وي چي د ده ذهن ئې بوخت ساتي عاجزی ته ئې تاوان رساوه لمونځ نسته.

۱۲. یوازي د حاجي له پاره پر عرفات د ماپښین او مازیګر د لمونځو په منځ کي لمونځ نسته.

۱۳. د ماښام او ماخستن په منځ کي په مزدلفه کي خاص د حاجیانو لپاره لمونځ نسته.

## د اذان او اقامت حکم

د فرضي لمونځو له پاره پر نارینه وو اذان موکد سنت دئ. د فرضي لمونځو له پاره اقامت پر نارینه وو موکد سنت دئ. فرق نه لري که سړی مقیم وي که مسافر وي، لمونځ په جماعت کوي که ئې یوازي کوي، د وخت لمونځ کوي که قضایي لمونځ کوي حکم ئې یو دئ.

**اذان په دغو الفاظو کیږي:**

اَللّٰهُ اَکبَرُ – اَللّٰهُ اَکبَرُ – اَللّٰهُ اَکبَرُ – اَللّٰهُ اَکبَرُ

ژباړه: الله تر ټولو لوی دئ.

اَشهَدُ اَن لَااِلَهَ اِلاَ اللّٰهُ – اَشهَدُ اَن لَااِلَهَ اِلاَ اللّٰهُ

ژباړه: زه شاهد یم یوازي یو الله د عبادت وړ دئ.

اَشهَد اَنَ مُحَمَداً رَسُولُ اللّٰه – اَشهَد اَنَ مُحَمَداً رَسُولُ اللّٰه

ژباړه: زه شاهد یم محمد د الله رسول دئ.

حَی عَلَی الصَلَوةِ – حَی عَلَی الصَلَوةِ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: د لمانځه لوري ته راسئ.

حَیَّ عَلَی الفَلاَحِ – حَیَّ عَلَی الفَلاَحِ

ژباړه: د خلاصون لوري ته راسئ.

اَللّٰهُ اَکبَرُ – اَللّٰهُ اَکبَرُ

ژباړه: الله تر ټولو لوی دئ.

لاَاِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ

ژباړه: يوازي الله د عبادت وړ دئ.

د سهار په اذان کې دي تر حی الفلاح وروسته دوه واره ووايي:

الصَّلوٰةُ خَیرٌ مِنَ النَّومِ – الصَّلوٰةُ خَیرٌ مِنَ النَّومِ

ژباړه: لمونځ تر خوب ډېر غوره دئ.

اقامت د آذان غوندي دئ خو تر حی علی الفلاح وروسته دوه واره:

قد قامت الصلوة – قد قامت الصلوة، ويل کېږي.

ژباړه: لمونځ درېدونکی دئ.

آذان په ځنډ، اقامت په تلوار کېږي.

آذان يوازي په عربي ژبه سهي دئ، که په بله ژبه آذان وسي سهي نه دئ که څوک په پوهېږي که نه په پوهېږي فرق نه لري، خبر او ناخبره يو دي.

# د آذان مستحبات

**په آذان کي لاندي کارونه مستحب (ښه) دي:**

۱. مؤذن به اودس لري.

۲. مؤذن به په سنتو او د لمانځه په وختو خبر وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳. مؤذن به صالح سړی وي.
۴. د آذان پر مهال به د قبلې خوا ته مخ کوي.
۵. دوې ګوتې به په غوږونو کې دننه کوي.
۶. کله چې حی علی الصلوة وایي مخ به د شمال (راسته اړخ ته) ګرځوي. د حی علی الفلاح پر مهال به مخ چپه خوا ته ګرځوي.
۷. د آذان او اقامت تر منځ به دومره فاصله راولي چې هغه کسان چې دوامداره جماعت ته حاضرېږي مسجد ته راسي که د وخت د تېرېدو ېېره وي، بیا دي لمونځ نه ځنډوي.
۸. د ماښام په وخت کې دي د درو لنډو آیاتو د لوستلو په اندازه فاصله ورکړي.
۹. ښه دا ده چې څوک آذان واوري خپل بوختیا دي پرېږدي هغه څه دي وایي چې مؤذن ئې وایي. کله چې مؤذن ووایي: حی علی الصلوة – حی علی الفلاح، ناست سړی دي ووایي: لَاَحولَ و لا قُوةَ اِلاَ بِاللهِ. ژباړه: راګرځېدنه او ځواک یوازې د الله له لوري دئ. کله چې موذن ووایي. الصلوة خیر من النوم. ناست سړی دي ووایي: صدقت و بررت، تا رشتیا او سم وویل.
۱۰. کله چې اذان پای ته ورسېږي موذن او اورېدونکی دي دا دعا وکړي: «اللّٰهُمَّ رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ، وَالصَّلَاةِ القَائِمَةِ، آتِ مُحَمَّداً الْوَسِيْلَةَ وَالْفَضِيْلَةَ، وَابْعَثْهُ مَقَاماً مَحْمُوْداً الَّذِيْ وَعَدْتَهُ اِنَکَ لاَ تُخْلِفَ الْمِيْعَادَ.»
۱۱. یا الله جل جلاله ! ددې کامل دعوت ، او قائم لمانځه څښتن، محمد ﷺ ته وسیله او فضیلت او لوړه درجه ورکړې، هغه محمود مقام ته ورسوې ،هغه مقام چې (تائې) وعدهٔ کړې ده. بېشکه ته وعده خلافي نه کوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هغه څه چي په آذان کي مکروه دي

**لاندي کارونه په آذان کي مکروه دي:**

۱. آذان په سندريز ډول کول (حروف د اواز تابع کول).

۲. بې اوداسه آذان او اقامت کول.

۳. په ناوليتوب آذان کول.

٤. د هغه کوچني آذان چي پوهه نه لري.

۵. د لېوني آذان.

٦. د نشه يي آذان.

۷. د ښځي آذان.

۸. د فاسق آذان.

۹. د ناست سړي آذان چي دربدلای نه سي.

۱۰. مؤذن ته مکروه ده چي د آذان يا اقامت په منځ کي خبري وکړي. که مؤذن د آذان په منځ کي خبري وکړې، ښه دا ده چي آذان بيرته را وګرځول سي. که د اقامت په منځ کي خبري وسي را ګرځول نه غواړي.

۱۱. په ښار کي مکروه ده چي د جمعې په ورځ د ماپښين د لمانځه له پاره اذان وسي. که د سړي څخه تر يوه زيات لمونځونه قضا سوي وي د لومړي لمانځه له پاره ئې آذان او اقامت وکړه په پاته لمونځو کي اختيار لري، يا دي د هر لمانځه له پاره آذان او اقامت وکړي، يا دي يوازي اقامت وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لمانځه د سهي کېدو شرطونه

دلته داسي شيان سته چي په لمانځه کي دننه نه دي، خو د لمانځه د سهي کېدو له پاره لازم دي. که په دوی کي يو پاته سي لمونځ نه سهي کېږي. دغه شيان د لمانځه د شرطو په نوم يادېږي، شمېر ئې شپږ دئ:

لومړی: پاکي، بې له پاکۍ څخه لمونځ روا نه دئ، له پاکۍ څخه مراد دا دئ چي سړی به له کوچنۍ او غټي بې اودسۍ څخه پاک وي او دومره مرداري به باندي نه وي چي د شريعت له خوا معاف نه بلل کېږي، جامې به ئې همدا ډول پاکي وي، د لمانځه کولو ځای به ئې پاک وي. د ځای په پاکوالي کي دومره ضروري ده، چي: د قدمو د ايښوولو، د لاسو د تکيه کولو، د تندي او زنګنو د ايښوولو ځايونه به پاک وي.

دوهم: د شرم ځای پټول. که سړی د عورت پټولو وس ولري پټ ئې نه کړه لمونځ ئې روا نه دئ، لازمه ده چي د لمانځه له پيل څخه تر پايه پوري به عورت پټ وي. که د اندام يوه څلورمه تر لمانځه مخکي لوڅوي لمونځ صحيح نه دئ. که د لمانځه په اوږدو کي د اندام يوه څلورمه برخه د يوې رکوع په اندازه ښکاره سي لمونځ له منځه ځي.

د نارينه عورت له نو (نامه) څخه د زنګون تر لاندي برخي پوري دئ، زنګون عورت دئ، (نو) عورت نه دئ.

د مينځي عورت له نو څخه د زنګون تر لاندي برخي پوري دئ، نس او شا ئې هم عورت دي. د آزادي ښځي ټوله بدن عورت دئ، يوازي ورغوي، قدمونه او مخ ئې عورت نه دي.

دريم: لمونځ کوونکي به قبلې ته به مخامخ درېږي. که څوک وس ولري خو مخ د قبلې لوري ته نه کړي لمونځ ئې روا نه دئ. د کعبې ذات د مکې د هغه اوسېدونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



له پاره قبله ده چي د کعبې د ليدلو امکان ولري. که څوک د کعبې (هغه خونه چي تور اطلس باندي هوار دئ) د ليدلو وس ونه لري د کعبې خوا د ده له پاره قبله ده. که څوک له مکې څخه ليري وي د هغه له پاره هم د کعبې لوری قبله ده.

که څوک ناروغه وي يا له دښمن څخه بېره ولري، ده ته روا ده چي هر لوري ته چي ده ته اسانه وي مخامخ سي، لمونځ وکړي.

څلورم: د لمانځه وخت شرط دئ، که د لمانځه وخت را رسېدلی نه وي لمونځ روا نه دئ. مخکي د وختو بيان په تفصيل سره تېر سو.

پنځم: نيت کول، بې له نيته لمونځ روا نه دئ. يعني که سړي فرضي لمونځ کاوه دا تعين به کوي، يعني کول ئې ضروري وي معلوموي به ئې چي د ماپښين لمونځ، يا د مازيګر لمونځ او داسي نور، که واجب وي همداسي ده بايد معلوم سي چي وتر کوم يا د اختر لمونځ کوم.

که نفلي وي تعين نه غواړي تش د مطلق لمانځه نيت دي وکړي، که سړي په امام پسي لمونځ کاوه هرومرو به د متابعت نيت کوي.

شپږم: لومړی الله اکبر ويل، له لومړي الله اکبر څخه مراد دا دئ چي لمونځ د الله په نوم پيل سي د مثال پر ډول اللّٰه اکبر، وَوايي يا الله اعظم ووايي، يا سبحان الله ووايي، د نيت او تکبير تر منځ به په بل کار سره فاصله نه راولي.

لومړی الله اکبر به رکوع ته تر کږېدو مخکي وي، روا نه ده چي نيت تر الله اکبر وروسته کړي، يا دا چي الله اکبر په نفس کي ووايي ژبي ته حرکت ور نه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هغه ځه چې د لمانځه په شرطو پورې اړه لري

که څوک داسې شی پیدا نه کړي چې مرداري په لیرې کړي، د مرداری سره دې لمونځ وکړي بیرته دې نه راګرځوي.

که چا کالي پیدا نه کړه چې خپل عورت په پټ کړي همدا ډول واښه او خټې ئې پیدا نه کړې لمونځ دې لوڅ ادا کړي، بیرته راګرځول نه غواړي.

که د چا د کالیو څلرمه برخه مرداره وي لوڅ لمونځ ورته روا نه دئ، که د چا کالي مردار وي ده ته په دغه مرداره جامه کې لمونځ کول تر لوڅ لمانځه فضیلت لري.

لوڅ سړی به په ناسته لمونځ کوي، پښې به ئې د قبلې لورې ته غځولې وي، رکوع او سجده دې په اشاره کوي.

روا ده چې سړی د مردار فرش پر پاکه څنډه لمونځ وکړي دا هغه مهال که فرش دومره وو چې د یوې څنډې په ښورولو سره هغه بله څنډه نه ښورېده.

پر هغه تخته چې لاندې برخه ئې مرداره سربېره خوا ئې پاکه وي لمونځ روا دئ.

که د سړي څخه د قبلې خوا ورکه سوه، دومره څوک نه وو چې د قبلې پوښتنه ځنې وکړي داسې نخښه نه وه چې د قبلې خوا په معلومه سي، سړی دې فکر وو هي پر هري خوا چې ئې د قبلې ګومان راغی لمونځ دې هغې خوا ته وکړي.

که ده په فکر کولو سره لمونځ ادا کړ وروسته معلومه سوه چې دی خطا وتلی دئ لمونځ روا دئ. که د لمانځه په منځ کې په خپلې خطا پوه سي د قبلې لوري ته دې راوګرځي خپل لمانځه ته دې ادامه ورکړي.

که د عورت بېلابېل ځایونه ښکاره وي دومره چې که سره یو ځای سي اندازه ئې یوه کوچنې اندام ته رسېدله، لمونځ سهي نه دئ، که کم وي لمونځ روا دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لمانځه رکنونه (داخلي فرضونه)

**د لمانځه رکنونه پنځه دي دا د لمانځه فرضونه هم دي:**

د دې رکنو څخه که چا یو رکن پرېښووی لمونځ روا نه دئ، که په سهواً او یا قصداً وي.

لومړی: ولاړه، که څوک د ولاړې وس ولري بې له ولاړې ئې لمونځ روا نه دئ. ولاړه په فرضي او واجب لمونځو کي فرض ده، په نفلي لمونځو کي فرض نه ده، روا ده چي سړی د ولاړې وس ولري خو نفلي لمونځ په ناسته وکړي.

دوهم: قرائت دئ، که څه هم یو لنډ ایات وي د فرضو ځای نیسي بې له قرائته لمونځ روا نه دئ. قرائت د فرضي لمانځه په دوو رکعتو کي فرض دئ. د واجب او نفلي لمونځو په ټولو رکعتو کي قرائت فرض دئ. که سړی مقتدی وي (په امام پسي ولاړ وي) قرائت ورته روا نه دئ.

دریم: رکوع، بې له رکوع لمونځ روا نه دئ.

څوک چي د سر ټيټولو وس ولري پر رکوع قادر ګڼل کېږي که څه هم دغه ټيټوالی په دومره اندازه وي چي د رکوع اصلي بڼې ته نژدې وي. خو بشپړه رکوع دا ده چي شا دومره کږه کړي چي سر د ورنو سره برابر سي.

څلورم: سجده، لمونځ بې له سجدې روا نه دئ په هر رکعت کي دوې سجدې ضروري دي. د سجدې دومره اندازه فرض ده چي تندی پر مځکه ولګېږي، یو لاس او یو زنګون او د دوو قدمو یوه برخه پر مځکه تکیه سي. بشپړه سجده دا ده چي دواړه لاسونه، دواړه زنګنونه، دواړه قدمونه، تندی او پزه پر مځکه کښېښوول سي.

سجده یوازي پر هغه شي سهي کېږي چي تندی دومره قرار باندي ولري که سجده کوونکی خپل تندی لاندي خوا ته کښېکاږي د ایښوولو تر وخت ئې سر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښېنه ولاړ نه سي سجده يې وازي پر پزه نه کېږي. که عذر ولري بيا سهي کېږي.

که سرې پر خپلو ورغوو سجده وکړه يا ئې د کاليو پر يوه برخه سجده وکړه سجده روا ده خو مکروه ده. د سجدې د سهي کېدو له پاره شرط دي چي د سجدې ځاى به د قدمو تر ځاى تر نيم شرعي گز (چي زموږ معاصر نژدې ۲۵ سانتي دئ) ډېر لوړ نه وي، که ډېر لوړ وي يوازي د گڼي گوڼي (ازدحام) پر مهال روا ده.

پنځم: وروستۍ ناسته د التحيات په اندازه فرض ده. ځينو فقهاوو دا هم فرض بللې ده چي لمونځ کوونکي به په يوه کړني سره ځان له لمانځه څخه باسي خو د محققينو پوهانو پر مسلک فرض نه بلکي واجب دي.

# د لمانځه واجبونه

لاندي کارونه په لمانځه کي واجب دي، که په سهوه پاته سي د سهوي سجده ضروري ده. که ئې څوک په قصدي توگه پرېږدي لمونځ دي له سره را وگرځوي، که ئې را ونه گرځوي گناه کاره دئ.

۱. واجبه ده چي خاص د الله اکبر په ويلو لمونځ پيل کړي.

۲. د فرضو په دوو لومړنيو او د وترا و نفلي لمونځ په ټولو رکعتو کي الحمد لله (فاتحه سورت) واجبه ده.

۳. د فرضو په دوو لومړيو، د وترو او نفلو په ټولو رکعتو کي د الحمد لله (فاتحه سورت) سره لنډ سورت يا درې کوچني اياتونه يو ځاى کول واجب دي.

۴. سورت بايد تر الحمد لله وروسته وويل سي.

۵. دوهمه سجده به تر لومړۍ سجدې وروسته متصله وي.

۶. ټول فرضي رکنونه به په آرامۍ ادا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷. لومړۍ ناسته به د التحیات په اندازه کوي.

۸. په لومړۍ او دوهمه ناسته کي التحیات ویل واجب ده.

۹. کله چي په لومړۍ ناسته کي له التحیات څخه فارغه سي سمدستي دي ولاړ سي، ځنډ دي نه کوي.

۱۰. د سلام په دوه واره ویلو سره به ځان له لمانځه څخه باسي.

۱۱. کله چي د وترو په دریم رکعت کي له الحمدلله او سورت څخه فارغ سي دعا قنوت (اللهم انا) به وایي.

۱۲. د اختر په لمانځه کي به زوائد تکبیرونه وایي، زوائد تکبیرونه شپږ دي، په هر رکعت کي درې درې ویل کېږي.

۱۳. د اختر په لمانځه کي د رکوع له پاره تکبیر ویل.

۱۴. واجبه ده چي امام د سهار په دوو رکعتو کي د ماښام، ماخستن، جمعې، اخترونو، تراویح او د روژې د وترو په لومړیو دوو رکعتو کي قرائت په لوړ آواز ووایي. په دغو پورتنیو رکعتو کي هغه څوک اختیار لري چي لمونځ یوازي کوي که ئې خوښه وه قرائت دي په زوره که نه کرار دې ووایي. ښه دا ده چي په زوره ئې ووایي.

۱۵. امام او هغه څوک چي لمونځ یوازي کوي د ماپښین او مازیګر په ټولو رکعتو کي د ماښام په وروستي یوه رکعت کي، د ماخستن په دوو وروستیو رکعتو کي او د نفلي لمانځه په ټولو رکعتو کي به قرائت کرار وایي. که څوک د ماخستن په دوو لومړیو رکعتو کي سورت پرېږدي په دوو وروستیو رکعتو کي دې د الحمدلله سره یو ځای ووایي د سهوي سجده دي وکړي. که څوک په لومړیو دوو رکعتو کي الحمدلله ونه وایي، په دوو وروستیو رکعتو کي دې نه وایي بلکي د سهوي سجده دي وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لمانځه سنتونه

لاندي کارونه په لمانځه کي سنت دي، باید پام ورته وسي تر څو لمونځ په بشپړه توګه ادا سي، ځکه رسول ﷺ وویل: (صَلّوا کَمَا رَأیتُمُونِي اُصَلِّي) "لمونځ داغه ډول ادا کوئ لکه زه چي مو ولیدلم چي لمونځ مي ادا کړ".

۱. د لومړي الله اکبر د ویلو پر مهال به سیده دریږي سر به نه ټیټوي.

۲. د الله اکبر تر ویلو مخکي به د غوږونو برابرۍ ته لاسونه[۱۶] پورته کوي.

۳. د ورغوو او ګوتو د نس خوا به د لاسو د پورته کولو پر مهال قبلې ته مخامخ کوي.

۴. د لاسو د پورته کولو پر مهال به ګوتي پر خپل حال پرېږدي، نه دي په بشپړه ډول غوړوي نه دي ټولوي.

۵. راسته لاس دي پر چپه لاس تر نامه لاندي کښېږدئ.

۶. د راسته لاس د نس (لاندي) خوا دي د چپه لاس پر سربېرني خوا کښېږدي، د چپه لاس پر بند دي د راسته لاس بټه او خمچۍ ګوته حلقه کړي.

۷. کله چي لاسونه تر نامه لاندي کښېږدي سملاسي دي سبحانک اللهم ووایي.

**سبحانک اللهم دا ډول ویل کېږي:**

سُبحانَکَ اللهُمَ و بِحَمدِکَ و تَبارَکَ اسمُکَ و تَعَالی جَدُکَ ولااله غَیرُکَ.

ژباړه: اې الله! ته پاک يې، تا ته حمد دئ، ستا نوم مبارک دئ، ستا شان لوړ دئ، له تا پرته بل معبود نسته.

---

[۱۶] ښځه دي تر لومړي الله اکبر مخکي دواړه لاسونه تر اوږو پوري پورته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸. د الحمدلله تر ویلو مخکي به اعوذبالله من الشیطن الرجیم وایي[۱۷].

۹. په هر رکعت کي دي تر الحمدلله مخکي بسم الله الرحمن الرحیم وایي.

۱۰. کله چي له الحمدلله څخه فارغه سي په ټیټ اواز دي امین ووایي.

۱۱. د خپلو قدمونو تر منځ دي د څلورو ګوتو په مصافه مسافه فاصله راولي.

۱۲. د ماپښین او سهار په لمونځو کي دي تر الحمدلله وروسته له طوال مفصل[۱۸] سورتو څخه یو سورت ووایي. د مازیګر او ماخستن په لمونځو کي دي اوساط مفصل[۱۹] سورت ووایي، په ماښام کي دي له قصار مفصل[۲۰] څخه یو سورت ووایي.

۱۳. یوازي د سهار په لمانځه کي دي لومړی رکعت اوږد وي.

۱۴. د رکوع له پاره الله اکبر ویل.

۱۵. د رکوع پر مهال دي زنګنونه په لاسونو ټینګ ونیسي، ګوتي دي سره بېلي کړي.

۱۶. په رکوع کي دي شا وغوړوي، سر دي د ورنو سره برابر کړي، د رکوع پر مهال به خپلي پنډۍ سیده دروي.

۱۷. په رکوع کي دي سبحان ربی العظیم دري واره ووایي، دري واره کمه اندازه ده

۱۸. د رکوع پر مهال دي نارینه لاسونه له اړخونو څخه لیري کوي.

۱۹. امام به د رکوع څخه د پورته کېدو پر مهال سمع الله لمن حمده وایي، ژباړه: څوک چي د الله ستاینه کوي الله ئې اوري. مقتدی به په ټیټ آواز ربنالک الحمد وایي، ژباړه: اې زموږ ربه تا لره ستاینه ده. څوک چي لمونځ یوازي کوي دواړه به وایي.

---

[۱۷] مقتدی به اعوذبالله او بسم الله نه وایي او مسبوق به په هغه لومړي رکعت کي چي د امام تر سلام ګرځولو وروسته ئې کوي اعوذ بالله او بسم الله وایي.

[۱۸] طوال المفصل هغه سورتونه دي چي له الحجرات سورت څخه تر البروج پوري دي.

[۱۹] اوساط المفصل له البروج څخه تر لم یکن الذی پوري دي.

[۲۰] قطار المفصل له لم یکن الذي څخه تر الناس پوري دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰. د سجدې له پاره تکبیر ویل سنت دئ.

۲۱. د سجدې پر مهال به لومړی زنګنونه، بیا لاسونه، وروسته مخ پر مځکه ایږدي.

۲۲. د سجدې څخه د راپورته کېدو پر مهال دي لومړی مخ، بیا لاسونه، وروسته زنګنونه راپورته کړي.

۲۳. د سجدې پر مهال دي مخ د دوو ورغوو په منځ کي کښېږدي.

۲۴. نس دي له ورنو څخه، څنګلي دي له بغلو څخه، مړوندونه دي له مځکي څخه لیري کوي.

۲۵. د سجدې پر مهال به ګوتي جوړه کوي.

۲۶. د سجدې پر مهال به د پښو ګوتي قبلې ته مخامخ کوي.

۲۷. په سجده کي به سبحان ربی الاعلی وایي، کمه اندازه ئې درې واره ده.

۲۸. کله چي له سجدې څخه پورته کېږي الله اکبر به وایي.

۲۹. سجدې ته چي ځي کښېني دي نه، پر مځکه دي تکیه نه کوي که عذر ولري تکیه پروا نه لري.

۳۰. د دوو سجدو تر منځ دي لاسونه پر زنګنو داسي کښېږدي لکه د التحیات د ویلو پر مهال چي ئې ایږدي.

۳۱. په لومړۍ او وروستۍ ناسته کي دي چپه پښه وغوړوي، راسته پښه دي ودروي[۲۱].

۳۲. د التحیات د ویلو پر مهال دي د لااله د لوستلو پر مهال دي د شهادت ګوته پورته کړي. د الا الله د ویلو پر مهال دې کښته کړي.

۳۳. د ماپښین، مازیګر، ماخستن په دوو وروستیو رکعتو کي د ماښام په یوه اخر رکعت کي دي الحمدلله ووایي.

---

[۲۱] ښځه دي پر ورانه کښېني او پښه دي د راسته ورانه لوري ته وباسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۳۴. په وروستۍ ناسته کي دي تر التحيات وروسته درود ووايي.

۳۵. تر درود وروسته دي د ځان له پاره دعا وکړي. د رانقل سوو دعاوو څخه يوه دا ده:

«اللَّهُمَّ إِنِّيْ ظَلَمْتُ نَفْسِيْ ظُلْماً كَثِيْراً، وَلاَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ إِلاَّ أَنْتَ، فَاغْفِرْ لِيْ مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ وَارْحَمْنِيْ إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ»

ژباړه: اې الله! ما پر خپل ځان ډېر ظلم کړی دئ. له تا چپه بل څوک گناهونه نه بخښي، ما ته بخښنه وکړه، پر ما رحم وکړه، ته بخښونکی او مهربانه يې.

۳۶. د السلام عليكم ورحمة الله د ويلو پر مهال به يو وار راسته بيا چپه خوا ته مخ اړوي.

۳۷. د انتقال الله اکبرونه به امام په زوره، مقتدي به ئې قرار وايي.

۳۸. امام به السلام عليكم ورحمة الله په زوره وايي، مقتدی به ئې کرار وايي.

۳۹. امام به د سلام پر مهال د خلکو او ملايکو او مسلمان پېرانانو نيت کوي. مقتدی به د امام، موجوده خلکو نيت کوي د امام نيت دي هغه مهال وکړي چي د امام لوري ته مخ اړوي. څوک چي لمونځ يوازي کوي يوازي به د ملايکو نيت کوي.

۴۰. تر لومړي سلام به د دوهم سلام آواز کښته کوي.

۴۱. لومړی به سلام راسته خوا ته گرځوي.

۴۲. مقتدي به د امام سره يو ځای سلام گرځوي.

۴۳. مسبوق (چي د لمانځه سر ځني تېر سوی وي) به انتظار کوي، تر څو امام دواړو خواوو ته سلام گرځوي چي امام له دواړو سلامو څخه فارغه سوی نه وي مسبوق به نه ولاړيږي.

## د لمانځه مستحبات

لاندي کارونه په لمانځه کي مستحب دي، بايد پام ورته وسي تر څو لمونځ په بشپړه توگه ادا سي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. سړی به خپل لاسونه د لومړي الله اکبر پر مهال له پټو (دوپټې) څخه دباندي باسي همدا ډول له لستوڼي څخه هم راباسي، ښځه دې نه راباسي.
۲. لمونځ کوونکی به د ولاړي پر مهال د سجدې ځای ته ګوري.
۳. د رکوع پر مهال به د خپلو قدمو سربېرني برخي ته ګوري.
۴. د سجدې پر مهال به د خپلي پزې نرمیو ته ګوري.
۵. د ناستي پر مهال به خپلي سینې ته ګوري.
۶. د سلام ګرځولو پر مهال به خپلو اوږو ته ګوري.
۷. تر خپله وسه پوري به د ټوخي او ارږمۍ مخ نیسي.
۸. که اړتیا وه د ارږمۍ پر مهال به لستوڼی پر خوله ایږدي.
۹. په لومړۍ او دوهمه ناسته کي به هغه التحیات وایي چي له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه نقل سوې ده.
۱۰. یوازې په وترو کي به اللهم انا نستعینک وایي.

# د لمانځه فاسدوونکي

**که د لمانځه په بهیر کي په لاندي شیانو کي یو شی منځ ته راغی لمونځ فاسدېږي:**

۱. که د لمانځه له شرطو څخه یو شرط پاته سي.
۲. که د لمانځه له داخلي فرضو (رکنونو) څخه یو فرض پاته سي.
۳. که دلمانځه په بهیر کي خبري وکړي، قصدي خبري او په سهوه خبري یو حکم لري.
۴. که په لمانځه کي داسي دعا وکړي چي د خلکو خبرو ته ورته وي د سازي په توګه ووایي: اې الله! ما ته فلانۍ ښځه په نکاح راکړه، ما ته سیب راکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵. کله چي يو چا ته سلام ووايي، يا د سلام جواب ووايي. يا لاسي روغبړ وکړي په دې هکله قصد او سهوه يو حکم لري. که د سلام جواب په اشاره سره وي لمونځ فاسد نه ګرځي.

۶. کله چي په لمانځه کي عمل کثير تر سره کړي[۲۲].

۷. کله چي سينه د قبلې له لوري څخه وګرځوي[۲۳].

۸. کله چي خوراک، څښاک وکړي فرق نه کوي که خوړل سوی او څښل سوی شی لږ وي.

۹. کله چي په غاښو کي بند سوی شی د نخود په اندازه وي وخوړل سي.

۱۰. کله چي بې له اړتيا غاړي تازه کړي (ستوني پاک کړي).

۱۱. کله چي آه اوه او څګېروی وکړي دا هغه مهال که دغه آه او فرياد د الله له بېري نه وي. له دې حکم څخه ناروغ وتلی دئ ځکه ناروغ وس نه لري چي خپل څګېروی ودروي.

۱۲. کله چي په لوړ آواز وژاړي، له درد او معصيت څخه لمونځ فاسد يږي، خو که ژړا د الله له بېري، د جنت او دوږخ له يادېدو څخه وي، لمونځ فاسد نه ګرځي.

۱۳. کله چي د يوې رکوع په اندازه د لمونځ کوونکي عورت ښکاره پاته سي.

۱۴. کله چي د لمونځ کوونکي پر بدن، کاليو يا د لمانځه پر ځای مرداري موجوده وي.

۱۵. که لمونځ کوونکی لېونی سو لمونځ فاسد دئ.

۱۶. که لمونځ کوونکی بې سده (بې هوښه) سو لمونځ فاسد دئ.

۱۷. که د سهار د لمانځه پر مهال لمر راوختی لمونځ فاسد دئ.

---

(۲۲) عمل کثير دا دئ چي کتوونکی غالب ګمان کوي چي دغه لمونځ کوونکي په لمانځه کي نه دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۸. که د اختر په لمانځه کي لمر تر سر واوښتی (زوال ته ورسېدی) لمونځ فاسد دئ.

۱۹. که د جمعې د لمانځه پر مهال د مازیګر وخت داخل سو لمونځ فاسد دئ.

۲۰. که لمونځ کوونکي تیمم وهلی وو اوس ئې اوبه پیدا کړې، د استعمالو لو قدرت ئې درلودی لمونځ فاسد دئ.

۲۱. که د لمونځ کوونکي یاد بل چا په کړنه اودس مات سي لمونځ فاسد دئ.

۲۲. کله چي د الله اکبر همزه کش کړي مد ورکړي، لمونځ فاسد دئ.

۲۳. کله چي د قرآن له پاڼو څخه قرائت ووایي لمونځ فاسد دئ.

۲۴. کله چي د خوب په حالت کي د لمانځه یو رکن ادا کړي د بیرته ویښېدو پر مهال ئې بیرته راونه ګرځوي لمونځ فاسد دئ.

۲۵. که پر لمونځ کوونکي تر پنځه لمونځو کم قضایي لمونځونه پاته وي اوس ئې د لمانځه په بهیر کي یاد سي لمونځ فاسد دئ.

۲۶. که امام داسي څوک خلیفه وګرځوي چي د خلافت وړتیا ونه لري لمونځ فاسد دئ.

۲۷. کله چي لمونځ کوونکی ګومان وکړي چي ما ته بې اودسي پېښه سوه له مسجد څخه ووزي تر صفونو تېر سي یا د مسجد تر پایو تېر سي لمونځ فاسد دئ.

۲۸. کله چي په لمانځه کي داسي وخاندي چي اواز ولري لمونځ فاسد دئ.

۲۹. کله چي د لمانځه په منځ کي ئې موزه وخېژي لمونځ فاسد دئ.

۳۰. که مقتدي تر امام یو رکن داسي مخکي وکړ لکه ورسره شریک چي نه وي. د ساري په توګه مقتدي تر امام مخکي رکوع وکړه، له رکوع څخه تر امام مخکي سر پورته کړي بیرته رکوع ته ونه ګرځي لمونځ فاسد دئ.

۳۱. د لمانځه په منځ کي ئې ښځي ته وکتل جنابت ورپېښ سو یا د فکر کولو له امله ناولی سو لمونځ فاسد دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هغه څه چې لمونځ نه فاسدوي

**لاندې شيان لمونځ نه فاسدوي:**

۱. کله چې په سهو سلام وګرځوي.

۲. کله چې يو څوک د ده مخ ته تېر سي.

۳. کله چې په غاښونو کې بند شي وخوړل سي اندازه ئې تر يوه نخود کمه وي.

۴. کله چې يو ليک ته وګوري، خو وه ئې نه فهموي.

# هغه څه چې په لمانځه کې مکروه دي

لاندې کارونه په لمانځه کې مکروه دي، بايد ډډه ځني وسي تر څو په لمانځه کې کمی را نه سي:

۱. د لمانځه سنت کار قصداً پرېښوول.

۲. په کاليو او بدن لوبې کول.

۳. په هغه خوارو کاليو کې لمونځ کول چې د درنو خلکو په مخ کې هغه ډول کالي نه اغوندي.

۴. په لمانځه کې شي ته تکيه وهل.

۵. بې له اړتيا چپه او راسته خوا ته غاړه ګرځول.

۶. په داسې ډول لمونځ کول چې انسان ئې مخ ته ناست وي.

۷. کله چې د صحرا ګښت ضرورت وي (او دس درونډ وي).

۸. د بل چا په مځکه کې د هغه له خوښې چپه لمونځ کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹. اور ته مخامخ لمونځ کول، یا داسي تنور ته لمونځ کول چي اور پکښي بل وي.
۱۰. په سپک ځای لکه حمام او تشناب کي لمونځ کول.
۱۱. پر لاري لمونځ کول.
۱۲. په هدیره کي لمونځ کول.
۱۳. مرداری ته نژدي لمونځ کول.
۱۴. د مرداری د هغي اندازي سره لمونځ کول چي معاف وي، (لږ وي) او عذر موجود نه وي.
۱۵. په هغه کالیو کي لمونځ کول چي د ساه لرونکو موجوداتو تصویر ولري.
۱۶. په هغه ځای کي لمونځ کول چي تصویر پکښي موجود وي. تصویر که لوړ، کښته او مخته وي یو حکم لري[۲۴].
۱۷. په ګوتو ټکان کول.
۱۸. ګوتي سره بندول.
۱۹. بې له عذره چارزانو کښېناستل.
۲۰. پرورنو کښېناستل.
۲۱. په سجده کي مړوندونه پر مځکه ایښوول.
۲۲. پر تشو باندي لاس نه نیول.
۲۳. له مړوندو څخه لستوڼي پورته کول.
۲۴. یوازي په یوه پرتوګ کي لمونځ کول او حال دا چي د قمیص اغوستلو وس ولري.
۲۵. بې فایدې او بې له عذر لوڅ سر لمونځ کول[۲۵].
۲۶. په صف کي ځای موجود وي خو سړی تر شا ودرېږي.

---

[۲۴] که تصویر دومره کوچنی وي چي ولاړ سړی ئې نه سي سهي کولای، یا ئې سر پرې وي، یا د بې روحه شی تصویر وي لمونځ مکروه نه دئ.

[۲۵] که عذر ولري او یا د عاجزی له امله په لوڅ سر لمونځ وسي مکروه نه دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۷. تسبیحات او ایاتونه په ګوتو شمېرل.
۲۸. د لمانځه په بهیر کې له مخ څخه هغه خاوره پاکول چې د ه ته تکلیف نه رسوي.
۲۹. بې له عذره یوازې پر تندې سجده کول.
۳۰. که وږی وي د ډوډۍ په وړاندې لمونځ کول.
۳۱. د لمانځه له پاره داسې یو سورت ټاکل چې په لمانځه کې له دې سورت څخه چپه بل سورت نه وایي.
۳۲. که د سږي سورتونه یاد وي د فرضي لمانځه په دوو لومړیو رکعتو کې یو سورت مکرر ویل.
۳۳. په قصدي توګه په فرضي لمونځو کې د سورتونو د ترتیب څخه مخالف سورتونه ویل.
۳۴. دوهم رکعت تر لومړي رکعت ډېر اوږدول.
۳۵. په سجده او نورو کې د ګوتو سرونه د قبلې څخه بلې خوا ته ګرځول.
۳۶. د لنګوټې پر وَل یا د ساه لرونکي شي پر تصویر سجده کول.
۳۷. په فرضي لمانځه کې دوه داسې سورتونه لوستل چې په منځ کې یو کوچنی سورت پرېږدي. د بېلګې په توګه په لومړي رکعت کې التکاثر سورت ووایي په دوهم رکعت کې هُمَزة سورت ووایي، خو په منځ کې العصر سورت پرېږدي.
۳۸. په رکوع کې لاسونه پر زنګنو نه ایښوول.
۳۹. د التحیات پر مهال پر ورنو لاسونه نه ایښوول همدا ډول د دوو سجدو تر منځ لاسونه پر ورنو نه ایښوول.
۴۰. ارږمی کښنل. که ارږمی غلبه وکړه د راسته لاس چپه خوا دې پر خوله کښېږدي.
۴۱. په اشاره د سلام جواب ورکول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۲. شپږه نیول او وژل.

۴۳. په داسي حال کي لمونځ کول چي ورېښتان ئې د مخ او شا لوري ته تړلي وي.

۴۴. په داسي حال کي لمونځ کول چي سر ئې په دسمال تړلی وي، د سر منځ ئې لوڅ پرې ایښی وي.

۴۵. د رکوع او سجدې پر مهال کالي راټولول تر څو په خاورو ککړ نه سي.

۴۶. جامه (دوبټه، صدری، چپنه) پر ځان ځړول چي یوه څنډه ئې پر ده پرته وي بله څنډه ئې لاندي ځړېږي.

۴۷. پرتوګ، لنګ دومره کښته کول چي بجلکي پټي کړي.

۴۸. قرائت بشپړ سوی نه وي رکوع ته ولاړ سي هلته په رکوع کي قرائت پوره کړي.

۴۹. بې له عذره امام په پوره ډول په محراب کي دننه درېدل[۲۶].

۵۰. چي امام یو شرعي ګز یوازي پر لوړ ځای، مقتدیان کښته ولاړ وي لمونځ مکروه دئ، که یو مقتدی هلته لوړ ورسره ولاړ وي بیا پروا نه لري لمونځ مکروه نه دئ.

۵۱. بې فایدې سترګي پټول[۲۷].

۵۲. د لمانځه پر مهال اسمان ته کتل.

# هغه څه چي په لمانځه کي مکروه نه دي

**لاندي کارونه په لمانځه کي مکروه نه دي:**

۱. یوازي سترګي شا و خوا اړول چي مخ ورسره و نه ګرځول سي.

---

[۲۶] که امام له محراب څخه دباندي وي سجده په محراب کي کوي، یا د ځای د تنګوالي له امله دننه په محراب کي ودرېږي پروا نه لري.

[۲۷] که سترګي د ډېري عاجزی له امله پټي کړي مکروه نه دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲. قرآن ته مخامخ لمونځ کول.

۳. د هغه سړي شا ته لمونځ کول چې خبرې کوي.

۴. قندیل، څراغ ته مخامخ لمونځ کول.

۵. په نفلي لمانځه کې یو سورت مکرر ویل.

۶. کله چې له لمانځه څخه فارغه سې له تندي څخه خاشې او خاوره پاکول. که په لمانځه کې د سړي ذهن په مصروفېدی هم ئې لیرې کولای سي.

۷. د مار او یا لړم وژل که ئې له ضرر څخه بېرېدی.

۸. کالي له ځان څخه جلا کول تر څو د رکوع او سجدې پر مهال په بدن پوري ونه موښلي.

۹. پر هغه فرش لمونځ کول چې د ساه لرونکو تصویر ولري. خو سجده د تصویر پر ځای ونه کړي.

۱۰. راځړېدلي توري ته مخامخ لمونځ کول.

# د لمانځه د ادا کولو ډول

کله چې ته د لمونځ کولو اراده وکړې ودرېږه، خپل ورغوي د غوږو تر برابرۍ پوري پورته کړه، د لمانځه نیت وکړه بیا الله اکبر ووایه.

وروسته راسته لاس پر چپه لاس تر نامه لاندي کښېږده، ځنګه مه پکښې کوه، وروسته په ټیټ اواز سُبحانَکَ اللهُمَ و بِحَمدِکَ و تَبارَکَ اسمُکَ و تَعالی جَدُکَ ولااِلهَ غَیرُکَ. ووایه، بیا اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّیْطَانِ الرَّجِیْم [۲۸] او بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ

[۲۸] مقتدی به بسم الله او اعوذ بالله نه وایي، منفرد او امام به په ټولو رکعتونو کي تر الحمد الله مخکي بسم الله وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الرَّحِيْم ووايه، وروسته د فاتحې سورت اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ووايه، په پای کي له ځان سره پټ امين ووايه. بيا وروسته درې لنډ آياتونه ووايه، يو اوږد ايات هم کفايت کوي.

بيا د الله اکبر په ملتيا رکوع ته ولاړ سه، په داسي حال کي چي سر به دي د ورنو سره برابر وي زنګنونه دي په لاسو ونيسه، ګوتي دي خلاصي کړه، په رکوع کي درې واره سبحان ربی العظيم ووايه، وروسته د سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَه په ويلو سره سر پورته کړه، رَبَّنَا لَكَ الْحَمْد هم ورسره ووايه.

که سړی مقتدي وي (په امام پسي ولاړ وي) يوازي رَبَّنَا لَكَ الْحَمْد کفايت کوي[٢٩]. وروسته آرام ودرېږه، وروسته الله اکبر ووايه سجدې ته ولاړ سه.

زنګنونه پر مځکه کښېږده بيا لاسونه کښېږده، مخ د ورغوو په منځ کي پر مځکه کښېږده، په آرامۍ سجده وکړه، پزه او تندی ولګوه.

نس له ورنو[٣٠] څخه ليري ولره، څنګلي له بغلو څخه ګوښه ولره. دا هغه مهال که ګڼه ګوڼه (ازدحام) نه وو، د خپلو لاسو او پښو ګوتي قبلې ته مخامخ کړه. په سجده کي درې واره سبحان ربی الاعلی ووايه. درې واري کمه اندازه ده.

وروسته الله اکبر ووايه، له لومړۍ سجدې څخه سر پورته کړه، د دوو سجدو تر منځ سپکه آرامه ناسته وکړه، لاسونه پر ورنو کښېږده بيا الله اکبر ووايه بيا دوهمه سجده وکړه، کم تر کمه درې واره سبحان ربی الاعلی ووايه.

وروسته الله اکبر ووايه، پورته سه ودرېږه، پر مځکه لاسونه مه تکيه کوه، مه کښېنه لومړۍ رکعت بشپړ سو.

په دوهم رکعت کي هغه اعمال تر سره کړه چي په لومړي رکعت کي دي تر سره

---

[٢٩] امام به سميع الله لمن حمده وايي او مقتدی به ربنا لک الحمد وايي خو منفرد به دواړه وايي.

[٣٠] ښځه به خپل نس په ورنو پوري موښلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي وه. دومره ده چي غوړېو ته لاسونه مه پورته کوه، سبحانک اللهم مه پکښې وایه، اعوذباللّٰه مه وایه.

کله چي له دوهم رکعت څخه فارغه سوې چپه پښه وغوړوه پر کښېنه، راسته پښه جګه ودروه، ګوتي ئې د قبلې لوري ته کړه. لاسونه پر ورنو کښېږده، ګوتي وغوړوه.

وروسته هغه التحیات ووایه چي له عبداللّٰه بن مسعود ﷺ څخه نقل سوې ده.

دغه التحیات په دې ډول ده:

[اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَ الصَّلَوَاتُ وَ الطَّيِّبَاتُ، اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَ رَحْمَةُ اللّٰهِ وَ بَرَكَاتُهُ. اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَ عَلَي عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِيْنَ. اَشْهَدُ اَنْ لاَّ اِلَهَ اِلاَّ اللّٰهُ وَ اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَ رَسُوْلُهُ. ]

ژباړه: ژبنيز، بدني، مالي عبادتونه د اللّٰه له پاره دي، اې پیغمبره! پر تا دي د اللّٰه مهرباني او برکت وي. پر موږ او صالحو بندګانو دي د اللّٰه سلامتیا وي، زه شاهد یم چي یوازي یو اللّٰه د عبادت وړ دئ او محمد ﷺ د اللّٰه بنده او رسول دئ.

د لااله پر مهال د شهادت ګوته پورته کړه، د الا اللّٰه پر مهال ګوته کښته کړه. که لمونځ دوه رکعتیز وي لکه د سهار لمونځ تر التحیات وروسته درود ووایه، درود په دې ډول دئ:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَي مُحَمَّدٍ وَ عَلَي آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَي اِبْرَاهِيْمَ وَ عَلَي آلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْد.

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلَي مُحَمَّدٍ وَ عَلَي آلِ مَحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَي اِبْراهِيْمَ وَ عَلَي آلِ اِبْراهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْد

ژباړه: اې اللّٰه! پر محمد ﷺ او د ده پر کورنۍ رحم وکړه لکه پر ابراهیم علیه السلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د هغه پر کورنۍ چې دي رحم کړی وو، ته حمید او مجید ذات یې.

اې الله! پر محمد ﷺ برکت راوله د ده پر کورنۍ برکت راوله لکه پر ابراهیم علیه السلام او د هغه پر کورنۍ چې دي برکت راوستی وو ته حمید او مجید ذات یې.

وروسته داسي دعا وکړه چې په قران یا سنت کي راغلې وي. لکه اللهم ربنا اتنا فی الدنیا حسنة و فی الاخرة حسنة و قنا عذاب النار.

ژباړه: اې زموږ ربه! موږ ته په دنیا او آخرت کي ښکېي نصیب کړه موږ د اور له عذاب څخه وساته.

وروسته دوه واره راسته طرف ته مخ وګرځوه السلام علیکم ورحمة الله ووایه بیا چپه طرف ته مخ وګرځوه السلام علیکم ورحمة الله ووایه په دواړو سلامو کي د موجوده لمونځ کوونکو، ملایکو او مسلمان پېرانانو نیت وکړه.

که لمونځ درې رکعتیزه یا څلور رکعتیزه وي په لومړۍ ناسته کي تر التحیات زیاتوالی مه کوه، بلکي کله چې له التحیات څخه فارغه سې الله اکبر ووایه ولاړ سه په دریم رکعت یوازي فاتحه سورت ووایه لکه د ماښام لمونځ.

که لمونځ څلور رکعتیزه وي لکه د ماپښین یا مازدیګر لمونځ په دوو اخیرو رکعتو کي یوازي الحمدلله ووایه.

رکوع او سجده وکړه وروسته په پای کي کښېنه التحیات، درود او دعا ووایه بیان ئې تېر سو.

# د جماعت د لمانځه فضیلت

الله جل جلاله ویلي دي: وَٱرۡكَعُواْ مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ﴿٤٣﴾ [البقره: ۴۳]

د رکوع کوونکو سره رکوع وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول اکرم ﷺ ویلي دي:

( صَلْواةُ الجَمَاعةِ تَفضُلُ الصلوة الفذِ بِسَبعٍ وَ عِشرِينَ دَرَجَةً(۳۱))

پر یوازي لمانځه د جماعت لمونځ اووه ویشت درجې ثواب لري.

رسول علیه السلام د خپل ژوند په اوږدو کي پر جماعت همېشه توب کړی وو، نادر وخت که ئې پرې ایښی وي، که نه په ناروغی کي هم جماعت ته حاضرېدی.

اصحابو پر جماعت ټینګار کاوه، یوازي عذر لرونکي یا هغه منافق به جماعت ته نه حاضرېدی چي منافقت به ئې ښکاره وو.

له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت نقل سوی دئ، چي:

موږ داسي ګڼل چي معلوم الحاله منافق او ناروغ د جماعت لمانځه ته نه حاضرېږي. ځیني وخت به ناروغ پر دوو کسانو تکیه کړې وه جماعت ته به حاضر سو.

ده وویل: رسول علیه السلام موږ ته د هدایت سنتونه ښوولي وه په هغوی کي دا هم وه چي باید لمونځ په هغه مسجد کي ادا کړل سي چي اذان پکښې کېږي.

جماعت هغه تړاو دئ چي د مقتدي او امام تر منځ موجود وي، جماعت هغه مهال ادا کېږي چي له امامه چپه یو کس بل موجود وي، خو د جمعې د لمانځه له پاره یو کس کفایت نه کوي.

د جمعې له پاره له امامه چپه دري کسان نور ضروري دي.

(۳۱) رواه مسلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جماعت د لمانځه حکم

د نارینه وو له پاره د پنځګونو لمونځو له پاره جماعت دومره ټینګ سنت دئ چې واجب ته ورته دئ.

یوازې د شرعي عذر پر مهال جماعت پرېښوول پروا نه لري. که څوک بې له عذره د جماعت پرېښوولو عادت ولري ګناه کار دئ. د جمعې او اختر د لمانځه له پاره جماعت شرط دئ. بې له جماعته نه سهي کېږي.

د تراویح او د لمر د تورېدو د لمونځو له پاره جماعت موکد کفایي سنت دئ. د روژې په میاشت کې د وترو له پاره جماعت مستحب دئ. بې له روژې په دوامداره توګه وتر په جماعت کول تنزیهي مکروه دئ. که یو او دوه واره ئې په جماعت ادا کړي پروا نه لري.

که د نفلي لمانځه د جماعت له پاره خلک راوغوښتل سي بیا په جماعت وسي مکروه دئ، خو که خلک خپله جمع سوی وه بې له راغوښتلو او اعلان څخه ئې نفل په جماعت وکړل، دغه جماعت بې له اذان او اقامت څخه وو نو مکروه نه دئ.

د کلي کوم مسجد چې امام او اذان ولري دوهم جماعت پکښې مکروه دئ، دا هغه مهال که د کلي اوسېدونکو جماعت کړی وو.

خو که دوهم جماعت له لومړي جماعت څخه په جلا بڼه وسي د بېلګې په ډول د دوهم جماعت امام د لومړي امام له ځایه چپه پر بل ځای ودرېږي بیا مکروه نه دئ.

# جماعت چا له پاره سنت دئ؟

په کومو کسانو کې چې لاندې شرطونه موجود وي جماعت د هغوی له پاره دومره ټینګ سنت دئ چې واجب ته ورته دئ:

۱. نارینه به وي، د ښځي له پاره سنت نه دئ.
۲. لوی به وي، د کوچني له پاره سنت نه دئ.
۳. عاقل به وي، د لېوني له پاره سنت نه دئ.
۴. عذر به نه لري، د معذور له پاره سنت نه دئ.
۵. ازاد به وي، د مريي له پاره سنت نه دئ. خو که ښځي، کوچني، لېوني، معذور او مريي لمونځ په جماعت ادا کړ لمونځ ئې سهي دئ الله ثواب ورکوي. •

## د جماعت لمونځ څه مهال له ذمې اوړي؟

**په لاندي عذرونو کي که يو موجود سي د جماعت لمونځ له ذمې اوړي:**

۱. کله چي سخت باران وي.
۲. کله چي سخت يخ وي دا ببره موجوده وي که مسجد ته ولاړ سي ناروغه به سي يا به ئې ناروغي زياته سي.
۳. کله چي پر لاري ببره موجوده وي.
۴. کله چي سخته تاريکه وي.
۵. کله چي د شپې له خوا سخت باد وي[۳۲].
۶. کله چي ناروغه وي.
۷. کله چي ړوند وي.
۸. که دومره بوډا وو چي مسجد ته د تللو وس ئې نه درلودی.
۹. کله چي د ناروغ په سرپرستۍ او پالني بوخت وي.

---

[۳۲] د ورځي له خوا سخت باد عذر نه دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰. کله چي بولو او صحراګښت په تکلیف کړی وي.

۱۱. کله چي په بندي خانه کي وي. فرق نه کوي که پر حق بندي وي که ناحقه بندي وي.

۱۲. یوه یا دواړي پښې ئې پرې وي.

۱۳. په داسي ناروغي اخته وي چي تګ ورته ستونزمن وي شل او ګوډ وي.

۱۴. ړوندی، حاضره سي دی وړی وي.

۱۵. کله چي د سفر له پاره تیاری نیسي.

۱۶. که دا بېره ورسره وي که په جماعت بوخت سم مال به مي ضایع سي.

۱۷. که دا بېره ورسره وي که په جماعت کولو بوخت سم رېل ګاډی یا طیاره به راڅخه ولاړه سي.

# د امامت د سهي کېدو شرطونه

**د امامت د سهي کېدو له پاره لاندي شرطونه په کار دي:**

۱. نارینه به وي، د ښځي امامت سهي نه دئ.

۲. مسلمان به وي، د کافر امامت سهي نه دئ.

۳. لوی به وي، د کوچني امامت سهي نه دئ.

۴. عاقل به وي، د لېوني امامت سهي نه دئ.

۵. دومره قرائت به ئې یاد وي چي د لمانځه له پاره ضروري دئ، د هغه چا امامت سهي نه دئ چي قرائت ویلای نه سي.

۶. د لمانځه شرطونه به پکښې پوره وي که پاک نه وي یا ئې عورت لوڅ وي او داسي نور امامت ئې سهي نه دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷. عذرونه به نه لري، لکه دوامداره پزه وینه کېدل او داسي نور.

۸. ژبه به ئې روغه وي حروف به سم تعبیرولای سي، د هغه چا امامت سهي نه دئ چي راء په لام اړوي، سین په ثاء اړوي او داسي نور.

## د امامت له پاره تر ټولو ډېر څوک حقداره دئ؟

۱. پاچا او د ده نائب تر ټولو ډېر حقداره دي.

۲. په مسجد کي ټاکل سوی امام د دغه مسجد له پاره تر نورو حقداره دئ.

۳. د کور څښتن که د امامت وړتیا درلوده او جماعت په کور کي کېدی تر نورو حقداره دئ.

۴. که پاچا او نائب همدا ډول ټاکلی امام او د کور څښتن حاضر نه وي بیا هغه څوک د امامت ډېر حقداره دئ چي د لمانځه په احکامو ښه خبر وي.

په دوهمه درجه کي هغه څوک حقداره دئ چي ایاتونه ئې ډېر یاد وي او په احکامو پوه وي.

بیا چي تقوا ئې ډېره وي.

وروسته هغه څوک چي په عمر مشر وي.

که په دې ټولو اوصافو کي سره برابر وي بیا هغه څوک حقداره دئ چي قوم ئې خوښ کړي.

که د قوم په منځ کي اختلاف راسي بیا هغه څوک حقداره دئ چي د قوم ډېر کسان ئې خوښ کړي.

که له حقداره چپه بل څوک د مخه سي ګناه کار دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هغه کسان چې امامت ئې مکروه دئ

۱. د فاسق امامت.

۲. د بدعتي امامت.

۳. د ړانده امامت، که په موجوده خلکو کې دی تر نورو غوره وي بیا مکروه نه دئ.

۴. د ناپوه امامت مکروه دئ فرق نه کوي که صحرایي وي که وطني وي حکم ئې یو دئ.

۵. د هغه چا امامت مکروه دئ چې د خلکو له خوا د یوه کمي په وجه کرکه ځنې کیږي (خوښ ئې نه وي).

۶. تر ټاکلي اندازې د جماعت اوږدول مکروه دي.

۷. یوازې د ښځو جماعت مکروه دئ. که بیا هم دوی جماعت کاوه امام به ئې په منځ کې دریږي.

۸. په اوسنی زمانه کي ښځو ته مکروه ده چي جماعت ته ولاړي سي، ځکه فتنې ډیري دي.

# د مقتدي د دریدو ځای او د صفونو ترتیب

که یو امام یو مقتدی وي، مقتدی دې د امام راسته اړخ ته ودریږي تر امام دې لږ شا ته سي.

که د امام سره دوه یا ډیر کسان وي ټول دې د امام تر شا ودریږي.

که د امام سره یو لوی یو کوچنی وي هم دې تر شا ودریږي.

که نارینه، ښځینه، کوچنیان او نرښځیان ټول موجود وي په لومړي صف کي دي نارینه، په دوهم صف کي دي کوچنیان، وروسته نرښځیان بیا دي ښځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ودرېږي.

ښه دا ده چي غوره خلک په لومړي کتار کي ودرېږي تر څو که اړتيا پيدا سوه د امام خلافت وکړي.

که په خلکو کي يوازي يو کوچنی موجود وو، د لويانو په صف کي دي ودرېږي.

که کوچنيان ډېر وه تر لويانو وروسته دي صف جوړ کړي، د نارينه وو صف دي نه پوره کوي.

که يو څوک راغی امام پر رکوع وو په صف کي ځای موجود وو راغلی سړی دي د صف دباندي په لمانځه کي نه داخلېږي بلکي په صف کي دي داخل سي وروسته دي لمونځ پيل کړي که رکعت ځني تېر سي پروا نه لري.

# د اقتداء کولو د سهي کېدو شرطونه

**دلاندي شرطو له امله په امام پسي اقتداء سهي کېږي:**

۱. د لومړي الله اکبر پر مهال به د امام د متابعت نيت کوي.

۲. کم تر کمه به د دوو پوندو په اندازه به امام تر مقتدي مخکي وي.

۳. لمانځه ته په کتو به د مقتدي لمونځ د امام تر لمانځه قوي نه وي، نو همدا وجه ده چي که امام نفلي مقتدي فرضي لمونځ کاوه اقتداء سهي نه ده، خو که امام فرضي او مقتدي نفلي لمونځ کاوه اقتداء سهي ده.

۴. امام او مقتدي دواړه به د يوه وخت لمونځ کوي. د ساري په توګه که امام د ماپښين مقتدي د مازيګر لمونځ کاوه اقتداء سهي نه ده.

۵. د امام او مقتدي تر منځ به د ښځو صف نه وي.

۶. د امام او مقتدي تر منځ به دومره لويه وياله نه وي چي کوچنی کښتی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پکښې چلېږي.

۷. د امام او مقتدي تر منځ به دومره پراخ سړک نه وي چې موټر او کجاوه پکښې تېرېدای سي.

۸. د امام او مقتدي تر منځ به داسي شی موجود نه وي چې د امام انتقالات (رکوع، سجده او نورو ته تلل) مقتدي ته معلوم نه سي.

د هغه چا اقتداء چي اودس ولري په هغه چا پسي سهي کېږي چي تیمم ئې وهلی وي.

د هغه چا اقتداء چي پښې ئې پرېولي وي په هغه چا پسې سهي ده چي پر موزوئې مسح کړې وي.

د هغه چا اقتداء چي لمونځ په ولاړه کوي په هغه چا پسې روا ده چي لمونځ په ناسته کوي.

د هغه چا اقتداء چي د ملا تیر ئې سیده وي په هغه چا پسې روا ده چي د ملا تیر ئې کوږ وي.

څوک چي لمونځ په اشاره کوي اقتداء ئې په بل اشاره کوونکي پسې سهي ده.

که د یوه سبب په وجه د امام لمونځ فاسد سي د مقتدیانو لمونځ هم فاسد دئ.

پر امام واجب ده چي د خپل لمانځه د فاسدوالي اعلان به کوي مقتدیان به خبروي تر څو هغوی لمونځ راوګرځوي.

## مقتدي به څه مهال د امام متابعت کوي څه مهال به ئې نه کوي؟

که امام دریم رکعت ته پورته سو، مقتدي التحیات خلاصه کړې نه وه پر مقتدي د امام متابعت لازم نه دئ، التحیات دي بشپړه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که امام سلام وګرځاوه مقتدي التحیات خلاصه کړې نه وه پر مقتدي د امام متابعت لازم نه دئ التحیات دي بشپړه کړي.

که امام یوې زایدې سجدې ته ولاړ پر مقتدي متابعت لازم نه دئ.

که امام تر اخیري ناستي وروسته په سهوه ولاړ سو مقتدي دي متابعت نه کوي.

که امام زاید رکعت وکړ سجده ئې وکړه، مقتدي دي متابعت نه کوي یوازي دي سلام وګرځوي.

که امام د آخري ناستي پر مهال په سهوه ولاړ سو مقتدي دي فتح ورکړي تر څو امام په خپلي سهوي پوه سي.

مقتدي دي منتظر سي تر څو امام کښېناستو ته راوګرځي، که امام راونه ګرځي د پنځم رکعت له پاره سجده وکړي مقتدي دي په یوازي توګه سلام وګرځوي.

که مقتدي سلام وګرځاوه امام لا تر اوسه د پنځم رکعت له پاره سجده نه وه کړې د مقتدي لمونځ له منځه ځي (فاسد ګرځي).

که امام له رکوع یا سجدې څخه سر پورته کړ مقتدي درې واره تسبیح پوره کړي نه وه مقتدي به د امام متابعت کوي، تسبیحات دي پرېږدي.

مقتدي ته مکروه د چي تر امام مخکي سلام وګرځوي. که امام التحیات پوره کړې نه وي مقتدي سلام وګرځاوه د مقتدي لمونځ فاسد ګرځي.

# د سُترې احکام

رسول ﷺ ویلي دي: اذا صَلَى احَدُكُم فَلیُصَلِ الى سُترَةٍ ولیَدنُ مِنها)[۳۳]

"کله چي په تاسي کي یو څوک لمونځ کوي مخ ته دي سُتره ودروي، سُترې ته دي

---

[۳۳] رواه ابو داؤد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نژدې ودرېږي".

سُتره هغه شی دئ چې لمونځ کوونکی ئې د لمانځه پر مهال خپل مخ ته دروي، یا یو لرګی وي او یا یو بل داسې شی چې نېزه غوندې وي.

سُتره ددې لپاره ده ترڅو یو تېرېدونکی دده لمانځه ته زیان ونه رسوي.

که د خلګو تګ راتګ زیات وي ښه دا ده چې امام خپل مخ ته سُتره ودروي.

مقتدي اړ نه دئ چې ستره ودروي ځکه د امام ستره د ده له پاره هم کفایت کوي.

لمونځ کوونکي دې سترې ته نژدې ودرېږي.

ښه دا ده چې ستره د لمونځ کوونکي د چپه، یا راسته اوږې پر برابرۍ وي، باید خاص د مخ پر برابر نه وي. شرط دا دئ چې ستره به یو شرعي ګز اوږده د یوې ګوتې په اندازه پنډه وي. دا ئې کمه اندازه ده که تر دې زیاته وي هم کفایت کوي.

# د لمونځ کوونکي مخ ته د تېرېدو احکام

روا نه ده چې د لمونځ کوونکي د مخ په خوا کې د سجدې له ځایه تر قدمو پورې سړی تېر سي. دا هغه مهال که ئې په لوی مسجد یا پر دښت لمونځ کاوه.

که سړي په کوچني مسجد یا خونه کې لمونځ کاوه روا نه ده چې د ده د قدمو څخه د قبلې خوا ته تر پراته دېوال پورې سړی تېر سي.

سړي ته روا نه ده چې د ازدحام (ګڼې ګوڼې) په ځای کې بې له سترې لمونځ وکړي.

که یو څوک د لمونځ کوونکي مخ ته تېرېدی لمونځ کوونکي ته روا ده چې د سبحان الله په ویلو یا په اشاره کولو د هغه مخنیوی وکړي. روا ده چې د قرائت په لوړ اواز ویلو هغه پوه کړي. د لاس په ذریعه ئې مخنیوی نه سي کولای.

ښځه دې د لاس په ټکولو او اشاره کولو مخنیوی وکړي. ښځې ته روا نه ده چې د قرائت په زوره ویلو سره د سړي مخنیوی وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وتر درې رکعته دي، په پای کي يو سلام لري.

د ماخستن تر سنتو وروسته وتر ادا کېږي. ځوک چي د ولاړي وس ولري په ناسته وتر ورته روا نه دي. که عذر موجود نه وي د سپرتيا پر مهال وتر کولای نه سي. واجب ده چي د نفلي لمونځو غوندي په ټولو رکعتو کي الحمد لله او سورت وويل سي.

تر دوه رکعتو وروسته دي کښېني التحيات دي ووايي بيا دي دريم رکعت ته ولاړ سي، سبحانک اللهم او اعوذ بالله دي نه وايي.

کله چي په دريم رکعت کي له سورت ويلو څخه فارغه سي لاسونه دي د غوږو د برابرۍ پوري پورته کړي.

د پورته کولو ډول ئې داسي دئ لکه د لومړي الله اکبر پر مهال چي دئ.

بيا دي د رکوع څخه مخکي په ولاړه اللهم انا ووايي.

په ټول کال کي په وترو کي اللهم انا لوستل واجب ده. امام، مقتدي د جماعت او انفرادي لمنځونو کي اللهم انا په پټه سره بايد وويل سي.

سنت دا دئ چي هغه اللهم انا وويل سي چي عبدالله بن مسعود ﷺ ئې روايت کړی دئ چي هغه په دې ډول ده:

اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْتَعِيْنُكَ وَ نَسْتَغْفِرُكَ وَ نُؤْمِنُ بِكَ وَ نَتَوَكَّلُ عَلَيْكَ وَ نُثْنِي عَلَيْكَ الْخَيْرَ، وَنَشْكُرُكَ وَ لاَنَكْفُرُكَ، وَ نَخْلَعُ وَ نَتْرُكُ مَنْ يَّفْجُرُكَ.

اَللّٰهُمَّ اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَ لَكَ نُصَلِّيْ وَنَسْجُدُ وَ اِلَيْكَ نَسْعَي وَ نَحْفِدُ، نَرْجُوْ رَحْمَتَكَ وَ نَخْشَي عَذَابَكَ اِنَّ عَذَابَكَ بِالْكُفَّارِ مُلْحِقْ.

ژباړه: اې الله! موږ ستا څخه مرسته غواړو، ستا څخه بخښنه غواړو، پر تا ايمان لرو، پر تا توکل کوو، ستا ستاينه کوو، ستا شکر کوو، ناشکري نه کوو، له هغه چا څخه ګوښه کېږو چي ستا نافرماني کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې الله! یوازې ستا عبادت کوو، یوازې ستا له پاره لمونځ کوو، سجده کوو، تا ته درځو، درځغلو، ستا د رحمت هیله لرو، ستا د عذاب څخه بېره لرو، ربښتیا ستا عذاب په کافرانو پورې نښلېدونکی دئ.

څوک چې اللهم انا ویلای نه سي اللهم رَبَّنَا اٰتِنَا في الدُنیَا حَسَنَةً و فِي الآخِرَةِ حَسنَةً و قِنا عَذَابَ النَارِ.

دي ووای، یا دي درې واره اللهم اغفرلي ووایي. یا دي درې واره یا رب ووایي.

که د لمونځ کوونکي اللهم انا هېره سوه، په رکوع کي ئې یاده سوه په رکوع کي دې نه وایي. بیرته دې ولاړې ته نه راګرځي تر څو اللهم انا ووایي. بلکي تر سلام وروسته دي د سهوي سجده وکړي ځکه واجب کار ئې په هېره پرې ایښی دئ.

که تر رکوع وروسته ئې یاده سي همداسي ده. که فرضاً تر رکوع وروسته اللهم انا ووایي رکوع دي نه راګرځوي بلکي په پای کي دي د سهوي سجده وکړي ځکه واجب کار ئې وځنډاوه (په خپل ځای کي ئې ادا نه کړ). که امام رکوع ته ولاړ، مقتدي اللهم انا خلاصه کړې نه وه د امام متابعت دي نه کوي.

بلکي اللهم انا دي بشپړه کړي وروسته دي په رکوع کي ورسره شریک سي. که بېرېدی چي رکوع به تېره سي اللهم انا دي پرېږدي رکوع ته دي ورسره ولاړ سي.

له وترو چپه په نورو لمونځو کي یوازې هغه مهال اللهم انا ویل کېږي چي غمیزه پېښه وي. د غمیزي پر مهال یوازې امام ته سنت ده چي کله له رکوع څخه راپورته سي دعا قنوت دي ووایي. د غمیزي پر مهال دغه دعا قنوت ویل کېږي:

اللهُمَّ اهدِنابِفَضلِکَ فِیمَن هَدَیتَ و عَافِنَا فِیمَن عَافَیتَ و تَوَلَنَا فِیمَن تَوَلَیتَ و بَارِک لَنَا فِیمَا اعطَیتَ و قِنَا شَرَ مَا قَضَیتَ فَانَکَ تَقضَی و لا یُقضَی عَلَیکَ انه لاَ یَذِلُ مَن وَالَیتَ ولاَ یَعِزُ مَن عَادَیتَ تَبَارَکتَ رَبَنَا و تَعَالَیتَ و

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلی الله علی سَیِدِنَا مُحَمَدٍ و آلِه و صَحبِه و سَلمَ.

ژباړه: اې الله! موږ ته د خپل فضل له امله د هغه چا په ډله کې هدایت وکړه چې تا هدایت ورکړی دئ. د هغه چا په ډله کې زموږ پالنه وکړه چې تا ئې پالنه کړې ده. په هغه څه کې برکت واچوه چې تا موږ ته راکړي دي. د هغه څه له شره مو خوندي کړه چې تا ئې پرېکړه کړې ده. پرېکړه ته کوې ستا په وړاندي پرېکړه نه سي کېدلای، هغه څوک نه خوارېږي چې ستا سره دوستي ولري. هغه څوک نه غالبه کېږي چې ستا سره دښمني ولري.

اې زموږ ربه! ته مبارک یې ته لوړ یې، د الله ﷻ رحم دي پر محمد ﷺ او د ده پر کورنۍ او اصحابو وي.

کله چې مسبوق خپل امام ته د دریم رکعت په رکوع کې ځان ورساوه په حکمي ډول د دعا قنوت رسوونکی ګڼل کېږي. کله چې وروسته تېر سوي رکعتونه راګرځوي، دعا قنوت دي نه وایي. د روژې په میاشت کې چې په جماعت وتر وکړي تر هغه فضیلت لري، چې د شپې په وروستي برخه کې ئې یوازي کوي، د روژې چپه وتر په جماعت کول مکروه دئ.

## سنت لمونځونه

سنت هغه لمونځونه دي چې رسول علیه السلام پر فرضو زیات کړي دي. تر څو الله ﷻ ته ځان نژدې کړي.

او رسول علیه السلام په ټېنګار سره کړي وي خو ځیني وخت ئې پرې ایښي وي کوم لمونځونه چې رسول علیه السلام د فرضو تر څنګ په ټېنګار سره کړي دي موکد سنت دئ.

هغه لمونځونه چې ځیني وخت ئې کړي وي مستحب او غیر موکد سنت دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هغه لمنځونه چي موکد سنت دي

۱. د سهار تر فرضو مخکي دوه رکعته.

۲. د ماپښين تر فرضو مخکي څلور رکعته په يوه سلام.

۳. د ماپښين تر فرضو وروسته دوه رکعته.

۴. د ماښام تر فرضو وروسته دوه رکعته.

۵. د ماخستن تر فرضو وروسته دوه رکعته.

۶. څلور رکعته په يوه سلام د جمعې تر لمانځه مخکي.

۷. څلور رکعته د جمعې تر فرضو وروسته(۳۵).

# هغه لمنځونه چي غير موکد سنت دي

۱. د مازيګر تر فرضو مخکي څلور رکعته.

۲. د ماښام تر فرضو وروسته شپږ رکعته.

۳. د ماخستن تر فرضو مخکي څلور رکعته.

۴. د ماخستن تر فرضو وروسته څلور رکعته.

سنت لمونځونه د فرضو غوندي دي خو په هر رکعت کي د فاتحې سورت سره بل سورت يو ځای کېږي. که سړي تر دوو رکعتو زيات نفل وکړه په وروستي کي ئې نه کښېناستی، د مکروه والي سره نفل سهي دي.

مکروه ده چي د ورځي لخوا په يوه سلام تر څلورو رکعتو زيات نفل وکړي،

---

(۳۵) امام ابو يوسف رحمة الله عليه ويلي دي: د جمعې تر فرضو وروسته شپږ رکعته سنت دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


مکروه ده چي د شپې له خوا په یوه سلام تر اته رکعتو زیات نفل وکړي.
د امام اعظم رحمة الله علیه پر مسلک ښه دا ده چي د ورځي او شپې څلور رکعته نفل په یوه سلام وسي.
د یارانو (امام ابو یوسف، امام محمد) پر مسلک ښه دا ده چي د شپې له خوا دوه دوه رکعتونه د ورځي څلور څلور رکعتونه وسي.
په نفلي لمانځه کي ولاړه او قرائت اوږدول تر ډېرو رکعتو ډېر ثواب لري، نفل د شپې له خوا تر ورځي ډېر ثواب لري.

# مستحب لمونځونه او شپه په ویښه تېرول

لومړی: څوک چي مسجد ته دننه سي تر ناستي مخکي دوه رکعته نفل کول مستحب دي، د تحیة المسجد (د مسجد سلام) په نوم یادېږي. که یو وار کښېني بیا دوه رکعته لمونځ وکړي هم پروا نه لري، که څوک فرضي یا بل لمونځ مسجد ته تر دننه کېدو وروسته ادا کړي د تحیة المسجد نیت ونه لري دغه لمونځ د تحیة المسجد پر ځای درېږي.
کله چي سړی اودس تازه کړي، د اندامو تر وچېدو مخکي دوه رکعته لمونځ مستحب دئ، دغه لمونځ د تحیة الوضوء په نوم یادېږي. د څاښت پر مهال څلور رکعتونه مستحب دي. تر دوولسو رکعتو پوري ئې زیاتولای سي. دا د څاښتي لمونځ په نوم یادېږي.
د استخارې لمونځ دوه رکعته دئ، مستحب دئ، د حاجت لمونځ دوه رکعته دئ مستحب دئ. مستحبه ده چي د روژې د میاشتي وروستی لس شپې په ویښه تېري سي.
مستحبه ده چي د لوی او کوچني اختر شپه په ویښه تېره سي، عبادت پکښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسي. مستحبه ده چي د لوی اختر د میاشتي لومړۍ لس شپې په ویښه تېره سي. مستحبه ده چي د برات شپه په ویښه تېره سي. خو په دغو پورتنیو شپو کي د دعوت پر ډول راټولېدنه مکروه ده، که بې دعوته سره راټول سي مکروه نه ده.

# د لمانځه جدول

| لمونځ | مخکي مؤکد سنت | مخکي غیر مؤکد سنت | فرض | وروسته مؤکد سنت | واجب | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|---|
| سهار | ۲ | ۰ | ۲ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ماپښین | ۴ | ۰ | ۴ | ۲ | ۰ | په سفر کي فرض دوه رکعتونه |
| ماځیګر | ۰ | ۴ | ۴ | ۰ | ۰ | په سفر کي فرض دوه رکعتونه |
| ماښام | ۰ | ۰ | ۳ | ۲ | ۰ | په سفر کي مکمل درې رکعتونه |
| ماخوستن | ۰ | ۴ | ۴ | ۲ | درې رکعته وتر | په سفر کي فرض دوه رکعتونه |
| جمعه | ۴ | ۰ | ۲ | ۴ | ۰ | تر فرضو مخکي خطبه |
| دوه اخترونه | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | د اختر لمونځ دوه رکعته | تر لمانځه وروسته خطبه |
| تراوئح | ۰ | ۰ | ۰ | ۲۰ | ۰ | تراویح تر وترو مخکي دي |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لمونځ په ناسته کول

ځوک چي د ولاړي وس ولري په ناسته فرضي لمونځ ورته روا نه دئ. ځوک چي د ولاړي وس ولري په ناسته واجب لمونځ ورته روا نه دئ. ځوک چي د ولاړي وس ولري په ناسته نفلي لمونځ ورته روا دئ. خو نفل په ناستي کول نيم ثواب لري.

ځوک چي د عذر له امله په ناسته لمونځ وکړي پوره ثواب ورکول کېږي. ځوک چي په ناسته لمونځ کوي داسي به کښېني لکه د التحيات له پاره چي کښېني. روا ده چي سړی نفلي لمونځ په ولاړه پيل کړي په ناسته ئې بشپړ کړي.

# د سپرتيا پر مهال لمونځ کول

د سپرتيا پر مهال (چي پر حيوان، موټر او بل شي سپور وي) فرضي لمونځ روا نه دئ، واجب لمونځ هم روا نه دئ.

همدا ډول وتر، نذري لمونځ او د هغه نفلي لمانځه قضا چي تر پيل کېدو وروسته فاسد سوی وي د سپرتيا پر مهال روا نه دئ.

که لمونځ کوونکی عذر ولري، د ساري په توګه بېرېدی که کښته سم دښمن به حمله راباندي وکړي يا به مي وحشي حيوان ووژني يا بله ستونزه موجوده وي د سپرتيا پر مهال (د حيوان پر شا) فرضي، نفلي، واجب او نور ټوله لمونځونه ورته روا دي.

که دی کښته سوی وای د بيرته سپرېدو وس ونه لري داسي ځوک موجود نه وي چي دی پر حيوان سپور کړي ټوله لمونځونه د حيوان پر شا کولای سي.

موکده سنت د سپرتيا پر مهال ورته روا دي، خو د سهار سنت به لاندي کوي، ځکه د هغوی ټينګوالی خورا ډېر دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چي دی پر حیوان سپور لمونځ کوي له ښاره دباندي وي هري خوا ته چي د حیوان مخ وي هغې خوا ته دي لمونځ کوي.

## په کښتۍ کي لمونځ کول

د امام اعظم رحمة الله علیه پر مذهب بې له عذره روا ده چي په کښتۍ کي فرضي لمونځ په ناسته وسي. خو امام ابو یوسف رحمة الله علیه او امام محمد رحمة الله علیه ئې بې له عذره روا نه ګڼي. ځوک چي د رکوع او سجدې وس ولري په کښتۍ کي لمونځ په اشاره کول ورته روا نه دئ.

که کښتۍ د دریاب په څنډه کي تړل سوې وي او لمونځ کوونکي د ولاړې وس ولري روا نه ده چي لمونځ په ناسته وکړي.

که چا وس نه درلودی چي له کښتۍ څخه کښته سي کښتۍ که تړل سوې وي که آزاده وي لمونځ پکښې روا دئ.

## په ریل ګاډۍ او طیاره کي لمونځ کول

په ریل ګاډۍ او طیاره (الوتکي) کي په ناسته فرضي لمونځ روا دئ. فرق نه کوي که طیاره په هوا کي وي، ریل ګاډۍ روا نه وي دا د امام اعظم رحمة الله علیه مذهب دئ. خو ډېری علماء وایي یوازي هغه مهال په طیاره او ریل ګاډۍ کي په ناسته لمونځ روا دئ چي عذر موجود وي د بېلګي په توګه په ولاړه ئې سر ګرځېدی، یا ریل ګاډۍ داسي لړزه کول چي سړی پر لمانځه درېدلای نه سو.

که سړي په ولاړه لمونځ کاوه د دوو چوکیو تر منځ ولاړ وو سجده ئې پر چوکۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کول لمونځ روا دئ، خو په دې شرط که ده د ریل ګاډی پر لاندې فرش سجده نه سوای کولای.

که ریل ګاډی ولاړه وي د ټولو فقهاوو پر مسلک بې له عذره په ناسته لمونځ روا نه دئ. که طیاره پر مځکه ولاړه وي همداسي ده.

که قبلې ته مخامخ ئې لمونځ پیل کړ وروسته ریل ګاډی او طیاره بلې خوا ته وګرځېده د ده مخ بلې خوا ته سو که ده وس درلودی مخ ئې د قبلې خوا ته وګرځوي.

که ئې وس نه درلودی یا ورته معلومه نه وه چي ریل ګاډی او طیاره ګرځېدلې ده لمونځ ئې بې له ګرځېدني روا دئ.

# د تراویحو لمونځ

رسول ﷺ ویلي دي: (مَن قَامَ رَمَضَان ءايمَاناً وَ احتِسَاباً غُفِرلَهُ مَا تَقَدمَ مِن ذَنبِهِ[۳۶])

څوک چي د روژې په میاشت کي د ایمانداری او ثواب له پاره د شپې لمونځ وکړي مخکني ګناهونه ورته بخښل کیږي.

د تراویحو لمونځ پر نارینه او ښځینه وو موکد سنت دئ. د کلیوالو له پاره تراویح په جماعت کول سنت کفایي دئ[۳۷].

تراویح په لسو سلامونو شل رکعته دي.

د تراویحو وخت د ماخستن تر فرضو وروسته پیلیږي یا تر سپېدو پوري.

---

[۳۶] رواه البخاري و مسلم.

[۳۷] کفایي سنت دا دي چي که ځیني کلیوال ئې په جماعت ادا کړي د نورو غاړي خلاصیږي، که ئې ټوله پرېږدي د ټولو غاړي بندي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه دا ده چي تراويح تر وتر مخکي وسي. روا ده چي وتر تر تراويحو مخکي وسي. ښه دا ده چي تراويح د شپې يوې دريمي ته وځنډول سي. د شپې نيمي ته که وځنډول سي هم ښه ده.

مکروه نه ده که تراويح د شپې په دوهمه نيمايي کي وسي. ښه دا ده چي تر هرو څلورو رکعتو وروسته د څلورو رکعتو په اندازه د راحت ناسته وسي (ځان هوسا کړي).

د پنځمي ترويحې (وروستي څلورو رکعتو) او وترو تر منځ ناسته هم مستحب ده.

په ټوله مياشت کي په تراويحو کي يو وار قرآن ختمول سنت دئ. د قوم د کسالت (سستۍ) له امله يو وار ختم نه پرېښوول کېږي. د قوم د سستۍ له امله په ناسته کي درود نه پرېښوول کېږي.

همدا ډول سبحانک اللهم او د رکوع او سجدې تسبيحات نه پرېښوول کېږي، تر درود وروسته دعا (اللهم ربنا) پرېښوول کېږي. ښه دا ده چي لنډه دعا وسي تر څو سنت پر ځای سي. د تراويحو قضا نه په جماعت نه يوازي راګرځول کېږي.

# د مسافر لمونځ

الله ﷻ ويلي دي: وَإِذَا ضَرَبْتُمْ فِي ٱلْأَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَقْصُرُوا۟ مِنَ ٱلصَّلَوٰةِ [النساء: ۱۰۱]

کله چي تاسي په مځکه کي سفر کوی، پر تاسي ګناه نسته چي لمونځ لنډ کړی.

بخاري او مسلم له انس ﷺ څخه روايت کړی دئ وايي : خَرَجنا مَعَ رَسُولِ اللهِ صلي الله عليه وسلم مِن مَدِينَةِ إلي مَكة فكَانَ يُصَلِي رَكعَتَينِ رَكعَتَينِ حَتي رَجَعنَا الَي الَمدِينَةِ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه: موږ د رسول ﷺ سره له مدينې څخه مکې ته ولاړو، رسول ﷺ تر هغه مهاله لمونځ دوه رکعته کوی تر څو بیرته مدینې ته راوګرځېدو.

د هغه سفر چې لمونځ پکښې لنډېږي او د روژې د میاشتې روژې نه پکښې نیول کېږي کمه اندازه ئې دا ده چې د کال په لنډو ورځو کې په پیاده تګ سره د درو ورځو مسافه وي، که څوک دغه ټاکلې مسافه په یوه ساعت کې پرې کړي د ساري په توګه په ریل ګاډي یا طیاره کې دغه مسافه ژر ووهي حکم نه بدلېږي، لمونځ لنډېږي.

پر مسافر د لمانځه لنډول واجب دي، که لمونځ بشپړ کړي ګناه کاره دئ. مسافر به د ماپښين، مازيګر او ماخستن فرض لمونځ لنډوي، دغه لمونځونه به د څلورو فرضو رکعتو پر ځای دوه فرض رکعته کوي. د سهار او ماښام لمونځ بشپړ ادا کېږي.

# د سفر د نیت د سهي کېدو شرطونه

**د سفر د نیت سهي کېدو له پاره درې شرطونه ضروري دي:**

۱. هغه څوک چې د سفر نیت لري بالغ به وي. که کوچنی وو د لمانځه لنډول باندې واجب نه دي.

۲. د سفر نیت لرونکی به په خپل سفر کې خپلواک وي، که د بل داسې چا تابع وي چې د سفر نیت ئې نه وي کړي د لمانځه لنډول باندې واجب نه دي. همدا وجه ده چې که مېرمن د سفر نیت ولري مېړه ئې و نه لري د مېرمنې نیت اعتبار نه لري ځکه مېرمن د مېړه تابع ده. همدا ډول خادم او د ده سردار هم دغه حالت لري. همدا ډول که د پوځ قوماندان د سفر نیت و نه لري د پوځیانو نیت اغېز نه لري، ځکه پوځیان د خپل قوماندان تابع وي.

۳. د سفر مسافه به د درو ورځو د پیاده تګ څخه کمه نه وي[۳۸].

---

(۳۸) د سفر مسافه اووه اویا کیلو متره ګڼل سوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څه مهال لمونځ لنډېږي؟

لمونځ هغه مهال لنډېږي چې مسافر له کلي څخه ووزي له ابادیو تېر سي. همدا ډول هغه مهال لنډېږي چې له ښاره او د ښار له څنډو ووزي تش د سفر په نیت لمونځ نه لنډېږي.

هغه مهال لمونځ نه لنډېږي چې دی له کوره ووزي خو له ښاره او د ښار له څنډو تېر سوی نه وي.

په هر سفر کي لمونځ لنډېږي فرق نه کوي که سفر د حج، عمرې او جهاد او تجارت له پاره وي که د غلا له پاره وي.

که مسافر لمونځ څلور رکعته بشپړ کړ، د لومړیو دوو رکعتو وروسته کښېناستی لمونځ ئې روا دئ. دوه وروستي رکعتونه نفل ګرځي. خو دا ډول لمونځ مکروه دئ ځکه سلام له خپله ځایه وځنډېدی. که څلور رکعته وکړي د دوو لومړیو رکعتو وروسته ئې ناسته نه وه کړې، لمونځ روا نه دئ ځکه زموږ پر مسلک د لمانځه لنډول واجب دي اختیاري نه دي.

# د لنډولو موده

مسافر دي تر هغه مهاله لنډ لمونځ لنډ کوي تر څو بیرته راګرځي ښار ته ننوزي. که په بل ښار او کلي کي د پنځلسو ورځو یا ډېرو ورځو نیت وکړي لمونځ به پوره کوي.

که تر پنځلسو ورځو کم نیت وکړي لمونځ به لنډ کوي. که نیت ونه کړي همداسي بې نیته څو کلونه پاته سي لمونځ به لنډ کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په مقیم پسې د مسافر اقتداء کول

په مقیم پسې د مسافر اقتداء روا ده، څلور رکعته به پوره کوي. د امام متابعت به کوي. په مسافر پسې د مقیم اقتداء روا ده.

کله چې مسافر دوه رکعتونه ادا کړي مناسبه ده چې تر سلام ګرځولو وروسته ووايي: خپل لمونځ بشپړ کړئ زه مسافر یم. ښه دا ده چې دا خبره تر لمانځه مخکې او وروسته وکړي.

کله چې مقیم مقتدي پورته سي غواړي چې خپل لمونځ بشپړ کړي په ولاړه کې دې قرائت نه وايي بلکې بې له قرائته دې خپل لمونځ پوره کړي.

که په سفر کې څلور رکعتیزه لمونځ قضا سو قضا ئې دوه رکعته راګرځول کېږي فرق نه کوي که قضا په سفر کې راګرځوي که په خپل کور او د اقامت په ځای کې حکم یو دئ.

که د اقامت په ځای کې څلور رکعتیزه لمونځ پاته سو قضا ئې څلور رکعته راګرځول کېږي فرق نه کوي که قضا ئې په سفر کې راګرځوي که د اقامت په ځای کې وي حکم یو دئ.

# د وطن ډولونه او احکام

اصلي وطن په اصلي وطن له منځه ځي.

که یو سړي خپل اصلي وطن پرېښووی بل وطن ته ولاړی هغه ئې د ځان له پاره وطن وګرځاوه، وروسته د یوه کار له پاره خپل پخواني وطن ته ولاړی لمونځ به لنډ کوي، ځکه اوس د ده له پاره وطن نه بلل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د موقتي اوسېدني وطن د موقتي اوسېدني په وطن له منځه ځي.

د موقتي اوسېدني وطن هغه مهال هم له منځه ځي چې سړی ځني مسافر سي.

اصلي وطن هغه دئ چي د تل له پاره ئې د اوسېدني له پاره وټاکي فرق نه کوي که واده پکښي وکړي که نه. د اقامت وطن (د موقتي اوسېدني وطن) هغه ځای دئ چي د پنځلسو ورځو یا زیاتو نیت پکښې ولري.

# د ناروغ لمونځ

الله ﷻ ویلي دي: لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا [البقره: ۲۸۶]

الله نفس یوازي په هغه څه مکلف ګرځوي چي وس ئې ولري.

رسول عليه السلام عمران بن حصین رضي الله عنه ته وویل: صَلِّ قَائِماً فان لَم تَستَطِع فَقَاعِداً فان لَم تَستَطِيع فَعَلَي الجَنبِ تُؤمِيء ايمَاءً[۳۹].

لمونځ په ولاړه کوه، که طاقت ونه لري په ناسته ئې کوه، که طاقت ونه لري پر اړخ ئې کوه، اشاره کوه.

لمونځ نه پاته کېږي د ناروغۍ پر مهال هم نه پرېښوول کېږي، که څوک ناروغه وي طاقت نه لري چي لمونځ په ولاړه وکړي لمونځ دي په ناسته وکړي خو سجده او رکوع به کوي.

که د سخت درد او ستونزي له امله مریض درېدلای نه سي لمونځ دي په ناسته وکړي، رکوع او سجده دي کوي که د ناروغ سره بېره وي که لمونځ په ولاړه وکړم ناروغي به مي بیرته راوګرځي، یا به ناروغي نوره سخته سي یا به مي په ځنډ

(۳۹) رواه ابو داؤد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



روغتيا په برخه سي لمونځ دي په ناسته وکړي.

که څوک رکوع او سجده نه سي کولای په اشاره دې کوي، څوک چي رکوع او سجده په اشاره کوي د سجدې اشاره دي تر رکوع کښته کوي. که ئې کښته نه کړي لمونځ ئې روا نه دئ.

روا نه ده چي د سجدې له پاره يو شی مخ ته راپورته کړي، که څوک په ناسته لمونځ نه سي کولای پر شا دي پرېوزي پښې دي د قبلې خوا ته وغځوي، زنګنونه دي ودروي سر دي پر بالښت کښېږدي چي مخ ئې د قبلې طرف ته سي رکوع او سجده دي په اشاره کوي.

يا دي پر اړخ پرېوزي رکوع او سجده دي په اشاره کوي، هغه اشاره د رکوع او سجدې ځای نيسي چي په سر سره وي، که په سترګو، وروځو او زړه سره وي لمونځ سمهي نه دئ. که څوک د سر د اشارې وس ونه لري يوه ورځ او شپه دي لمونځ وځنډوي.

کله چي روغ سي قضا دې راوړي که تر يوې شپې او ورځي زيات لمونځونه قضا کړي بيرته راګرځول نه غواړي.

که څوک بې هوښه، يا لېونی سو، بې هوښي او لېونتوب يې تر پنځه لمونځو په زياته موده يا تر دې لږ وخت ونيوی کله چي سم سي د لمونځونو قضا دي راوړي. که سړی لمونځ په ولاړه پيل کړ وروسته له درې دو څخه عاجزه سو که د ناستي وس ولري په ناسته دي لمونځ وکړي. که د ناستي وس ونه لري پر شا دي پرېوزي لمونځ دي په اشاره وکړي.

# د قضايي لمونځو قضا راوړل

الله ﷻ ويلي دي: ﴿إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ كَانَتۡ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ كِتَٰبٗا مَّوۡقُوتٗا ١٠٣﴾ [النساء:۱۰۳]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ربښتيا لمونځ پر مومنانو پر ټاكلي وخت فرض دئ.
واجبه ده چي لمونځ په خپل وخت كي ادا سي.
بې له عذره روا نه ده چي لمونځ له خپل وخت څخه وځنډول سي. كه د عذر له امله څوك له خپل وخت څخه لمونځ وځنډوي كله چي عذر پورته سي د دغه لمانځه قضا راګرځول واجب ده. د سنت او نفلي لمونځو قضا يوازي هغه مهال راګرځول كېږي چي يو وار پيل سي وروسته فاسد كړل سي دا مهال قضا راوړل واجب ده.
كه سهار مهال سنت او فرض دواړه پاته سي تر زوال مخكي د دواړو قضا راوړل كېږي.
كه د سهار سنت يوازي پاته سي قضا ئې نه راوړل كېږي. د وخت د لمانځه او قضايي لمانځه تر منځ ترتيب واجب دئ. تر قضايي مخكي د وخت لمونځ كول روا نه دي.
خپله د قضايي لمونځو تر منځ هم ترتيب واجب دئ. د ماپښين قضايي لمونځ د سهار تر قضايي لمانځه مخكي نه ادا كېږي. د فرضو او وترو تر منځ هم ترتيب واجب دئ: د وترو تر مخه د نن سهار قضايي فرض نه ادا كېږي.
دغه پورتنى ترتيب هغه مهال واجب دئ چي د قضايي لمونځو شمېر شپږو ته نه وي رسېدلى. كه د قضايي لمونځو شمېر تر شپږو كم وي بايد د ادا كولو پر مهال ترتيب په پام كي ونيول سي، د ساري په توګه: لومړى د سهار، بيا د ماپښين، بيا د مازيګر، بيا د ماښام وروسته د ماخستن قضا راوړل سي.

**دلاندي درو شيانو څخه په يوه شي ترتيب له منځه ځي:**

لومړى: له وترو چپه كه د قضايي لمونځو شمېر شپږو ته پورته سي.
دوهم: كله چي د وخت د تنګى له امله د وخت د لمانځه د قضا كېدو وېره وي.
دريم: كله چي قضايي لمونځ ئې هېر وي د وخت لمونځ ادا كړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که شپږم لمونځ وتر وي پر ده لازمه ده چي د نن سهار تر فرضو مخکي د تېري شپې د وترو قضا راوګرځوي.

کله چي د قضايي لمونځو شمېر شپږ سي ترتيب له منځه ولاړ سي، کله چي د ځينو قضايي لمونځو قضا راوړله سوه شمېر ئې تر شپږو کم سو بيرته ترتيب نه راګرځي، ځکه ترتيب له منځه تللی دئ. که سړي د وخت لمونځ ادا کړ قضايي لمونځ ئې په ياد وو د وخت لمونځ ئې سهي نه دي.

خو دا موقوف فساد دئ که ئې پنځه لمونځونه تر قضايي مخکي ادا کړه او قضايي لمونځ ئې په ياد وو د پنځم لمانځه د وخت په تېرېدو سره موقوف فساد له منځه ځي.

پنځه ادا سوي لمونځونه د فرضو پر ځای درېږي.

که د پنځم لمانځه د وخت تر تېرېدو مخکي قضايي لمونځ ادا سو، فرض له منځه ځي، ټوله لمونځونه نفل ګرځي، پر ده لازمه ده چي د دې پنځو ادا سوو لمونځو قضا راوګرځوي.

کله چي قضايي لمونځونه زيات سي تعين ته اړتيا ده. که تعين ورته ستونزمن وي داسي نيت به کوي چي دا لومړی قضايي دئ، دا دوهم قضايي دئ، دا دريم دئ همداسي تر پايه پوري.

# فرضي لمونځ په جماعت سره نيول

يو سړي په يوازي توګه فرضي لمونځ شروع کړی وو، سجدې ته نه وو تللی جماعت ودرېدی. سړی دي خپل لمونځ پرېږدي په ولاړه دي سلام وګرځوي په امام پسي دي اقتداء وکړي.

که سړي د سهار يا د ماښام لمونځ شروع کړی وو سجده ئې کړې وه جماعت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ودرېدی خپل لمونځ دي پرېږدي په امام پسي دي اقتداء وکړي.

که سړي څلور رکعتیزه لمونځ شروع کړی وو یو رکعت ئې کړی وو یو بل رکعت دي هم ورسره یو ځای کړي بیا دي سلام وګرځوي په امام پسي دي ودرېږي فرض لمونځ دي د امام سره بشپړ کړي. مخکني دوه رکعتونه نفل ګرځي.

کله چي ده په څلور رکعتیزه لمانځه کي دري رکعته بشپړ کړي وي، څلورم رکعت دي هم بشپړ کړي، وروسته که د ماپښین او ماخستن لمونځ وي د امام سره دي لمونځ ادا کړي د نفلو نیت دي وکړي، که د مازیګر لمونځ وي نیت دي نه کوي ځکه مازیګر تر فرضو وروسته نفل نسته.

کله چي د جمعې په ورځ امام د خطبې له پاره راووزي سړي د سنتو نیت کړی وي، دوه رکعته دي پوره کړي کله چي د جمعې فرض ادا کړي وروسته دي دغه څلور رکعته سنت راوګرځوي.

که یو چا د ماپښین په سنتو شروع کړې وه بیا جماعت ودرېدی نو دوه رکعته دي پوره کړي سلام دي وګرځوي ، په امام پسي دي اقتدا وکړي او تر فرضو وروسته دي د پوره سنتو قضا راوړي.

کله چي سړی مسجد ته ورسي جماعت ودرېدی ځان دي په بل شي نه بوختوي، په جماعت کي دي ورسره داخل سي یوازي د سهار په سنتو ځان بوختولای سي.

که مسجد ته ننوتی د سهار جماعت ودرېدی سنت دي له مسجد څخه دباندي وکړي یا دي د مسجد په یوه کونج کي دا کړي دا هغه مهال که د ده غالبه ګومان وو چي فرض لمونځ په جماعت رسولای سم.

که د فرضي لمانځه پر قضا کېدو یا د جماعت په تېرېدو بېرېدی سنت دي پرېږدي. که چا خپل امام د رکوع په حالت کي ورساوه دغه رکعت ئې رسولي دئ.

که مقتدي رکوع ته تللی نه وو امام سر راپورته کړ دغه رکعت له مقتدي څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېر دي.

که په مسجد کي اذان وسو تر اذان وروسته له مسجد څخه وتل تر هغه مهاله مکروه کار دئ. تر څو دلته لمونځ کوي.

که دغه سړی په بل مسجد کي موذن یا امام وي بیا وتلای سي. که سړي یوازي لمونځ کړی وو اوس د ماپښین یا ماخستن جماعت ودرېدی د نفلو په نیت دي لمونځ ورسره ادا کړي د باندي وتل ورته مکروه دي.

که ده لمونځ کړی وي اوس د سهار یا د مازیګر یا د ماښام جماعت ودرېدی پروا نه لري چي له مسجد څخه ووزي.

# د روژې او لمانځه فدیه

که ناروغ د هغه لمونځو د کولو واک پیدا کړ چي ځني قضا سوي وه فرق نه کوي که دغه واک د اشاره کولو پر ډول وي. اوس تر قضا راوړلو مخکي مړ سو پر ده لازمه ده چي د فدیې ورکولو وصیت به کوي.

که ناروغ د هغه روژو د نیولو وس پیدا کړ چي ځني قضا سوي دي اوس تر قضا راوړلو مخکي مړ سو پر ده لازمه ده چي د فدیې وصیت به کوي، که وتر ځني قضا سوي وي اوس ئې د قضا راوړلو وس پیدا کړ خو تر قضا راوړلو مخکي مړ سو پر ده لازمه ده چي د فدیې وصیت وکړي.

د مړي ولي به فدیه د میراث له یوې دریمي څخه ورکوي د لمانځه فدیه د هر وخت پر سر نیمه پیمانه (نژدې ۱۸۰۰ ګرامه) غنم یا پوره پیمانه اوربشي دي یا ئې قیمت دئ.

د روژې فدیه د هري ورځي پر سر نیمه پیمانه غنم، یا پوره پیمانه اوربشي دي یا ئې قیمت دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



روا ده چي د ټولو لمونځو فديه يوه فقير (بې وزلي) ته ورکړي، روا ده چي د ټولو روژو فديه يوه فقير ته ورکړي.

• خو په يوه ورځ د قسم فديه تر نيمي پيمانې غنمو زيات يوه فقير ته نه ورکول کيږي ، که مړي وصيت نه وي کړی اوس د مړي خپلوان د ځانه فديه ادا کړه د قبليدو اميد ئې سته.

ولي ته روا نه ده چي د مړي د قضايي روژو پر ځای روژې ونيسي. لمونځونه هم نه سي کولای. که ناروغ دومره وس پيدا نه کړ چي لمونځ په اشاره سره وکړي او په داسي حال کي مړ سي چي لمنځونه ئې قضا کړي وي باندي لازمه نه ده چي د فديې وصيت وکړي.

لمونځونه که لږ قضا سوي وي که ډېر قضا سوي فرق نه کوي. که د روژو د نيولو وس پيدا نه کړي مړ سي همداسي ده. روژې که ډېري وي که لږ وي فرق نه کوي حکم يو دئ.

که مسافر په سفر کي مړ سو پر ده لازمه نه ده چي د خپلو روژو وصيت وکړي.

# د سهوي سجدې احکام

که د يو چا څخه د لمانځه رکن (داخلي فرض) پاته سي لمونځ سهي نه دئ بيرته راګرځول غواړي. د سهوي په سجده علاج نه کيږي، فرق نه کوي که رکن په قصدي توګه پاته سوی وي که په سهوه پاته سوی وي.

که څوک واجب کار په قصدي توګه پريږدي ګناه کار دئ، لمونځ ئې فاسد دئ بيرته راګرځول غواړي. د سهوي په سجده علاج نه کيږي.

که واجب کار په سهوه پاته سي د سهوي سجده باندي واجبه ده د سهوي علاج

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه سجده کېږي.

د سهوي سجده په لاندي صورتو کي لازمېږي:

۱. که د فرضو په دوو لومړيو يا يوه رکعت کي په سهوه الحمد لله ځني پاته سي، که د نفلو او وترو د ټولو رکعتو څخه په هر يوه کي پاته سي هم داسي ده.

۲. که د فرضو په دوو لومړيو رکعتو کي قرائت پاته سو په دوو وروستيو رکعتو کي ئې وو ايه هم د سهوي سجده لازمه ده.

۳. که د فرضو په دوو لومړيو رکعتو کي ئې د الحمد لله سره يو ځای سورت ونه وايه، که د نفلو او وترو د ټولو رکعتو څخه په هر يوه کي ئې سورت د الحمد لله سره ملګری نه کړ هم داسي ده.

۴. که په يوه رکعت کي دوه واره الحمد لله وو ايي د سهوي سجده لازمه ده ځکه سورت له خپله ځايه وځنډېدی.

۵. که يوه سجده وکړي وروسته ولاړ سي بل رکعت وکړي په دغه کېدونکي رکعت کي ئې دوې سجدې وکړې وروسته ئې پاته سوې سجده وکړه لمونځ سهي دئ خو د سهوي سجده واجبه ده.

۶. که په درې رکعتيزه، يا څلور رکعتيزه لمانځه کي لومړی ناسته پرېږدي فرق نه کوي که دغه پرېښوول سوې ناسته د فرضي لمانځه وي که د نفلي لمانځه وي د سهوي سجده لازمه ده، که په فرض لمانځه اوله ناسته په هېره سره پرېږدي دريم رکعت ته ولاړ سي نو لمونځ دي پوره کړي سجده سهوه دي وکړي ځکه چي واجبه ناسته ئې پرې ايښې وه.

۷. که په سهوه التحيات پاته سوه.

۸. که په وترو کي د دعا قنوت تکبير پاته سو.

۹. که تر رکوع مخکي د دعا قنوت (اللهم انا) ويل پاته سوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰. که امام په پټو لمونځو کې په زوره قرائت ووایه.

۱۱. که امام په زوره لمونځو کې کرار قرائت ووایه.

۱۲. که په لومړی ناسته کې تر التحیات زاید شی لکه درود او نور ووایي، یا د یوې سجدې په اندازه چپ کښېني. په دې ټولو صورتو کې د سهوي سجده لازمه ده.

## هغه څه چې د سهوي په سجده پورې اړه لري

د امام په سهوه سره د سهوي سجده پر امام او مقتدي دواړو لازمه ده. که مقتدي په امام پسې ولاړ وي سهوه سي د سهوي سجده نسته، که امام سلام وګرځاوه مقتدي خپل پاته رکعتونه پوره کول پکښې سهوه سو د سهوي سجده باندې سته.

که امام سهوه سو د سهوي سجده ئې کول پر مقتدي لازمه ده چې د امام پیروي وکړي. که پر سړي د سهوي سجده لازمه وه په قصدي توګه ئې پرېښوول ګناهکار دئ، لمونځ به بیرته راګرځوي.

که د سړي څخه د لمانځه ډېر واجب کارونه پاته سوه د سهوي یوه جوړه سجده کفایت کوي.

له چا څخه که لومړی ناسته په سهوه پاته سوه، که سیده درېدلی نه وو بیرته دې ناستې ته وګرځي. که ولاړی ته نژدې وو بیا دې د سهوي سجده وکړي، که ناستې ته نژدې وو سجده نسته کښېني دې.

که د سړي څخه په نفلي لمانځه کې لومړی ناسته په هېره پاته سوه بیرته دې کښېني، که څه هم ولاړ سوی وي په آخر کې دې د سهوي سجده وکړي. که د سړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه وروستۍ ناسته پاته سوه ودرېدی که ئې د دغه رکعت چي ورته ولاړ سوی دئ سجده نه وه کړې بیرته دي راوګرځي په پای کي دي د سهوي سجده وکړي.

که د سړي وروستۍ ناسته هېره سوه ولاړ سو د دغه رکعت چي پیل کړی ئې دئ سجده ئې وکړه فرضي لمونځ ئې نفل ګرځي، مناسبه ده چي بل رکعت هم ورسره یو ځای کړي په پای کي دي د سهوي سجده وکړي وروسته دي خپل فرضي لمونځ راوګرځوي.

که سړی په وروستۍ ناسته کي کښېناستی التحیات ئې وویل ده ګومان وکړ چي دا لومړۍ ناسته ده ولاړ سو بیرته دي راوګرځي التحیات دي دوهم وار نه وایي.

که یو چا په قصدي توګه د لمانځه څخه د وتلو په موخه سلام وګرځاوه د سهوي سجده باندي پاته وه تر څو په بل کار اخته سوی نه وي د سهوي سجده دي وکړي.

که یو سړي څلور رکعتیزه لمونځ کاوه ده ګومان وکړ چي لمونځ بشپړ سو سلام ئې وګرځاوه، وروسته پوه سو چي ده دوه رکعتونه کړي دي خپل لمونځ ته دي دوام ورکړي په پای کي دي د سهوي سجده وکړي.

## د سهوي سجدې د کولو ډول

پر چا چي د سهوي سجده لازمه وي کله چي په وروستۍ ناسته کي له التحیات څخه فارغه سي راسته خوا ته دي یو سلام وګرځوي بیا دي الله اکبر ووایي د لمانځه غوندي دوې سجدې دي وکړي بیا دي کښېني هرومرو دي التحیات ووایي، پر رسول ﷺ دي درود ووایي.

د ځان له پاره دي دعا وکړي بیا دي سلام وګرځوي لمونځ پای ته ورسېدی. که تر لومړي سلام مخکي د سهوي سجده وکړي، لمونځ سهي دئ خو تنزیهي مکروه دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سهوي سجده څه مهال له منځه ځي؟

۱. د جمعې په لمانځه کي چي ډېر خلک حاضر وي د سهوي سجده نسته، ځکه پر خلکو اشتباه راځي.
۲. د اختر په لمانځه کي چي ډېر خلک حاضر وي د سهوي سجده نسته.
۳. که د سهار په لمانځه کي تر سلام وروسته لمر راوختی د سهوي سجده نسته.
۴. که د مازیګر تر سلام وروسته لمر سور سو د سهوي سجده نسته.
۵. که تر لمانځه وروسته داسي شی منځته راغی چي د لمانځه سره ټکر لري لکه په سهوه خبري کول د سهوي سجده نسته، په دغه ټولو مواردو کي د لمانځه بیرته راګرځول نه دي واجب.

# په شک سره څه مهال لمونځ له منځه ځي څه مهال نه ځي؟

که سړی د لمانځه په منځ کي د رکعتو په شمېر کي شکي سي، دا لومړی وار وو چي شک ورپېښ سوی وو، لمونځ سهي نه دئ بیرته دې راوګرځوي.

که سړی تر سلام وروسته شکي سي لمونځ سهي دئ. که سړی تر سلام وروسته په یقیني توګه باور ولري چي په لمانځه کي ځیني رکعتونه پاته سوي دي که ئې تر سلام وروسته بل منافي کار نه وي کړی خپل لمانځه ته دي دوام ورکړي. که ئې منافي کار (چي د لمانځه سره ټکر ولري) تر سره کړی وي لمونځ دي له سره راوګرځوي.

که سړي ته ډېری وخت شک پېښېدی، شکي کېدل ئې عادت ګرځېدلي وه، پر خپل غالب ګومان دي عمل تر سره کړي، که غالب ګومان ونه لري بیا دي کم ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعتبار ورکړي، تر هغه رکعت وروسته دي کښېني چي دی ئې وروستی بولي. د سهوي سجده دي وکړي.

# د تلاوت د سجدې احکام

**په لاندي درو شیانو کي که یو پېښ سو د تلاوت سجده سته:**

لومړی: کله چي د سجدې ایات ولوستل سي تلاوت کوونکی که ئې واوري که نه سجده باندي لازمه ده، که د سجدې آیات یو حرف د مخکي یا وروستي کلمې سره یو ځای کړي هم سجده سته.

دوهم: کله چي د سجدې ایات واوري فرق نه کوي که ئې د اورېدلو قصد درلودی که نه سجده سته.

دریم: که سړي په هغه امام پسي اقتداء وکړه چي د تلاوت آیات ئې لوستی وي، فرق نه کوي که مقتدي ایات اورېدلی وي که نه د تلاوت سجده لازمه ده.

پر بیده، لېوني، کوچني او کافر د تلاوت سجده نسته، پر هغه ښځي هم نسته چي د حیض او نفاس په ناروغی کي وي، که مقتدي د سجدې ایات ولوستی پر مقتدي او امام دواړو سجده نسته.

که سړي د سجدې ایات له طوطي ځخه واورېدی سَجده نه لازمېږي.

که د سجدي ایات له رادیو او ټیپ ځخه واورېدل سو سجده نسته، د تلاوت سجده ځیني مهال وخت ولري په سمدستي توګه واجب نه وي، ځیني وخت په سمدستي توګه واجب وي که له لمانځه ځخه دباندي د سجدې ایات وویل سو. سمدستي سجده کول لازمه نه ده.

ځنډول ئې روا دي خو تنزیهي مکروه والی لري. که د سجدې ایات په لمانځه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي وويل سو سملاسي سجده باندي لازمه ده ځنډ به نه کوي.

د تلاوت او سجدې تر منځ به دومره وخت ځنډ نه کوي چې درې اياتونه پکښې لوستل کېدلای سي، که د سجدې او د سجدې تر منځ تر دريو اياتو د ويلو زيات وخت تېر سو نو د سملاسي حکم له منځه ځي.

که د تلاوت سجده ونه کړي فوراً رکوع ته لاړ سي او په رکوع کولو کي د سجدې نيت ولري کفايت کوي. که د تلاوت وروسته سملاسي د لمانځه سجدې ته ولاړ سي هم کفايت کوي فرق نه کوي که د تلاوت د سجدې نيت ولري که ئې ونه لري.

که د سجدې ايات په لمانځه کي ووايي يو ګړی وروسته د لمانځه رکوع يا سجدې ته ولاړ سي، د تلاوت د سجدې له پاره کفايت نه کوي. د لمانځه په جريان کي به بله سجده د تلاوت له پاره کوي.

که لمونځ پای ته ورسوي سجده ونه کړي له لمانځه د باندي به د تلاوت سجده نه کوي ځکه وخت ئې تېر سو.

که د لمانځه له پاره سلام وګرځوي په بل کار اخته سوی نه وي د تلاوت د سجدې قضا راګرځولای سي.

## هغه څه چي د تلاوت په سجده پوري اړه لري

که امام او مقتدي له هغه چا څخه د سجدې ايات واورېدی چي د دوی سره په لمانځه کي شريک نه وي دوی دي هغه مهال سجده وکړي چي لمونځ پای ته ورسوي.

که د لمانځه په منځ کي سجده وکړي سهي نه ده خو په دغه سجده سره ئې لمونځ نه فاسدېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که سړي له امام څخه د سجدې ايات واورېدی وروسته ئې په امام پسي اقتداء وکړه، امام سجدې ته تللی نه وو نوی راغلی کس دي د امام سره سجدې ته ولاړ سي.

که يو سړي له امام څخه د سجدې ايات واورېدی وروسته ئې هغه مهال اقتداء پسي وکړه چي امام په دغه رکعت کي سجده کړې وه نوی راغلی کس د سجدې رسوونکی ګڼل کېږي، بله سجده باندي نسته.

که سړي د لمانځه دباندي د سجدې ايات ووايه سجده ئې ونه کړه اوس په لمانځه کي ئې بيا هغه ايات دوهم وار تلاوت کړ، سجده ئې وکړه، دغه سجده د دواړو له پاره کفايت کوي، دا هغه مهال که ځای بدل سوی نه وي (دواړه تلاوتونه پر يوه ځای سوی وي). که يو سړي پر يوه ځای څو واره د سجدې ايات مکرر ووايه يوه سجده کفايت کوي.

که يو سړی يو وار د سجدې ايات ووايه ځای ئې بدل کړ بيا ئې ووايه دوې سجدې باندي سته. د يوې خوني کونجان د يوه ځای حکم لري، خونه که غټه وي که کوچنۍ وي حکم يو دئ.

د مسجد کونجان د يوه ځای حکم لري، مسجد که لوی وي که کوچنی وي حکم يو دئ.

که اورېدونکي ځای بدل کړ مکرري سجدې باندي لازمي دي.

که ويونکي ځای بدل کړی نه وي حکم نه بدلېږي. مکروه ده چي يو څوک هغه سورت ووايي چي د سجدې ايات پکښي سته خو د سجدې ايات پرېږدي.

که اورېدونکی د سجدې له پاره تيار نه وي ښه دا ده چي: ويونکی د سجدې ايات کرار د ځان سره ووايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د تلاوت سجدې د کولو ډول

**د تلاوت سجده دا ډول کېږي، چې:**

د دوو تکبیرونو په منځ کې دې یوه سجده وکړي.

یو الله اکبر دې هغه مهال ووایي چې تندی پر مځکه ایږدي بل الله اکبر دې د سر را پورته کولو پر مهال ووایي. د الله اکبر د ویلو پر مهال دې لاسونه نه پورته کوي، تر سجدې وروسته التحیات او سلام نسته. د تلاوت سجده یو رکن لري، چې تندی پر مځکه ایښوول دي که ناروغ وي بیا دې اشاره وکړي.

د تلاوت د سجدې له پاره دواړه الله اکبر سنت دئ.

ښه دا ده چې سړی ودرېږي بیا د تلاوت سجده وکړي د سجدې د سهي کېدو شرطونه هغه دي چې د لمانځه له پاره وو.

دومره ده چې لومړی الله اکبر د لمانځه له پاره شرط وو. د سجدې له پاره شرط نه دئ.

**د تلاوت سجده د قران شریف په څوارلسو ځایونو کې واجبېږي:**

۱. الاعراف سورت.

۲. النحل سورت.

۳. مریم سورت.

٤. الفرقان سورت.

٥. الم السجده سورت.

٦. الانشقاق سورت.

٧. الرعد سورت.

٨. الاسراء سورت.

٩. الحج سورت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰. النمل سورت.

۱۱. ص سورت.

۱۲. النجم سورت.

۱۳. حم السجدة سورت.

۱۴. العلق سورت.

# د جُمعې لمونځ

الله ﷻ ويلي دي: إِذَا نُودِىَ لِلصَّلَوٰةِ مِن يَوۡمِ ٱلۡجُمُعَةِ فَٱسۡعَوۡاْ إِلَىٰ ذِكۡرِ ٱللَّهِ وَذَرُواْ ٱلۡبَيۡعَ ذالكم خير لكم ان كنتم تعلمون [الجمعة: ۹]

ژباړه: کله چې د جمعې په ورځ د لمانځه له پاره اذان وسي د الله ﷻ يادوني ته لاړ سئ بيع پرېږدئ، دا ستاسي لپاره خير دئ که چيري تاسي پوهېږي.

رسول ﷺ ويلي دي: مَن تَوَضا فَاحسَنَ الوُضُوءَ ثُمَ اَتَي الجُمُعَةَ فَاستَمَعَ وَ اَنصَتَ غُفِرَلَهُ مَا بَينَهُ وبينَ الجُمُعَةِ و زِيَادَةِ ثَلاثَةِ ايامٍ وَمَن مَسَ الحَـــصٰى فَقَد لَغَا.

ترجمه: څوک چې ښه اودس وکړي بيا د جمعې لمانځه ته ولاړ سي خطبې ته غوږ ونيسي. چې کښېنئ د دوو جمعو تر منځ ګناه وربخښل کېږي درې ورځي نوري ورسره جمع کېږي.

او داغه رنګه رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايي: مَن تَرَکَ ثَلاَثَ جُمَعٍ تَهَاوُنَاً طَبَعَ اللهُ عَلَى قَلبِهِ.

ترجمه: رسول الله ﷺ ويلي دي: څوک چې د بې پروايۍ پر ډول درې جمعې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمونځ پر پرېږدي الله ﷻ به ئې پر زړه مهر ولګوي.

خو که څوک کوچنۍ ډبري سره واړوي دغه بخښنه ئې له لاسه ووته، ، د جمعې لمونځ دوه رکعته دئ په لوړ اواز، د جمعې لمونځ په مستقل ډول عيني فرض دئ. د ماپښين د لمانځه بدل نه دئ خو که د چا څخه د جمعې لمونځ پاته سي په عوض کي ئې د ماپښين څلور رکعته لمونځ کېږي.

## د جمعې د لمانځه د فرض کيدو شرطونه

**دلاندي شرطو د موجوديت پر مهال د جمعې لمونځ فرضيږي:**

۱. نارينه به وي پر ښځي د جمعې لمونځ نسته.

۲. ازاد به وي، پر مريي د جمعې لمونځ نسته.

۳. د ښار او د ښار د څنډو اوسېدونکی به وي، پر مسافر او کليوال د جمعې لمونځ نسته.

۴. روغ به وي پر ناروغ د جمعې لمونځ نسته.

۵. ډاډمن به وي پر هغه چا د جمعې لمونځ نسته چي د ظالم له ظلم څخه پټ وي.

۶. ليدونکی به وي پر ړانده د جمعې لمونځ نسته.

۷. د تللو وس به لري پر هغه چا د جمعې لمونځ نسته چي پر پښو نه سي تللای.

پر هغو کسانو چي د جمعې لمونځ فرض نه وي که ئې ادا کړي لمونځ ئې سهي دئ د ماپښين لمونځ ئې له ذمې اوړي، بلکي د دوی له پاره د جمعې لمونځ مستحب دئ. ښځه دي د ماپښين لمونځ په کور کي ادا کړي ځکه جماعت ته وتلای نه سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جمعې د لمانځه د سهي کېدو شرطونه

**د جمعې لمونځ هغه مهال فرضیږي چي لاندي شرطونه موجود سي:**

۱. ښار یا د ښار څنډي به وي، په کلیو کي د جمعې لمونځ نسته. روا ده چي په یوه ښار او د ښار په څنډو کي ډېر ځایونه د جمعې لمونځ اداسي.

۲. د جمعې لمانځه ته به پاچا یا د ده نایب حاضر سوی وي.

۳. د جمعې لمونځ به د ماپښین په وخت کي وي مخکي او وروسته روا نه دئ.

۴. خطبه، د ماپښین په وخت کي به تر لمانځه مخکي خطبه ویل سوې وي، د خطبې اورېدو له پاره به کم تر کمه دومره کسان موجود وي چي د جمعې لمانځه له پاره ضروري دي.

۵. عامه اجازه به موجوده وي هر څوک به د ورتلو اجازه لري په هغه سرای کي د جمعې لمونځ روا نه دئ چي دروازه ئې قلف سوې وي.

۶. د جمعې لمونځ به په جماعت سره ادا سوی وي، په انفرادي ډول روا نه دئ کم تر کمه به له امامه چپه دري کسان موجود وي. که مسافر یا ناروغ د جمعې د لمانځه امامت وکړي سهي دئ.

# د خطبې سنتونه

**لاندي کارونه په خطبه کي سنت دي:**

۱. خطبه ویونکی به له مرداری او بې اودسی څخه پاک وي.

۲. د خطبه ویونکي عورت به پټ وي.

۳. تر خطبې مخکي به یو وار خطیب پر منبر کښېني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴. موذن به د خطیب په مخکې اذان کوي.

۵. خطبه به په ولاړه وايي.

٦. د خطبې په پيل کې به د الله ﷻ حمد وايي.

۷. د الله ﷻ ستاينه به په هغه ډول کوي چې الله ﷻ ئې وړ دئ.

۸. په خطبه کې به دوه شهادته (اشهد ان لااله الا الله - او - اشهد ان محمداً عبده ورسوله) وايي.

۹. په خطبه کې به درود وايي.

۱۰. په خطبه کې به د وعظ خبرې کوي کم تر کمه يو ايات دي پکښې ووايي.

۱۱. د دوو خطبو په منځ کې به يو وار سپکه ناسته کوي.

۱۲. د دوهمې خطبې په پيل کې به هم حمد او ثنا وايي پر پيغمبر ﷺ به درود وايي.

۱۳. په دوهمه خطبه کې به د مومنانو له پاره دعا کوي.

۱۴. خطبه به په لوړ آواز وايي تر څو ناست خلک ئې واوري.

۱۵. خطبه دې ډېره نه اوږدوي د طوال المفصل سورت په اندازه دې خطبه اوږده کړي.

# هغه څه چې د جمعې په لمانځه پورې اړه لري

تر لومړي آذان وروسته به بيع پرېږدي د جمعې لمانځه ته به ځي، کله چې خطيب د خطبې له پاره راووزي بيا لمونځ او خبري او د سلام جواب ورکول روا نه دي، همدا ډول تريځي كوونكي ته يرحمك الله نه سي ويل كېدلاى.

خطيب ته مكروه ده چې خطبه اوږده كړي.

خطيب ته مكروه ده چې د خطبې يو سنت پرېږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم څوک چې د خطبې اورېدو ته حاضر سوی وي، خوراک، څښاک، شا وخوا کتل ورته مکروه دي. خطیب چې منبر ته پورته سي ناستو خلکو ته دي سلام نه وايي.

څوک چې د التحیات پر مهال یا ئې د سهوي د سجدې پر مهال لمانځه ته حاضر سي، د جمعې لمونځ ئې رسولی دئ دوه رکعتونه دي پوره کړي.

معذوره او بندیانو ته مکروه ده چې د جمعې په ورځ په ښار کي د ماپښین لمونځ په جماعت ادا کړي.

# د اخترونو احکام

ابو داود په خپل کتاب کي د انس ﷺ حدیث را نقل دئ. انس ﷺ وویل:

عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِيْنَةَ وَلَهُمْ يَوْمَانِ يَلْعَبُوْنَ فِيْهِمَا فَقَالَ مَا هٰذَانِ الْيَوْمَانِ ؟ قَالُوْا كُنَّا نَلْعَبُ فِيْهِمَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أَبْدَلَكُمُ اللهُ بِهِمَا خَيْرًا مِّنْهُمَا يَوْمَ الْأَضْحٰى وَيَوْمَ الْفِطْرِ .

رسول عليه السلام مدینې منورې ته راغی د مدینې اوسېدونکو دوې ورځي درلودې په دغه ورځو کي دوی لوبي کولې.

رسول عليه السلام وویل: دا دوې څنګه ورځي دي؟

د مدینې اوسېدونکو ورته وویل: په دغو ورځو کي موږ د جاهلیت په زمانه کي لوبي کولې.

رسول عليه السلام ورته وویل: الله جل جلاله تاسي ته د دې ورځو په بدل کي دوې نوري ګټوري ورځي درکړي دي یوه د کوچني اختر بله د لوی اختر ورځي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوو اخترو لمونځونه واجب دي، د اختر لمونځ دوه رکعتونه دي، قرائت پکښي په زوره ویل کېږي، هغه مهال ادا کېږي چي لمر یوه نیزه راپورته سي، د اختر په لمانځه کي تکبیرونه سته د زاید تکبیرونو په نوم یادېږي، درې تکبیرونه په لومړي رکعت کي تر سبحانک اللهم وروسته ویل کېږي، درې تکبیرونه په دوهم رکعت کي تر رکوع مخکي ویل کېږي تر لمانځه وروسته خطبه ویل کېږي.

# د اختر لمونځ پر چا واجب دئ؟

د اختر لمونځ پر هغه چا واجب دئ چي د جمعې لمونځ باندي فرض وي. نو په دې ډول د اختر لمونځ پر روغ نارینه چي آزاد وي، مقیم وي، په سترګو لیدلای سي، د خطر ېېره ورسره نه وي د تللو وس ولري واجب دئ. پر ښځه، ناروغ، مریي، مسافر، ړانده او ېېرېدونکي باندي د اختر لمونځ نسته، همدا ډول که څوک د تللو وس ونه لري د اختر لمونځ باندي نسته.

پر کومو کسانو چي د اختر لمونځ نه وي که ئې ادا کړ لمونځ ئې روا دئ.

# د اختر د لمانځه د روا کېدو شرطونه

**د اختر لمونځ هغه مهال روا کېږي چي لاندي شرطونه پوره وي:**

۱. سړی په ښار او د ښار په شاوخوا کي وي.

۲. پاچا یا د پاچا ځایناستی به حاضر وي.

۳. عامه اجازه به وي (یعني عام او خاص به کولای سي چي د اختر په لمانځه کي ګډون وکړي).

۴. لمونځ به په جماعت سره وي . د جماعت له پاره کفایت کوي چي د امام سره یو بل سړی جوړه سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵. لمونځ په خپل وخت کي وي، د اختر د لمانځه وخت هغه مهال پيلېږي چي لمر يوه نېزه راپورته سي، د زوال تر وخته دوام کوي، د اختر لمونځ بې له خطبې روا دئ خو مکروه دئ. که خطبه تر لمانځه مخکي وويل سي لمونځ روا دئ خو مکروه دئ.

# د کوچني اختر دورځي غوره کارونه

**د کوچني اختر په ورځ لاندي کارونه مستحب (غوره) دي:**

۱. د ورځي په سباوون (سپېدو) کي دي له خوبه ويښ سي.

۲. د سهار لمونځ دي د کلي په مسجد کي ادا کړي.

۳. مسواک دي ووهي.

۴. غسل دي وکړي.

۵. په خپلو کاليو کي دي تر ټولو ښه کالي واغوندي.

٦. خوشبويي (عطر) دي استعمال کړي.

۷. عيدګاه ته تر تلو مخکي دي خوراک وکړي.

۸. که سرسايه باندي واجبه وي عيدګاه ته تر تلو مخکي دي سرسايه ادا کړي.

۹. د خپل وس سره سم دي نور خيراتونه وکړي.

۱۰.خوښي دي ښکاره کړي، په غوړېدلي مخ دي د خلکو سره ملاقاتونه وکړي.

۱۱.عيدګاه ته دي پلي (پياده) ولاړ سي، په ټيټ ږغ دي الله اکبر وايي. کله چي عيدګاه ته ورسېدی الله اکبر دي پرېږدي.

۱۲. له عيدګاه څخه دي پر دوهمه لاره راسي، د اختر تر لمانځه مخکي په خپل کور او عيدګاه کي نفلي لمونځ کول مکروه دي. کله چي د اختر لمونځ ادا سي په عيدګاه کي نفلي لمونځ مکروه دئ په کور کي مکروه نه دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اختر د لمانځه د ادا کولو ډول

:

کله چي ته وغواړې چي د اختر لمونځ ادا کړې، د امام سره ودرېږه د اختر د لمانځه نیت وکړه. د امام د متابعت نیت وکړه. لومړی الله اکبر (تحریمه الله اکبر) ووایه، بیا سبحانک اللهم ووایه، بیا د امام سره یو ځای درې واره الله اکبر ووایه.

د هر وار الله اکبر سره لاسونه تر غوږونو پوري پورته کړه، بیا چپ سه، امام اعوذبالله او بسم الله قرار (پټ) وایي وروسته په لوړ ږغ الحمد لله (فاتحه سورت) او یو بل سورت وایي.

ښه دا ده چي امام په لومړي رکعت کي سورت الاعلی ووایي. بیا د امام سره یو ځای رکوع او سجده وکړه، د اختر د لمانځه رکوع او سجده له نورو څخه فرق نه کوي.

کله چي د امام سره یو ځای دوهم رکعت ته پورته سوې، ته چپ سه، امام په کښته اواز بسم الله وایي بیا په لوړ آواز فاتحه سورت او یو بل سورت وایي، ښه دا ده چي امام په دوهم رکعت کي سورة الغاشیه ووایي، کله چي امام له قرائت څخه فارغه سي امام الله اکبر وایي، ته هم الله اکبر ووایه، لاسونه تر غوږو پوري پورته کړه، امام درې واره الله اکبر وایي ته ئې هم ورسره ووایه، هر وار لاسونه تر غوږو پوري پورته کوه، رکوع او سجده وکړه دا لمونځ لکه نور ورځني لمونځونه پوره کړه. کله چي امام له لمانځه څخه فارغه سي امام دوې خطبې وایي.

په دغه خطبو کي دي خلکو ته د کوچني اختر احکام وښيي، په دوهم رکعت کي که زائد تکبیرونه تر قرائت مخکي وویل سوه، لمونځ روا دئ، خو ښه دا ده چي قرائت تر تکبیرونو مخکي سي. که عذر موجود وي روا ده چي د اختر لمونځ دوهمي ورځي ته وځنډوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د یو چا څخه د اختر لمونځ قضا سي د امام سره یو ځای ئې ادا نه کړ قضا باندي نسته، ځکه د اختر لمونځ بې له جماعته روا نه دئ.

## د لوی اختر دورځي احکام

د لوی اختر د ورځي احکام د کوچني اختر د ورځي غوندي دي. د لوی اختر لمونځ د کوچني اختر غوندي ادا کېږي، خو ښه دا ده چي د لوی اختر په ورځ دي خوراک د اختر تر لمانځه وروسته وکړي او پر لاري دي په لوړ آواز الله اکبر وايي او خطیب دي د لوی اختر په خطبه کي د اختري (قرباني) او د تشریق د تکبیرونو په هکله خلکو ته ښوونه وکړي.

که عذر موجود وي روا ده چي د لوی اختر لمونځ دوهمي او دریمي ورځي ته وځنډوي.

واجبه ده چي د عرفات د ورځي د سهار تر لمانځه وروسته یو ځلي تشریق تکبیرونه ووايي، بیا دي تر هر فرضي لمانځه وروسته دغه تکبیرونه د اختر د څلورمي ورځي د مازیګر تر لمانځه پوري په پرله پسې توګه ووايي، فرق نه کوي که سړي په جماعت لمونځ ادا کړی وي که په یوازي توګه، مسافر وي که مقیم وي، نارینه وي که ښځینه وي کلیوال وي که ښاري وي، د ټولو له پاره دغه تکبیرونه واجب دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لمر او سپوږمۍ د تورېدو لمونځونه

بخاري له ابوبکر الصدیق رضی الله عنه څخه روایت کړی دئ چي: خسفت الشمس علي عهد رسول الله فخرج یجر رداءه حتي انتهي الي المسجد وثاب الناس الیه فصلي بهم رکعتین فانجلت الشمس فقال ان الشمس والقمر آیتان من ایات الله و انهما لا یخسفان لموت احد و لا لحیاته ولکن یخوف الله بهما عباده فاذا کان ذالک فصلوا حتي ینکشف ما بکم.

د رسول علیه السلام په زمانه کي لمر ترنځي ونیاوه (تور سو). رسول علیه السلام راووتي دو بته ئې پسي کشېدله (پتهو)، تر څو مسجد ته ننوتی خلک هم باندي راټول سول. رسول علیه السلام د دوی سره دوه رکعته لمونځ وکړ، لمر روښانه سو.

رسول علیه السلام وویل: لمر او سپوږمۍ د الله د قدرت نخښي دي، د چا د مړیني په وجه نه تورېږي، د چا د زېږېدو په وجه نه تورېږي، بلکي الله جل جلاله د دوی په واسطه خپل بندګان بېروي، کله چي دا ډول پېښه وسي تر هغه لمونځ کوئ چي دوی روښانه کېږي.

کله چي لمر ترنځه ونیسي سنت ده چي دوه یا څلور رکعته لمونځ په جماعت ادا سي.

د لمر د تورېدو له امله جماعت موکد سنت دئ. د سپوږمۍ د تورېدو له امله جماعت سنت نه دئ. بلکي هر سړی دي جلا جلا لمونځ وکړي. د لمر د تورېدو لمانځه له پاره اذان، اقامت او خطبه نسته، بلکي یوازي دي دومره ووایي: الصلوة جامعة، لمونځ کېدونکی دئ.

د امام له پاره سنت دي چي قرائت، رکوع او سجده د لمر د تورېدو د لمانځه پر مهال اوږد کړي. که امام وبېرېدی (چي پر خلکو به درونډ سي) نو اوږده دعا دي وکړي، ناست خلک دي امین ووایي، تر څو په دې ډول لمر روښانه سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د استسقاء لمونځ

روي ابو داود في سُنَنِهِ عن عَبدِالله بنِ عَباسٍ ان النبِي صَلي فِي الاِستِسقَاءِ رَكعَتَينِ كَصَلاةِ العِيدِ.

ابو داود له عبدالله بن عباس ﷺ څخه روایت کړی دئ، چي: رسول ﷺ د استسقاء لمونځ د اختر د لمانځه غوندي دوه رکعته وکړ.

استسقاء دا ده چي بندګان له الله ﷻ څخه د سختي اړتیا پر مهال اوبه (باران) وغواړي.

ثابته ده چي رسول ﷺ استسقاء کړې ده، په استسقاء کي ئې دعا وکړه، د امام اعظم رحمة الله علیه پر مسلک د استسقاء لمونځ په جماعت نه ادا کېږي.

یاران (امام ابو یوسف رحمة الله علیه او امام محمد رحمة الله علیه) وایي امام دي خلکو ته دوه رکعته لمونځ په جماعت ادا کړي، قرائت دي په زوره پکښي ووایي، تر لمانځه وروسته دي دوې خطبې ووایي، ښه خبره دا ده چي له ابادو کورو څخه دباندي دري ورځي مسلسل د استسقاء لپاره ووځي.

ښه دا ده چي خلک پیاده، په زړو کالیو کي چي پینې ولري په ډېري عاجزۍ په کښته سرونو ووزي.

ښه دا ده چي هره ورځ مخکي تر وتلو خیرات وکړي، ښه دا ده چي خلک روژې ونیسي. استغفار دي ډېر وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه دا ده چې خلک د ځانو سره حیوانان، بوډاګان او کوچنیان وباسي. امام دې د دعا پر مهال مخ د قبلې خوا ته کوي. لاسونه دې پورته کوي. مقتدیان دې په ناسته امین وو ایي، مخونه به ئې د قبلې لورې ته وي.

امام به په خپله دعا کې دا الفاظ وایي:

اللهُمَ اسقِنَا، غَيثاً مُغِيثاً نَافِعاً غَيرَضَارِ، عَاجِلاً غيرَ اَجِلِ، اللهم اسقِ عِبَادَكَ و بَهَائِمَكَ وَانشُر رَحمَتَكَ وآحيِ بَلَدَكَ المَيتَ. اللهُمَ انتَ اللهُ لااِلٰه اِلاَ انتَ الغَنِيُ و نَحنُ الفُقَرَاءُ انزِل عَلَينا الغَيثَ وَ اجعَل ما انزَلتَ لَنَا قُوَةً وَ بَلاَغاً اِلٰى حِينِ.

ژباړه: اې الله! موږ په باران اوبه کړه، په ګټور باران چې ضررمن نه وي. سملاسي وي، وخت پکښې نه وي.

اې الله خپل بندګان او حیوانان اوبه کړه، خپل رحمت وغوړوه، خپل مړ ښار ژوندی کړه.

اې الله! ته الله یې له تا چپه بل معبود نسته، ته غني یې موږ اړمن یو. پر موږ باران واوروه، په اورېدلي باران موږ ته قوت راکړه، موږ تر وخت پورې ورسوه. آمین.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جنازې کتاب

**څوک چې مري باید څه ورسره وسي؟**

رسول ﷺ ویلي دي: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ آخِرُ كَلَامِهِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ . رواه ابوداؤد

د چا چې وروستۍ خبره لا اله الا الله وي جنت ته به ولاړ سي.

پر کوم چا چې د مرګ نخښې ښکاره سي، سنت کار دئ چې پر راسته اړخ ئې پرې باسي، مخ ئې د قبلې لوري ته کړي، دا هم روا ده چې پر شا ئې پرې باسي، پښې ئې د قبلې لوري ته وغوړوي، سر دې لږ پورته کړي، تر څو مخ ئې د قبلې خوا ته سي.

پر کوم چا چې د مرګ نخښې ښکاره سي، ښه دا ده چې دوې د شهادت کلمې ورته وښودل سي، د ده په مخ کي وویل سي، د ښوونې ډول ئې دا دئ چې:

کلمې په داسي ډول ورته وویل سي چې مړ کېدونکی کس ئې واوري. د ویلو امر دې نه ورته کوي، ځکه داسي نه چې مړ کېدونکی کس ووايي: نه ئې وایم چې بیا بد ګوماني منځته راسي. کوم څوک چې د ژوند په اخیرو شیبو کي وي باید هغه کسان ورته را حاضر کړل سي کوم چې پر ده ګران وو او مینه ئې ورسره درلوده.

ښه دا ده چې د ده په وړاندې یسین سورت وویل سي، په حدیث کي راغلي دي چې د هر ناروغ په مخ کي چې یسین سورت ولوستل سي، هرومرو به او به سوی مړ

(c) ketabton.com: The Digital Library


سي (تېرى به نه وي). او به سوى به په قبر كي داخل سي. د قيامت په ورځ به او به سوى را پورته سي.

## تر غسل مخكي به په مړي څه كوي؟

كله چي سړى مړ سي ښه دا ده چي زامي ئې وتړل سي.

د تړلو ډول ئې دا دئ چي په يوه رښكى دي زامي د سر خوا ته وتړل سي، ستركي دي پټي كړل سي.

**څوك چي د ده ستركي پټوي دا الفاظ دي ووايي:**

بِسمِ اللهِ و عَلٰى مِلَةِ رَسُولِ اللهِ، اللهُم يَسِر عَلَيهِ اَمرَهُ، و سَهِل عَلَيهِ مابَعده واَسعِده بِلقَاءِكَ واجعَل مَاخَرجَ الَيهِ خَيراً مِما خَرَجَ مِنه.

ژباړه: د الله په نوم، د رسول ﷺ پر دين، اې الله! د ده كار اسانه كړه، ده ته وروستى پېښي اسانه كړه. ده ته ستا د ليدو نېكمرغي ور په برخه كړه. ده ته تر هغه ځاى چي دى ځني راغلى دئ هغه ځاى ګټور كړه چي دى ورته راغلى دئ.

پر نس دې دروند شى كښېښوول سي تر څو ونه پړسېږي.

لاسونه دې د اړخو سره اوږده كښېښوول سي، پر سينه دې لاسونه نه وراېږدي.

تر غسل وركولو مخكي د ده په وړاندي د قرآن لوستل مكروه دي، دا هغه مهال كه لوستونكى مړي ته نژدې ناست وي، كه ليري وي بيا پروا نه لري.

ښه دا ده چي خلك د ده په مړيني خبر كړل سي.

ښه دا ده چي د ښخولو، كفن او غسل وركولو كار ئې ژر وكړل سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مړي ته د غسل ورکولو حکم

مړي ته غسل ورکول پر ژوندیو خلکو کفایي فرض دئ.

کله چي ځيني کسان غسل ورکړي د پاته خلکو ذمه فارغه ده. که هيچا غسل ور نه کړ، ټوله ګناه کاره دي د لاندي شرطو پر مهال غسل ورکول فرض دئ:

۱. مړی به مسلمان وي، کافر ته غسل ورکول فرض نه دئ.

۲. دا چي د مړي سر او د بدن نيمي يا له نيمي زياته حصه به له منځه نه وي تللې.

۳. مړی به داسي وژل سوی کس نه وي چي د کلمې د لوړوالي له پاره وژل سوی وي. ځکه دغه ډول شهيد ته غسل نه ورکول کېږي. بلکي د خپلو وينو او کاليو سره يو ځای دفن کېږي.

۴. مړی به داسي يوه ټوټه زېږول سوې غوښه نه وي چي بدني جوړښت ئې پوره نه وي. که ماشوم ژوندی وزېږېدی او ازئې واورېدل سو، يا ئې حرکت وليدل سو غسل ورکول ئې واجب دي. د حمل موده که ئې پوره وي که نه وي فرق نه کوي. که ماشوم مړ وزېږېدی بدني جوړښت ئې پوره وي غسل ورکول کېږي.

# د غسل ورکولو ډول

مړی پر هغه تخته اېښوول کېږي، چي درې واره خوشبويي پر کارول سوې وي. عورت ئې له نو (نامه) څخه تر زنګانه پوري پټېږي، بيا ئې کالي ايستل کېږي. بيا د لمانځه غوندي اودس ورکول کېږي. دو مره چي خوله او پزه ئې نه پرېول کېږي، بلکي خوله او پزه ئې په لانده ټوکر مسح کېږي. وروسته هغه اوبه پر اچول کېږي چي طبعي بوټي او ګلان پکښې اچول سوي وي.

که طبعي بوټي او ګلان نه وي په خالصو اوبو غسل ورکول کېږي. د مړي سر

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ږيره دي په خطمي او صابون پرېولي، بيا دي مړی پر چپه اړخ پرېباسي او به دي باندي واچوي، دومره اوبه چي لاندي برخي ته ئې ورسېږي، بيا دي په راسته اړخ پرېباسي دومره اوبه دي باندي واچوي چي لاندي برخي ته ئې ورسېږي.

بيا دي راپورته کړي پر نس دې کرار لاس تېر کړي که څه شي ووتی هغه دي پرېولي غسل دي له سره نه راګرځوي، بيا دي په يوه ټوټه ټوکر کي وپېچي، پر ږيره او سر دي خوشبويي استعمال کړي. د سجدې پر غړو دې کافور وکاروي. د مړي نوکان او وربښتان دي نه پرې کوي، د مړي وربښتان او ږيره دي نه ږمونځوي، که سړی پيدا نه سو ښځه خپل مېړه ته غسل ورکولای سي، که ښځه پيدا نه سوه سړی خپلي مېرمني ته غسل نه سي ورکولای، بلکي په ټوکر کي دې وپېچي. سړي ته روا ده چي کوچني هلک او نجلۍ ته غسل ورکړي، ښځي ته روا ده چي کوچني هلک او نجلۍ ته غسل ورکړي.

## مړي ته د کفن ورکولو احکام

پر مسلمانانو کفايي فرض د چي مړي ته کفن ورکړي که ځينو کسانو کفن ورکړ د ټولو ذمه فارغه ده. که هيچا ور نه کړ ټوله ګناهکار دي. د کفن کمه اندازه چي مړي ته د هغه په ورکولو سره د مسلمانانو له ذمې څخه کفايي فرض اوړي، هغه ده چي د مړي ټول بدن پټ کړي. د مړي کفن د ده له خپل هغه سوچه مال څخه ورکول کېږي چي د بل چا حق اړه پوري ونه لري.

که مړي مال نه درلودی کفن ئې پر هغه چا لازم دئ چي د ده نفقه باندي لازمه وي. که مړي داسي څوک نه درلودی چي د ده نفقه باندي لازمه وي بيا له بيت المال څخه کفن ورکول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که مسلمانانو بیت المال نه درلودی، یا بیت المال موجود وو خو هغه ته رسېدنه ممکنه نه وه بیا پر هغه مسلمانانو کفن ورکول لازم دي چي وس ئې ولري.

# د کِفن ډولونه

**د کفن له پاره درې ډولونه دي:**

۱. سنت کفن

۲. کفايي کفن

۳. اړين کفن

سنت کفن د نارينه وو له پاره يو قميص، بل لنګ، بله دوپټه ده. د نارينه له پاره کفايي کفن يو لنګ بله دوپټه ده، تر دې کموالی مکروه دئ.

د نارينه له پاره اړين کفن هغه ټوټه ټوکر دئ چي په سملاسي توګه موجود وي فرق نه کوي که يوازې شرم ځای (عورت) پټ کړي. ښه دا ده چي کفن له سپين پنبي ټوکر څخه وي لنګ به د سر له کله ګي څخه تر پښو (قدمو) پورې وي، دوپټه به تر لنګ يو شرعي ګز اوږد وي، قميص به له غاړې څخه تر قدمو پورې وي، قميص به لستوڼي نه لري.

# نارينه ته د کفن ورکولو ډول

نارينه ته د کفن ورکولو ډول دا دئ چي لومړی لفافه هواره کړل سي، وروسته لنګ باندې وغوړول سي، وروسته قميص باندې کښېښوول سي بيا مړی باندې پرېباسي قميص باندې واغوستل سي بيا د لنګ چپه خوا باندې راواړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا دي لنګ د راسته خوا باندي راواړوي، وروسته دوپټه له چپې خوا باندي واچول سي وروسته د راستې خوا څخه باندي واچول سي، د کفن سر او پای وتړل سي تر څو له مړي څخه جلا نه سي.

د ښځي له پاره سنت کفن لنګ، دوپټه، پوړنی، یو ټوټه ټوکر دئ. د ښځي له پاره کفايي کفن یو لنګ، یوه دوپټه، بل پوړنی دئ. اړين کفن د ښځي له پاره دا دئ چي: موجود ټوکر ورکړل سي، ښه دا ده چي ټوکر له سینې څخه تر ورنو پوري اوږد وي. روا ده چي دغه ټوکر له سینې څخه تر نامه پوري وي.

## ښځي ته د کفن ورکولو ډول

ښځي ته د کفن ورکولو ډول دا دئ چي لومړی دوپټه بیا لنګ وروسته قمیص وغوړول سي قمیص په واغوستل سي، ورېښتان دوې کوڅې سي پر قمیص سربېره پر سينه کښېښوول سي، وروسته پوړنی پر سر کښېښوول سي، پوړنی دې پر سر نه ورپيچي، نه دې غوټه کوي.

بیا لنګ له چپې خوا باندي راواړوي، وروسته دې له راسته خوا څخه باندي راواړوي. بیا دې سینه د ټوکر په ټاکلي ټوټې وتړي بیا دي دوپټه باندي راواړوي.

## د جنازې د لمانځه احکام

مړي ته لمونځ ورکول پر مسلمانانو کفايي فرض دئ. که ځینو کسانو د جنازې لمونځ ورکړ د پاتو ذمه فارغه ده، که ټولو ورنه کړ ټوله ګناهکاره دي.

پر هغه چا د جنازې لمونځ واجب دئ چي فرضي لمونځ باندي فرض وي، خو د

مړي په مړيني به خبر وي، که خبر نه وي باندي واجب نه دئ. د جنازې په لمانځه کي دوه رکنونه (داخلي فرضونه) سته:

لومړی: څلور واره الله اکبر ويل. هر الله اکبر د يوه رکعت حکم لري.

دوهم: ولاړه، بې له عذره د جنازې لمونځ په ناسته روا نه دئ.

# د جنازې د لمانځه شرطونه

**د جنازې لمونځ هغه مهال روا دئ چي لاندي شرطونه موجود وي:**

۱. مړی به مسلمان وي، کافر ته د جنازې لمونځ نه ورکول کېږي.

۲. مړی به پاک وي حکمي او حقيقي مرداري به باندي نه وي، تر غسل ورکولو مخکي لمونځ نه ورکول کېږي.

۳. مړی به حاضر وي، غايب ته د جنازې لمونځ نه ورکول کېږي.

۴. مړی به د لمونځ کوونکو د مخ خوا ته وي که شا ته پروت وي لمونځ سهي نه دئ.

۵. مړی به پر مځکه پروت وي، که مړی پر هغه کټ پروت وي چي کټ پر مځکه ولاړ وي هم لمونځ روا دئ. خو هغه مهال روا نه دئ چي پر حيوان بار وي، يا د خلکو پر اوږو پروت وي. که د يو عذر له امله پر حيوان يا د خلکو پر اوږو پروت وي بيا روا دئ.

# د جنازې د لمانځه سنتونه

**د جنازې په لمانځه کي لاندي کارونه سنت دي:**

۱. امام به د مړي د سينې پر برابري درېږي. مړی که نر وي که ښځه وي فرق نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲. تر لومړي الله اکبر وروسته سبحانک اللهم ویل کېږي.
۳. تر دوهم الله اکبر وروسته درود ویل کېږي.
٤. تر دریم الله اکبر وروسته مړي ته دعا کېږي.

**که مړی لوی نارینه یا ښځینه وي داسي دعا ئې کوي:**

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا، وَشَاهِدِنَا، وَغَائِبِنَا وَصَغِيْرِنَا وَكَبِيْرِنَا، وَذَكَرِنَا وَأُنْثَانَا. اَللّٰهُمَّ مَنْ أَحْيَيْتَهُ مِنَّا فَأَحْيِهِ عَلَى الْإِسْلَامِ، وَمَنْ تَوَفَّيْتَهُ مِنَّا فَتَوَفَّهُ عَلَى الْإِيْمَانِ.

ژباړه: اې الله، زموږ مړي او ژوندي وبخښه، زموږ حاضر او غایب وبخښه، زموږ لوی او کوچنیان وبخښه.

زموږ نر او ښځه وبخښه، اې الله په موږ کي چي څوک ژېږي پر اسلام ئې وژېږوه، په موږ کي چي څوک مري پر ایمان ئې مړ کړه.

**که مړی کوچنی وي بیا داسي دعا ویل کېږي:**

اللهم اجعله لنا فرطاً واجعله لنا اجراً و ذخراً واجعله لنا شافعاً مشفعاً.

اې الله! دی زموږ له پاره مخکښه وګرځوه، دی زموږ له پاره اجر او ذخیره وګرځوه، دی زموږ شفاعت کوونکی وګرځوه، او شفاعت ئې ومنه.

**که نجلۍ مړه وي دا دعا کېږي:**

اللهمَ اجعَله لَناَ فَرَطاً واجعَلهِا لَنا اجراً و ذُخراً وَاجعَلها لنا شافِعةً و مُشَفَعةً.

تر څلرم الله اکبر وروسته دي سلام وګرځوي د اول تکبیر ماسوا په نورو تکبیرونو کي دي لاسونه نه پورته کوي، لمونځ دي پای ته ورسوي، ښه دا ده چي لمونځ کوونکي دري صفونه، یا پنځه یا اووه او داسي نور طاق صفونه جوړ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هغه څه چي د جنازې په لمانځه پوري اړه لري

که د مړي خپلوان (ولي) د جنازې لمونځ ورکړي بیرته نه راګرځول کېږي. که مړی بې له لمانځه دفن سو (ښخ کړل سو) د جنازې لمونځ قبر ته ورکول کېږي، دا هغه مهال که مړی پړسېدلی نه وي که په یو وار ډېري جنازې حاضري سوې، ښه دا ده چي هریوه ته جلا لمونځ ورکول سي.

دا هم روا ده چي ټولو ته په یو وار لمونځ ورکول سي، که امام ټولو جنازو ته په یو وار لمونځ ورکاوه، مړي دي د مخ په خوا کي په اوږد صف کي کښېږدي لومړی دي د نارینه وو بیا دي د کوچنیانو وروسته دي د ښځو جنازې کښېښوول سي.

کوم کوچنی چي د زېږون پر مهال ژوندی وي (وروسته مړ سي) نوم پر ایښوول کېږي، لمونځ ورکول کېږي. که د زېږون پر مهال ژوندی نه وي، نوم نه پر ایښوول کېږي، لمونځ نه ورکول کېږي.

بلکي غسل ورکول کېږي په یوه ټوټه ټوکر کي پېچل کېږي فن کېږي، بې له عذره مړي ته په هغه مسجد کي لمونځ ورکول مکروه دي چي جماعت پکښې کیږي. که د عذر له امله وي پروا نه لري.

که سړي امام د دوو تکبیرونو تر منځ ورساوه، انتظار دي وکړي، کله چي امام بل تکبیر ووایه راغلی کس دي لمونځ ورسره پیل کړي، په پای کي دي تېر سوي تکبیرونه او نور راوګرځوي، خو دغه تېر سوي شیان به د جنازې تر پورته کېدو مخکي راګرځوي، که سړي امام تر لومړي الله اکبر وروسته ورساوه، په لمانځه دي پیل وکړي، دوهم تکبیر ته دي انتظار نه کوي، که سړی د جنازې لمانځه ته هغه مهال حاضر سو چي څلور تکبیرونه تېر سوي وه، سلام پاته وو، د جنازې لمونځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځني تېر دئ برخه دي پکښې نه اخلي.

څوک چي ځان ووژني غسل ورکول کېږي لمونځ ورکول کېږي، هغه چا ته لمونځ نه ورکول کېږي چي په قومي شخړو کي وژل سوي وي، یا ئې خپل مور او پلار په ظلم وژلي وي، یا ئې لار نیولې وي د لار نیولو پر مهال ووژل سي.

# د جنازې د لمانځه ډول

د جنازې د لمانځه ډول دا دئ چي امام دي د مړي د سینې پر برابري ودرېږي، مقتدیان دي تر شا صف جوړ کړي هر یو دي د جنازې د فرضي لمانځه نیت وکړي او دا چي دا لمونځ د الله له پاره دئ مقتدی دي د دې نیت تر څنګ د امام د متابعت نیت هم وکړي.

بیا دي لاسونه پورته کړي لومړی الله اکبر دي ووایي، وروسته دي سبحانک اللهم ووایي. بیا دي دوهم الله اکبر ووایي، لاسونه دي نه پورته کوي، درود دي ووایي، بیا دي دریم الله اکبر ووایي، لاسونه دي نه پورته کوي، مړي او مسلمانانو ته دي دعا وکړي، بیا دي څلورم الله اکبر ووایي لاسونه دي نه پورته کوي سلام دي وګرځوي، یو وار دي راسته بیا چپه خوا ته سلام وګرځوي، امام دي الله اکبرونه په لوړ آواز وایي، نور شیان (سبحانک اللهم، درود، مړي ته دعا) دي کرار وایي، مقتدیان دي ټول الفاظ کرار وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جنازې د وړلو احکام

پر مسلمانانو کفايي فرض ده چي مړی تر قبر پوري ورسوي، د مړي وړل عبادت دي. هر مسلمان بايد تلوار وکړي چي د مړي په وړلو کي ونډه واخلي، رسول ﷺ د سعد بن معاذ رضي الله عنه د جنازې په وړلو کي برخه واخيسته. سنت دا دئ چي جنازه څلور کسه يوسي. د جنازې د هر وړونکي له پاره سنت دي چي څلوېښت ګامه جنازه يوسي.

ښه دا ده چي جنازه دومره چابکه يووړل سي چي مړی له ځايه بې ځايه نه سي.

ښه دا ده چي د جنازې تر شا سړی روان وي، مکروه ده چي د جنازې تر ايښوولو مخکي سړی کښېني.

# د مړي د ښخولو احکام

سنت دي چي کم تر کم قبر د نيم قامت (کت) په اندازه ژور وکيندل سي، که تر نيم قامت زيات ژور وي ډېر ښه دئ، ښه دا ده چي قبر ته لحد ورکول سي يوازي هغه مهال په منځ کي لحد غوندي کيندنه کېږي چي مځکه سسته وي، مړی د قبلې له لوري قبر ته کښته کېږي.

څوک چي مړی قبر ته کښته کوي دا دعا دي وايي: بِسمِ اللهِ و عَلٰى مِلةِ رَسُولِ الله.

ژباړه: د الله په نوم او د محمد ﷺ پر دين.

په قبر کي دي مړی پر راسته اړخ کړي تر څو مخ ئې د قبلې خوا ته سي، کله چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړی په قبر کې کښېښوول سو د کفن غوټې دې خلاصې کړل سي.

که مړی ښځه وي، قبر ته د کښته کولو پر مهال دې پر قبر پرده وغوړول سي، که نر وي پرده نه غواړي، مکروه ده چې لحد ته پخې خښتې، او لرګي کښېښوول سي، بلکې اومې خښتې او نلان دې ورته کښېښوول سي. که اومې خښتې او نلان نه وه بیا پخې خښتې او لرګي مکروه نه دي.

ښه دا ده چې حاضر خلک هر یو درې موټه خاوره قبر ته واچوي د لومړي موټ سره دې دا توري ووايي: مِنها خَلَقناكُم، له دې خاورو څخه مې تاسي پیدا کړي یاست.

د دوهم موټ سره دې دا توري ووايي: وَ فِيهَا نُعِيدُكُم. دې خاورو ته مو ورګرځوو.

د دریم موټ سره دې دا وايي: و مِنهَا نُخرِجُكُم تَارَةً اُخرى، له دې خاوري څخه مو بل وار راباسو.

وروسته دې خاوري باندې ور واچوي تر څو قبر ډک سي. قبر دې د اوښ د بوک غوندې جوړ کړي څلور کونجه دې نه جوړوي.

د زینت او فخر له پاره دې پر قبر ودانۍ نه جوړوي. د قبر د ټینګښت له پاره هم ودانۍ نه جوړول کېږي. مکروه ده چې مړی په خونه کې دفن کړل سي، ځکه په خونه کې دفن کېدل یوازې د پیغمبرانو خاصیت دئ.

روا ده که ضرورت وي ډېر مړي په یوه قبر کې ښخ کړل سي، که ډېر مړي په یوه قبر کې دفن کېدل، ښه دا ده چې د دوو مړو تر منځ په خاورو فاصله راوستل سي.

که په کښتۍ کې څوک مړ سي غسل او لمونځ ورکول کېږي په کفن کې پېچل کېږي بیا اوبو ته اچول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هغه مهال که وچه ليري وي او د مړي د خرابېدو بېره وي.

ښه دا ده چي مړی په هغه ځای کي ښخ کړل سي چي پکښي مړ سوی دئ.

مکروه ده چي مړی تر يوه او دوه ميله ليري يووړل سي، که مړی په قبر کي قبلې ته مخامخ نه وو ايښوول سوی او س قبلې ته د مخامخ کولو له پاره قبر نه شنل کېږي. که مړی پر چپه اړخ پرې ايستل سوی وي همداسي ده. که د بيت المال مال ورسره دفن سوی وي بيا شنل کېږي.

## د قبرو د زيارت کولو احکام

نارينه وو ته مستحب دي چي د قبرو زيارت ته ولاړ سي. په اوسنۍ زمانه کي د ښځو له پاره قبرو ته د زيارت له پاره تلل مکروه دي. د قبر د زيارت کولو پر مهال ښه دا ده چي يٰسٓ سورت ولوستل سي. په پښو سره پر قبرونو ختل مکروه کار دئ او پر قبرو باندي خوب کول مکروه عمل دئ دا هم مکروه ده چي له هديرې څخه درختي او وابښه وشکول سي.

## د شهيد احکام

الله جَلَّ جَلَالُهُ ويلي دي: وَلَا تَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ قُتِلُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمْوَٰتًۢا ۚ بَلْ أَحْيَآءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ ﴿۱۶۹﴾ فَرِحِينَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِٱلَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُوا۟ بِهِم مِّنْ خَلْفِهِمْ أَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿۱۷۰﴾ ﴿۱۶۹﴾ ... [آل عمران: ۱۶۹-۱۷۰]

تاسي پر هغو کسانو د مړو ګومان مه کوئ چي د الله په لاره کي وژل سوي دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی ژوندي دي د الله په ورانديي خواړه خوري، دوی په هغه څه سره خوښ دي چې الله دوی ته ورکړي او دوی زيري کوي پر هغه کسانو چې له دوی سره تر اوسه لا يو ځای سوی نه وي چې پر دوی بېره او غم نسته.

رسول ﷺ ويلي دي: مَا مِنْ أَحَدٍ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ يُحِبُّ أَنْ يَرْجِعَ إِلَى الدُّنْيَا وَأَنَّ لَهُ مَا عَلَى الأَرْضِ مِنْ شَيْءٍ غَيْرُ الشَّهِيدِ فَإِنَّهُ يَتَمَنَّى أَنْ يَرْجِعَ فَيُقْتَلَ عَشْرَ مَرَّاتٍ لِمَا يَرَى مِنَ الْكَرَامَةِ».

ترجمه: هيڅوک نسته چې جنت ته ولاړ سي، خوښه ئې وي چې دنيا ته وګرځي يوازي شهيد هيله کوي چې دوهم وار دنيا ته ولاړ سي لس واره ووژل سي ځکه دی د شهادت درناوی ويني.

شهيد هغه مسلمان دئ چې په ظلم ووژل سي، فرق نه کوي که دا وژنه په جنګ کي وي، که د ياغيانو له خوا وي که د قطاع الطريق (لارنيوونکو غلو) له خوا وي.

شهيد درې ډوله دئ:

١. د دنيا او آخرت دواړو شهيد.

٢. يوازي د آخرت شهيد.

٣. يوازي د دنيا شهيد.

د دنيا او آخرت شهيد چې کامل شهيد ګڼل کېږي هغه شهيد دئ چې مسلمان وي، عاقل وي، بالغ وي، له جنابت څخه پاک وي، تر ټپي کېدو وروسته مړ سوی وي، تر ټپي کېدو وروسته ئې خوراک، څښاک او خوب کړی نه وي، تداوي ئې نه وي کړې، په داسي حال کي چې دی د هوښ په حالت کي وي د يوه لمانځه پوره وخت باندي تېر سوی نه وي.

کامل شهید ته غسل نه ورکول کېږي، په خپلو جامو کي پېچل کېږي، لمونځ ورکول کېږي د خپلو کاليو او وينو سره دفن کېږي. د ضرورت پر مهال ئې کالي زياتېږي او کمېږي[٤٠].

مکروه ده چي ټولي جامې ئې ځني وکښل سي.

د آخرت شهيد هغه څوک دئ چي له اسلامه ماسوا په مخکنيو شرطو کي يو شرط پکښې کم وي[٤١].

په دنيا کي د شهيد معامله نه ورسره کېږي، خو په آخرت کي د شهيد غوندي اجر تر لاسه کولای سي. دوی ته غسل ورکول کېږي، کفن ورکول کېږي، لمونځ ورکول کېږي. د دنيا شهيد هغه منافق دئ چي د مسلمانانو په صف کي ووژل سي، ده ته غسل نه ورکول کېږي، په خپلو کاليو کي پېچل کېږي د کامل شهيد غوندي لمونځ ورکول کېږي، ظاهر ته اعتبار ورکول کېږي.

---

[٤٠] په کامل شهيد کي هغه کس داخل دئ چي د خپل ځان، مال او عزت په دفاع کي ووژل سي خو شرط دا دئ چي په تېره شی وژل سوی وي.

[٤١] په دې ډول شهيد کي هغه څوک داخل دئ چي په اوبو کي ډوب سي، يا په اور وسوځل سي يا د علم په تلاښ وتلي وي مړ سي، او يا په وبا مړ سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د روژې کتاب

الله ﷻ ويلي دي: يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿١٨٣﴾ [البقره: ۱۸۳]

اې مومنانو! پر تاسي د پخوانيو غوندي روژه فرض سوې ده، تاسي تقوا وکړئ.

الله ﷻ ويلي دي: شَهْرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِىٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلْقُرْءَانُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَـٰتٍ مِّنَ ٱلْهُدَىٰ وَٱلْفُرْقَانِ ۚ فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ ٱلشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ ۖ

د روژې مياشت هغه ده چي قرآن پکښې نازل سوی دئ، دا قران د خلکو لپاره هدايت او د هدايت نښانې او د حق او باطل په منځ کي جلا کوونکي دئ، کله چي له تاسي څخه څوک د روژې مياشتي ته ورسېږي روژه دي پکښې ونيسي.

رسول ﷺ ويلي دي: بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ وَالْحَجِّ وَصَوْمِ رَمَضَانَ. متفق عليه

اسلام پر پنځو شيانو بنا دئ:

[يو دا چي] دا شاهدي ادا کول چي د عبادت وړ يوازي الله دئ محمد د الله

رسول دئ. •

لمونځ کول، زکات ورکول، حج کول او د روژې په میاشت کي روژه نیول.

ټول امت اتفاق لري چي د روژې په میاشت کي پر مکلف کس روژه نیول فرض عین ده، په دې هکله هیڅوک مخالفت نه لري. روژې تخ په عرب صوم وايي صوم په لغت کي ځان ساتلو ته وايي

په شریعت کي روژه دا ده چي له خوراک، څښاک او جماع څخه د سپېدو له راختلو څخه تر لمر لوېدو پوري ډډه وسي. او د روژې نیت به ئې کړي وي.

# روژه پر چا فرض ده؟

**د روژې ادا او قضا پر هغه چا فرض ده چي لاندي شرطونه پکښې جمع وي:**

۱. لوی وي، پر کوچني روژه فرض نه ده.

۲. مسلمان وي، پر کافر روژه فرض نه ده.

۳. عاقل وي، پر لېوني فرض نه ده.

۴. په اسلامي هیواد کي وي، یا په کفري هیواد کي وي خو د روژې په فرضیت خبر وي.

# د روژې ادا پر چا فرض ده؟

۱. د روژې اداء پر مقیم فرض ده پر مسافر ادا نسته.

۲. پر روغ فرض ده، پر ناروغ فرض نه ده.

۳. له حیض او نفاس څخه به ښځه پاکه وي، پر حیض او نفاس لرونکي ښځي ادا نسته، بلکي روژه ورته روا نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لاندي شرطو پر مهال ادا سهي کېږي

**روژه هغه وخت سهي کېږي چي لاندي شرطونه موجود سي:**

۱. هغه وخت چي د روژې نيولو نيت ئې کړي وي، کله چي د نيت د سهي کېدو وخت داخل سي[٤٢].

۲. ښځه به په حيض او نفاس کي نه وي.

۳. روژه نيوونکی به اوس سمدستي په خوراک، چښاک او جماع بوخت نه وي.

۴. د روژې د سهي کېدو له پاره شرط نه دئ چي له جنابت څخه به پاک وي.

# د روژې ډولونه

**روژه شپږ ډوله ده:**

۱. فرض

۲. واجب

۳. سنت

۴. مستحب

۵. مکروه

۶. حرامه

---

(٤٢) د روژې د مياشتي روژه او نفلي روژې نيت تر لمر لوېدو وروسته بيا د ورځي تر نيمی لږ مخکي پوري، د هغه قضائي روژې نيت چي د روژې د مياشتي قضائي وي، په ټوله شپه کي سهي دئ، د سپېدو تر راپورته کېدو وروسته نيت سهي نه دئ. د کفارې او نفلي روژې يوائي د شپې نيت سهي کېداي سي، د ورځي ئې نيت روا نه دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library


د روژې د میاشتي روژه فرض ده.

واجب روژه درې ډوله ده: د نفلي روژې قضا راوړل، نذري روژه، او د کفارې روژه.

**د کفارې روژه په لاندي صورتو کي لازمېږي:**

بې له عذره د روژې په میاشت کي د ورځي پر مهال روژه په قصدي توګه ماتول. په قصدي توګه د روژې په میاشت کي د ورځي له خوا جماع کول.

د خپلي ښځي سره ظهار کول،

قسم باندي او ښتل،

د احرام پر مهال ځیني حرامي کړني تر سره کول.

په خطا سره قتل کول.

سنت روژه د عاشورا روژه ده، خو نهمه، یا یوولسمه روژه به ور سره جوړه کوي.

**لاندي روژې مستحب دي:**

۱. په هره میاشت کي درې ورځي روژه نیول، ورځي ټاکلي نه دي.

۲. د میاشتي د دیارلسمي، څوارلسمي او پنځلسمي ورځي روژه نیول.

۳. په هره هفته کي د دوشنبې او پنجشنبې روژه نیول.

۴. د کوچني اختر په میاشت کي شپږ روژې نیول.

۵. د هغه چا له پاره چي حج ته تللی نه وي، د عرفات د ورځي روژه نیول.

۶. د داود عليه السلام غوندي روژه نیول، هغه داسي چي یوه ورځ روژه ونیسي بله ورځ ئې ونه نیسي. دا ډول روژه د الله جل جلاله ډېره خوښه ده.

لاندي ډول روژه مکروه ده:

۱. یوازې د عاشورا په ورځ روژه نیول.

۲. یوازې د شنبې په ورځ روژه نیول.

۳. دوې ورځي پر له پسې روژه نیول چي ماښام روژه ماته نه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاندي روژې حرامي دي:

۱. د کوچني اختر په ورځ روژه نیول.

۲. د لوی اختر په ورځ روژه نیول.

۳. د تشریق په ورځو کي چي د لوی اختر د میاشتي یوولسمه، دوولسمه او دیارلسمه ده روژه نیول.

# د روژې د نیت وخت

بې له نیته روژه سهي نه ده.

د نیت ځای زړه دئ.

د روژې نیت له شپې څخه بیا د ورځي تر نیمي لږ مخکي سهي کېږي. دا هغه مهال چي د روژې د میاشتي روژه ادا کوي، یا معین نذر پر ځای کوي یا نفلي روژه نیسي.

د روژې د میاشتي روژه په مطلق نیت[٤٣] او د نفل په نیت دواړو سهي کېږي. معین نذر په مطلق نیت او د نفل په نیت دواړو سهي کېږي. د روژې د میاشتي د قضا راوړلو له پاره د نیت تعین او د شپې له خوا نیت کول ضروري دي.

همداسي د نفلي روژې د قضا راوړلو، د کفارې روژې او مطلق نذر له پاره د نیت تعین او د شپې له خوا نیت ضروري دئ.

---

[٤٣] مطلق نیت دا دئ چي د روژې نیت وکړي، واجب، فرض او نفل تعین نه کړي دا هم تعین نه کړي چي دا روژه د روژې د میاشتي روژه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د میاشتې لیدل څنګه ثابتیږي؟

رسول ﷺ ویلي دي: صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ وَأَفْطِرُوا لِرُؤْيَتِهِ فَإِنْ غم عَلَيْكُمْ فَأَكْمِلُوا عِدَّةَ شَعْبَانَ ثَلَاثِينَ يَوما. رواه البخاري.

د میاشتې په لیدو روژه نیسئ، د میاشتې په لیدو روژه ماتوئ، اختر جوړوئ. که میاشت په (ګردونو کې) پټه سوه، د شعبان د میاشتې دېرش ورځې پوره کړئ.

د روژې میاشت په لاندې دوو شیانو کې په یوه ثابتیږي:

لومړی: د میاشتې په لیدلو سره.

دوهم: د برات په پوره کېدلو سره (دا هغه مهال که میاشت و نه لیدل سي) که یوه سړي او یوې ښځې د میاشتې د لیدلو خبر ورکړ منل کېږي، دا هغه مهال که د روژې له پاره وو.

خو د اختر له پاره د دوو نارینه وو یا د یوه نارینه د دوو ښځینه وو شاهدي اړینه ده. دا هغه مهال که په اسمان کې ګرد او غبار وو. که ګرد او غبار نه وي بیا د روژې او اختر دواړو له پاره د داسي ډلې شاهدي په کار ده چې د درواغو احتمال پکښې له منځه تللی وي. د نورو میاشتو په هکله د دوو عادلو نارینه وو، یا د یوه نارینه او دوو ښځو شاهدي کفایت کوي، خو پر دوی به د قذف حد عملي سوی نه وي.

کله چې د میاشتې لیدل په یوه ځای کې ثابت سي، د نورو ځایو پر اوسېدونکو هم روژه فرضیږي، دا هغه مهال چې د دوی په ګاونډ کې وي او مطلع (د میاشتې ښکاره کېدو ځای) ئې سره یو وي او په واجبوونکې ډول د میاشتې د لیدو خبر ور ورسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که یو سړی په یوازي توګه د روژې میاشت ولیده د ده شاهدي نه منل کېږي خو دی به یوازي روژه نیسي.

که د اختر میاشت ووینې، شاهدي ئې نه منل کېږي، خو دی به روژه نیسي اختر به نه جوړوي.

# د شک په ورځ روژه نیول

د شک ورځ هغه ورځ ده چي د برات نهه ویشت ورځي پوره سي، میاشت ونه لیدل سي معلومه نه وي چي میاشت راختلې ده که نه؟ د فرض په نیت د شک روژه مکروه ده، که د نفل او فرض په منځ کي شکمن وي هم مکروه ده.

که یوازي په یقیني توګه د شک په ورځ نفلي روژه ونیسي پروا نه لري، که څوک د روژې او اختر په منځ کي شکمن وي روژه ئې سهي نه ده.

مفتي ته په کار ده چي عامو خلکو ته ووایي چي: نژدې تر غرمې پوري انتظار وکړئ (شی مه خورئ) د روژې نیت مه کوئ، که د روژې معلومات ونه سو بیا خوراک وکړئ، که سړي د شک په ورځ د نفلو په نیت روژه نیولې وه وروسته معلومه سوه چي د دغه ورځي روژه ده دغه روژه د فرضي ځای نیسي قضا باندي نسته.

# هغه شیان چي روژه نه ماتوي

**لاندي شیان روژه نه ماتوي:**

۱. په هېره خوراک کول.

۲. په هېره چېښاک کول.

۳. په هېره جماع کول.

۴. چي ځان او ورېښتان غوړ کړي.

۵. که سترګي توري کړي.

٦. که وينه وکاږي.

۷. چي د يو چا غيبت وکړي.

۸. چي د خوړلو نيت ئې کړی وي خو شی ونه خوري.

۹. که ئې په خوله ګرد ننوتی فرق نه کوي که د ژرندي ګرد وي.

۱۰. که ئې په خوله په غير قصدي توګه دود ننوتی.

۱۱. که ئې په خوله مچ ننوتی.

۱۲. که جنابت ورپېښ سو. که ټوله ورځ پر جنابت پاته سي هم روژه نه فاسدېږي، خو دغه کار تحريمي مکروه دئ ځکه فرضي لمونځ پکښې پاتېږي.

۱۳. که په وياله کي غوټه (ډوب) سو غوږو ته ئې اوبه ننوتې.

۱۴. که پزي ته ګړنګ داخل سوه وروسته ئې کش کړه تېر ئې نه کړه.

۱۵. که قی ورغلی خو بيرته په غير قصدي توګه وګرځي لږ او ډېر يو حکم لري.

۱٦. قصدي قی ووهي په تشه خوله يو څه په غير قصدي توګه ځني تېر سي.

۱۷. په غاښو کي ئې تر نخود لږ شی بند وي او س ئې تېر کړي.

۱۸. د يوې کونجدي په اندازه شی وخوري په ستوني کي ئې خوند معلوم نه سي.

۱۹. په سټني سره روژه نه ماتېږي ستن که په رګ کي ولګول سي که په غوښه کي وي يو حکم لري.

۲۰. که لړګی په غوږ کي ووهي خيره په را وکاږي پروا نه لري، که دا عمل څو څو واره تکرار کړي هم پروا نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څه مهال قضا او کفاره دواړه لازمېږي؟

**په لاندي صورتو کي کفاره او قضا دواړه لازمېږي:؛**

۱. کله چي داسي شی وخوري چي طبع لېوالتيا ورته ولري او د نس شهوت پر ځای کېږي.

۲. کله چي د شرعي عذره پرته دوا وخوري.

۳. کله چي روژه لرونکي کس اوبه يا بل مشروب وڅښي.

۴. کله چي روژه لرونکی کس جماع وکړي.

۵. کله چي د باران څاڅکي تېر کړي.

۶. کله چي غنم وخوري په غاښونو ئې وژووي.

۷. کله چي د غنم دانې ژوندۍ تېري کړي.

۸. کله چي د کونجدي دانې وخوري.

۹. کله چي مالګه وخوري.

۱۰. کله چي چلم او سګرېټ وڅکوي.

۱۱. کله چي د خاورو د خوړلو عادت ولري خاوره وخوري. که عادت ونه لري بيا کفاره باندي نسته.

# د کفارې د وجوب شرطونه

**دلاندي شرطو پر مهال کفاره لازمېږي:**

۱. د روژې د ادا پر مهال خوراک، څښاک کول، که د روژې په مياشت کي نه وي کفاره نسته، همداسي که ادا نه وي قضا را ګرځوي کفاره نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲. چې خوراک، څښاک په قصدي توګه وي، که په هېره وي کفاره نشته.
۳. خوراک، څښاک په تېروتنه نه وي، که سړي ګومان کاوه چې شپه پاته ده خوراک او څښاک ئې وکړ وروسته معلومه سوه چې سپيدې راپورته سوي دي کفاره باندي نشته.
۴. خوراک او څښاک ته اړ سوی نه وي که ورته اړ سوی وو کفاره باندي نشته.
۵. که خوراک او څښاک ته اړ ايستل سوی نه وو، که د بل له خوا اړ ايستل سوی وو کفاره باندي نشته.

# د کفارې بيان

**کفاره په لاندي ډولونو ادا کېږي:**

لومړی: مريی آزادول، کافر او مسلمان دواړه کفايت کوي.

دوهم: پرله پسې دوې مياشتي روژه نيول په منځ کي به روژه نه خوري، په داسي وخت کي به د کفارې روژې نيسي چې په دغو شپېتو ورځو کي به د اختر او د تشريق ورځي نه وي.

دريم: شپېته مسکينانو ته ميانه خواړه ورکول.

کفاره په لوړ ترتيب ادا کېږي. که چا د مريي د آزادولو وس نه درلودی، دوې مياشتي پرله پسې روژه دي ونيسي، که څوک د روژې نيولو وس ونه لري شپېته مسکينانو ته دي خواړه ورکړي، دومره خواړه چې دوه وخته ښه په ماړه سي، د مسکينانو په ډله کي به داسي څوک نه وي چې پر ده ئې نفقه لازمه وي لکه مور او پلار، مېرمن او نور. که ئې مسکينانو ته غله ورکول نو هر مسکين ته دي نيمه پيمانه غنم يا اوړه ورکړي يا دي قيمت ورکړي، يا دي پوره پيمانه اوربشي، يا

خرما ورکړي، یا دي د دوی قیمت ورکړي[٤٤].

# څه مهال قضا بې له کفارې لازمیږي؟

**په لاندي صورتو کي روژه فاسدیږي، قضا لازمیږي کفاره نسته.**

۱. کله چي روژاتي د شرعي عذر له امله روژه ماته کړي، مسافر سي، یا ناروغ سي، یا حیض او نفاس، لېونتوب او بېهوښي ورپېښه سي.

۲. روژاتي داسي شی وخوري چي په عادت کي د خوړلو له پاره نه وي لکه د شرعي عذر پر مهال دوا خوړل، وچ او لانده اوړه خوړل، په یو وار ډېره مالګه خوړل، پنبه خوړل، کاغذ خوړل، د خرما مندکه خوړل، ختې خوړل چي د ختو د خوړلو عادت و نه لري.

۳. کله چي روژاتي لاندي شیان تېر کړي: کوچنۍ ډبره، اوسپنه، سره او سپین زر، ژړ او نور قضا سته کفاره نسته.

۴. کله چي روژاتي د بل چا له خوا خورک، چښاک ته اړ ایستل سي او خورک او چیښاک وکړي.

۵. کله چي روژاتي خورک، چیشاک ته اړ سي (مجبور سي)، خورک یا چیښاک وکړي.

۶. کله چي روژاتي تېر وزي ګومان وکړي چي شپه پاته ده یا لمر لوېدلی دئ خو وروسته معلومه سي چي شپه تېره سوې وه، یا لمر لوېدلی نه وو.

۷. کله چي خوله او پزه پرېولي او به ځني تېري سي.

۸. کله چي په قصدي توګه په ډکه خوله تې وکړ ځوي (خواګرځي وکړي).

[٤٤] پوره پیمانه درې کېلو او شپېته ګرامه، (۳۰۶۰) ګرامه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹. کله چې د باران څاڅکي، یا د واورې ټوټه ئې خولې ته ولوېږي په غیر قصدي توګه ځني تېر سي.

۱۰. کله چې د روژې میاشت نه وي سړی خپله روژه فاسده کړي.

۱۱. څوک چې په قصدي توګه دود کش کړي.

۱۲. کله چې د غاښو په منځ کي پاته سوی شی چې د نخودو د دانې غوندي وي وخوري.

۱۳. کله چې سړی یو وار په هېره خوراک وکړي وروسته په قصدي توګه خوراک پسې وکړي.

۱۴. د روژې نیت ئې د ورځي کړی وو د شپې ئې نه وو کړی او س ئې روژه ماته کړه.

۱۵. مسافر راغی مقیم سو یو وار ئې روژه ونیول وروسته ئې خوراک وکړ.

۱۶. مقیم سړي روژه نیولې وه وروسته مسافر سو خوراک ئې وکړ.

۱۷. د روژې نیت ئې کړی نه وو خو ټوله ورځ ئې خوراک، څښاک ونه کړ.

۱۸. کله چې په غوږ کي اوبه یا دوا وڅڅوي.

۱۹. کله چې په پزه کي دوا وڅڅوي.

۲۰. کله چې پر هغه ټپ دوا واچوي چې په نس کي وي یا پر هغه زخم دوا واچوي چې په دماغ کي وي دوا نس ته ورسېږي. په دغو یادو سوو صورتو کي که روژه د روژې په میاشت کي فاسده سوه یوازي قضا سته کفاره نسته.

## هغه څه چې د روژاتي له پاره مکروه دي

**لاندي شیان د روژاتي له پاره مکروه دي باید ډډه ځني وسي:**

**لومړی:** بې له ضرورته د شي خوند څکل او ژوول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناړي په خوله کي جمع کول بيا تېرول.

هر هغه کړنه چي د ى كمزوري کوي لکه وينه کښل او نور.

# هغه څه چي د روژاتي له پاره مکروه نه دي

**لاندي کارونه په روژه کي مکروه نه دي:**

لومړی: د برېتو او ږيري غوړول.

دوهم: سترګي تورول.

دريم: د يخوالي له پاره لمبېدل.

څلورم: د يخوالي له پاره په لندو جامو کي ځان پېچل.

پنځم: بې اوداسه، پزه او خوله پرېولل.

شپږم: د ورځي په پای کي مسواک وهل بلکي د ورځي په پای کي مسواک د ورځي د لومړيو غوندي سنت دئ.

# هغه څه چي د روژاتي له پاره مستحب دي

**لاندي کارونه د روژاتي له پاره مستحب دي:**

۱. پېشلمی کول.

۲. پېشلمی د شپې وروستی برخي ته ځنډول خو مناسبه ده چي تر سپېدو (سباوون) څو دقيقې مخکي خوراک او څښاک ودرول سي.

۳. کله چي په يقيني توګه لمر ولوېږي، پر روژه مات دي تلوار کوي (ځنډ دي نه کوي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴. تر سپېدو مخکې د جنابت له امله غسل کول تر څو د عبادت له پاره تیاری ونیول سي.

۵. ژبه باید له دروا غو، غیبت، چوغلګرۍ او ښکنځلو څخه بنده کړل سي.

۶. د روژې په میاشت کې باید په هر فارغه وخت کې د الله ذکر وسي د قرآن تلاوت او استغفار وسي.

۷. غوسه باید ونه کړل سي.

۸. له شهوتونو څخه باید لیرې والي وسي فرق نه کوي که حلال شهوتونه وي.

## هغه عذرونه چې د روژې ماتول روا کوي

اسلام فطري دین دئ، انسان د وس سره سم مکلف ګرځوي، الله ﷻ مهربانه دئ، که بنده عذر ولري ورته روا کړې ئې ده چې اوس روژه وخوري بل وخت ئې قضا راوګرځوي.

**په لاندې صورتو کې روژه پرېښوول روا دي:**

۱. د ناروغ له پاره، چې د تاوان بېره ولري، یا د ناروغۍ د ډېرښت احتمال موجود وي.

۲. که سړی په هغه سفر تلی چې لمونځ لنډ کوي.

۳. که سړی ډېر وږی یا تږی سو، د ده غالب ګومان وو که روژه ونه خورم مرم.

۴. امیدواري ښځې ته یا د دې په نس سوي کوچني ته که روژې تاوان کاوه.

۵. تې ورکوونکې ښځې ته کله چې د روژې نیول دې او د تې ماشوم ته تاوان کاوه.

۶. کله چې ښځې ته حیض او نفاس پېښ سي، بلکې دا وخت روژه ماتول واجب ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷. هغه بوډا ته چي د روژې نیولو وس ونه لري، پر دغه ډول بوډا قضا نسته بلکي فدیه سته.

۸. که سړي نفلي روژه نیولې وه او سڅ ئې بې له عذره ماتولای سي بله ورځ به قضا راوړي.

۹. هغه چا ته چي د دښمن سره په جګړه بوخت وي، پر هر چا چي د روژې قضا پاته وي باید د قضا په راوړلو کي تلوار وکړي، خو که قضاء وځنډوي هم روا ده، قضایي روژې په پرله پسې او جلا ډول دواړو نیول کېدلای سي. که پر سړي قضایي روژه پاته وي د روژې میاشت راورسېږي د روژې د میاشتي روژه به مخکي نیسي، د ځنډ په وجه فدیه باندي نسته.

## څه وخت په نذر وفا کول واجب دي؟

رسول ﷺ ویلي دي: مَن نَذَرَ ان يُطِيعَ اللّٰه فليطِعهُ و مَن نَذَرَ ان يَعصِيَهُ فلا يَعصِهِ. رواه البخاري.

که چا د عبادت کولو په موخه نذر وکړ عبادت دي وکړي. که چا د ګناه کولو په موخه نذر وکړ ګناه دي نه کوي.

کله چي درې شرطونه جمع سي په نذر وفا کول واجب ګرځي:

لومړی: کله چي نذر سوی کار په خپل جنس کي فرض ولري لکه لمونځ او روژه چي نذر کړي.

دوهم: کله چي نذر سوی کار په خپل ځان کي مقصود وي.

دریم: کله چي تر نذر کېدو مخکي نذر سوی کار واجب نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا وجه ده چي د مريي آزادول، اعتکاف کول، لمونځ کول او روژه نيول سړی نذر کولای سي.

خو او دس نذر کولای نه سي، ځکه او دس ځاني مقصود والی نه لري، د تلاوت سجده نذر کولای نه سي ځکه هغه تر نذر مخکي واجب ده، د ناروغ پوښتني ته ورتلل نذر کېدلای نه سي، ځکه په خپل جنس کي واجب نه لري.

که سړي د اختر د ورځي یا د تشریق د ورځي روژه نذر کړه نذر سهي دئ، خو واجب ده چي په دغو ورځو کي به روژه نه نیسي، ځکه روژه پکښې منع سوې ده، وروسته دي قضا راوګرځوي.

# اعتکاف

اعتکاف دا دئ چي سړی په هغه مسجد کي چي جماعت پکښې کېږي د اعتکاف په نیت ځنډ وکړي (پکښې پاته سي).

**اعتکاف درې ډوله دئ:**

لومړی: واجب، دا ډول اعتکاف هغه دئ چي نذر سوی وي.

دوهم: موکد کفايي سنت، دغه اعتکاف د روژې د میاشتي په لسو وروستیو ورځو کي دئ.

دریم: مستحب، دا هغه اعتکاف دئ چي نذر سوی نه وي او د روژې په وروستیو کي نه وي.

# د اعتکاف موده

د اعتکاف د ډولونو په اعتبار د اعتکاف موده فرق کوي، د نذر سوي اعتکاف موده هغه ده چي ده ښوولې وي، د روژې د میاشتي اعتکاف لس

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروستۍ ورځې دي، د نفلي اعتکاف موده تاکلې موده نه لري خو يوه شېبه ئې کمه موده ده.

اعتکاف يوازي په هغه مسجد کې سهي کېږي چې جماعت پکښې ادا کېږي، امام او مؤذن ولري.

ښځه به د خپلې خوني پر هغه ځای اعتکاف کوي چې د لمانځه له پاره ئې ټاکلی دئ.

د نذري اعتکاف له پاره روژه ضروري ده.

د سنت او نفلي اعتکافونو له پاره روژه ضروري نه ده.

## د اعتکاف فاسدوونکي شيان

**په لاندي شيانو اعتکاف فاسدېږي:**

لومړی: کله چې بې له عذره له مسجد څخه ووزي.

دوهم: کله چې حيض او نفاس ورپېښ سي.

دريم: کله چې جماع وکړي، يا په شهوت څوک مچ کړي يا لاس ور وړي.

## هغه عذرونه چې له مسجد څخه د وتلو له پاره روا کوونکي دي

د لاندي درو عذرونو له امله له مسجد څخه وتل روا کېږي:

لومړی: طبعي عذرونه لکه بولي، صحرا ګښت، لمبېدل، او نور، ځکه معتکف اړ دئ چې د انساني حاجت او د جنابت له امله د غسل کولو له پاره له مسجد څخه ووزي خو يوازي د اړتيا په اندازه به د باندي پاته کېږي.

دوهم: د شرعي عذرو له امله لکه د جمعې د لمانځه له پاره دا هغه مهال که د اعتکاف په او سني مسجد کې د جمعې لمونځ نه ادا کېدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریم: د ضروري عذرونو له امله لکه پر ځان بېرېدل پر خپل سامان بېرېدل او داسي نور.

که مسجد ونړېدی هم وتل روا دي، خو بل مسجد ته به سملاسي ځي هلته به د اعتکاف نیت کوي.

معتکف په مسجد کي خوراک، چښناک کولای سي، د خپلي اړتیا شیان رانیولای سي، خو رانیول سوی شی به د رانیولو پر مهال مسجد ته نه دننه کوي.

## هغه څه چي د معتکف له پاره مکروه دي

لومړی: معتکف ته مکروه ده چي د سوداګری په نیت په مسجد کي د بیع عقد وکړي، که مبیعه حاضره کړي که نه فرق نه کوي حکم یو دئ.

دوهم: معتکف ته مکروه ده چي د خپلي اړتیا شیان د عقد پر مهال مسجد ته حاضر کړي.

دریم: معتکف ته مکروه ده چي خبري نه کوي (ګونګه روژه ونیسي). دا هغه مهال که چوپتیا عبادت وګڼي که ئې عبادت ونه ګڼي بیا مکروه نه ده.

## د اعتکاف کولو اداب

**په اعتکاف کي لاندي کارونه مستحب دي:**

لومړی: یوازي به ګټوري خبري کوي.

دوهم: د خپل اعتکاف له پاره دي تر ټولو غوره مسجد انتخاب کړي، لکه د مکې د اوسېدونکي له پاره مسجد حرام، د مدینې د اوسېدونکي له پاره نبوي مسجد، د بیت المقدس د اوسېدونکي له پاره مسجد اقصیٰ او مسجد جامع (چي د جمعې لمونځ پکښې ادا کیږي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریم: د قرآن په تلاوت، شرعي اذکارو، درودونو دي ځان بوخت کړي، دیني کتابونه دي وګوري.

# سرسایه

سرسایه واجب ده، سرسایه هغه شی دئ چي مسلمان ئې له خپل مال څخه د ځان پاکولو په موخه اړمنو ته ورکوي. تر څو د هغه جرم علاج وګرځي چي په روژه کي د بدو او بې ګټو خبرو له امله ئې دی مرتکب سوی دئ.

عبدالله بن عباس ﵄ ویلي دي: فَرَضَ رَسُولُ اللهِ زَكَاةَ الفِطرِ طُهرَةً لِلصائِمِ من اللغو والرفث وطعمه للمساكين. رواه احمد.

رسول ﷺ سرسایه د روژاتي د پاک کولو په موخه واجب ګڼلې ده، تر څو د بدو خبرو او ښکنځلو ناولتیا پرېمینځي او د اړمنو له پاره یوه ګوله ډوډۍ سي، سرسایه واجب ده.

# سرسایه پر چا واجب ده؟

**سرسایه پر هغه چا واجب ده چي لاندي شرطونه پکښې موجود وي:**

۱. مسلمان وي، پر کافر سرسایه نسته.

۲. آزاد وي، پر مریي سرسایه نسته.

۳. د نصاب مالک وي، نصاب د ده تر پورونو او ضروري اړتیاوو زیات وي، که زیات نه وي سرسایه باندي نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# لاندي شيان په ضروري او اصلي اړتياوو کي داخل دي

۱. د اوسېدو ځای.

۲. د کور سامان.

۳. د اغوستو کالي.

۴. د سپرتیا شی، موټر، موټرسایکل.

۵. هغه سامان آلات چي د کار کولو له پاره کار ځني اخلي (لکه کولنګ، بېلچه، د کروندې تکتمر او نور).

د سرسايې د وجوب له پاره شرط نه دئ چي پر نصاب کال تېر سي، که سړی تر سپېدو مخکي د اختر په ورځ د نصاب مالک سي سرسايه باندي لازمه ده، د سرسايې له پاره شرط نه دي چي مالک به عاقل او بالغ وي، بلکي کوچنی او لېونی که د نصاب مالک وي سرسايه ئې ايستل کېږي.

## سرسايه څه مهال واجبېږي؟

سرسايه د کوچني اختر په سهار د سپېدو (سباوون) د راختلو پر مهال واجبېږي.

که سړی تر سپېدو مخکي مړ سي يا مسکين سي سرسايه باندي نسته، که تر سپېدو وروسته کوچنی وزېږېدی يا کافر مسلمان سي يا سړی د نصاب خاوند سي سرسايه باندي نسته، روا ده چي: سرسايه تر وخت مخکي او وروسته ادا سي.

خو ښه دا ده چي تر عيدګاه، د اختر تر لمانځه مخکي ادا کړل سي. که سړي سرسايه په روژه کي ادا کړه روا ده، بلکي فضيلت لري تر څو بې وزله مسکين د اختر له پاره جامې او نوري اړتياوي پوره کړي، که سړی سرسايه د اختر تر لمانځه وروسته ادا کړي مکروه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کوم چا له خوا سرسایه ادا کیږي؟

واجب ده چي سرسایه د ځان له خوا او بې وزله کوچنیو اولادو له خوا ورکول سي.

که کوچني اولادونه مال ولري، د دوی له خپل مال څخه ادا کېږي. که پلار د ځوانی پر ډول د دوی سرسایه ادا کړي روا ده، پر پلار لازمه نه ده چي د خپلو لوی اولادونو سرسایه ادا کړي که د ځوانی پر ډول ئې ادا کړي روا ده.

که لوی اولادونه بې وزله لېونیان وي بیا به پلار د دوی سرسایه ادا کوي.

# د سرسایې اندازه

**په نص کي د سرسایې په ضمن کي څلور شیان یاد سوي دي:**

غنم، اوربشي، خرما او اوڅکي.

یو سړی به د غنمو نیمه پیمانه (نژدې ۱۸۰۰ گرامه) غنم یا غنمین اوړه یا یوه پیمانه (نژدې ۳۶۰۰ گرامه) اوربشي، یا خرما یا اوڅکي په سرسایه کي ورکوي، که قیمت ورکړي هم روا ده.

که یو سړی نور حبوبات (غله دانه) لکه ماش، جواري او نور په سرسایه کي ورکړه قیمت ئې د غنمو یا اوربشو تاکلي اندازې ته رسېدی کفایت کوي.

سړی کولای سي چي هر ډول سکه (نقدي) په سرسایه کي ورکړي بلکي نقدي فضیلت لري ځکه د مسکین له پاره گټه لري.

یو سړی کولای سي چي د یوه کس سرسایه څو کسانو ته ورکړي. دا هم روا ده چي د ډېرو کسانو سرسایه یوه کس ته ورکول سي. هغه چا ته سرسایه ورکول کېږي چي زکات ورکول کېدلای سي، دغه کسان په آیات کي داسي ښوول سوي دي:

انما الصدقات للفقراء ... رښتیا زکاتونه یوازې د فقیرانو، مسکینانو او ...

له پاره دي دغه ډلي به وروسته په تفصیلي ډول وپېژنو انشاء الله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دزكات كتاب

الله ﷻ ویلي دي: وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا۟ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَقْرِضُوا۟ ٱللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا ۚ

[المزمل: ۲۰]

لمونځ ادا کړئ، زکات ورکړئ الله ﷻ ته حسنه قرض ورکړئ، هغه نېکي چي تاسي د ځانو لپاره مخکي کړي وي هغه به د الله ﷻ سره تر لاسه کړئ، هغه ستاسي لپاره ګټور دي او په اجر کي لوی دي.

الله ﷻ ویلي دي: وَٱلَّذِينَ يَكْنِزُونَ ٱلذَّهَبَ وَٱلْفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣٤﴾ يَوْمَ يُحْمَىٰ عَلَيْهَا فِى نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ ۖ هَـٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِأَنفُسِكُمْ فَذُوقُوا۟ مَا كُنتُمْ تَكْنِزُونَ ﴿٣٥﴾ [التوبه: ۳۴-۳۵]

ژباړه: کوم کسان چي سره او سپین زر ذخیره کوي د الله ﷻ په لار کي ئې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لګوي پر هغوی د دردوونکي عذاب زېری وکړه په هغه ورځ چي دغه خزانې په اور کي تودې کړل سي بیا د دوی تندي، اړخونه او شاوي داغ کړل سي، دا هغه څه دي چي تاسي ځانو لپاره ذخیره کړي وه. نو هغه څه وڅکئ چي تاسي ذخیره کړي وه.

رسول ﷺ ویلي دي: مَنْ آتَاهُ اللَّهُ مَالًا فَلَمْ يُؤَدِّ زَكَاتَهُ مُثِّلَ لَهُ مَالُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُجَاعًا أَقْرَعَ لَهُ زَبِيبَتَانِ يُطَوَّقُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثُمَّ يَأْخُذُ بِلِهْزِمَتَيْهِ يَعْنِي بِشِدْقَيْهِ ثُمَّ يَقُولُ أَنَا مَالُكَ أَنَا كَنْزُكَ ثُمَّ تَلَا { لَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ } الْآيَةَ . رواه البخاري .

چا ته چي الله ﷻ مال ورکړی وي زکات ئې ادا نه کړي مال ئې د قیامت په ورځ د یک مار په بڼه سي، د سترګو پر لوړه برخه ئې دوه تور ټکي وي، سړی تر بارخوګانو ونیسي وایي: زه ستا خزانه یم، ته زما مالک یې.

وروسته رسول ﷺ دغه آیات تلاوت کړ: ولا تحسبن الذین یبخلون بما اتاهم من فضله ...الایه

پر هغو کسانو ګومان مه کوئ چي الله ﷻ د خپلي مهربانۍ په وجه مال ورکړی وي دوی بخیلي کوي...

زکات په لغت کي پاک کولو او ډېرولو ته ویل کېږي.

په شریعت کي مخصوص مال د خپلو شرطونو سره حقدارانو ته په ملکیت ورکولو ته زکات ویل کېږي.

زکات د اسلام مهم رکن دئ، په دې ډول بې وزلي او بدبختي له منځه وړل کېږي، د خلکو تر منځ مینه او محبت منځته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د زکات د فرض کېدو شرطونه

**دلاندي شرطو پر مهال زکات فرضېږي:**

۱. اسلام، پر کافر زکات نسته، اصلي کافر او مرتد دواړه یو دي.

۲. آزادي، پر مریي زکات نسته.

۳. لوی والی، پر کوچني زکات نسته.

٤. عقل، پر لېوني زکات نسته،

٥. بشپړ ملکیت، بشپړ ملکیت دا دئ چي مملوک مال د ده په لاس کي وي، که سړی د شي مالک سي خو قبض کړی ئې نه وي لکه د ښځي مهر زکات باندي نسته. پر هغي ښځي زکات نسته چي مهر ئې تر لاسه کړی نه وي، پر هغه سړي هم زکات نسته چي مال ئې په لاس کي وي خو مالک ئې نه وي پور کړی ئې وي.

٦. مملوک مال به نصاب ته رسېدلی وي که نه وي رسېدلی زکات نسته. مال ته په کتو نصاب فرق کوي.

۷. مال به تر اصلي اړتیاوو زاید وي، همدا وجه ده چي د اوسېدو په کورونو، د اغوستو په کالیو، د کور په سامان، د سپرتیا په حیوان (موټر او موټرسایکل) او د استعمال په وسیله کي زکات نسته، په هغه سامان کي هم زکات نسته چي د کار له پاره کارول کېږي (لکه ټکټر، لاسي ګاډی، د خرادۍ ماشین او نور). په علمي کتابو کي چي د سوداګرۍ له پاره نه وي زکات نسته، ځکه دا ټوله په اصلي اړتیاوو کي داخل دي.

۸. مال به له پوره فارغه وي. که پر سړي دومره پور باندي وي چي شته مال ټوله پکښې ځي زکات باندي نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹. مال به نما (ډېرښت) کوي فرق نه کوي، که ډېرښت حقیقي وي که حکمي وي، حکم یو دئ. په پسو کي ډېرښت او زیاتوالی حقیقي دئ، په سرو او سپینو زرو کي زیاتوالی حکمي دئ، زر که سیکې وي که لوښي او زېورات وي حکم یو دئ. په جواهرو، قیمتي ډبرو، ملغلرو، یاقوتو او نورو کي چي د سوداګرۍ له پاره نه وي زکات نسته، ځکه حقیقي او تقدیري زیاتوالی نه لري.

## زکات څه مهال ادا کېږي؟

د زکات د ورکولو له پاره شرط دئ چي قمري (سپوږمیز) کال به پر مال تېرېږي. مانا د کال په سر او پای کي به نصاب بشپړ وي. د کال په منځ کي د نصاب بشپړوالی شرط نه دئ. که سړی د کال په سر کي د نصاب مالک سي، پوره یو کال نصاب پوره وو زکات واجب دئ. که د کال په سر کي نصاب پوره وو، د کال په منځ کي کم سو، د کال په وروستیو کي بیرته نصاب پوره سو زکات واجب دئ، که سړی د کال په سر کي د نصاب مالک سي د کال په اوږدو کي د مال له جنس څخه نور مال وګټي نوی ګټل سوی مال د اصلي مال سره یو ځای کېږي.

زکات پر ټوله مال واجب دئ، فرق نه کوي که ګټل سوی مال په سوداګرۍ تر لاسه سوی وي، که په میراث او سوغات تر لاسه سوی وي.

## د زکات ورکړه څه مهال سهي کېږي؟

د زکات ورکړه هغه مهال سهي کېږي چي د ورکولو پر مهال د زکات نیت ولري. که وکیل د ورکولو پر مهال یا د زکات د جلا کولو پر مهال د زکات نیت ولري زکات

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهي دئ. که فقير ته ئې مال ورکړ نيت ئې نه درلودی وروسته ئې د زکات نيت وکړ زکات سهي دئ خو شرط دا دئ چي مال به د بې وزلي فقير په لاس کي پاته وي.

د زکات د سهي کېدو له پاره شرط نه ده چي فقير د ده په نيت خبر وي چي راکړل سوی مال زکات دئ.

که يو سړي يوه مسکين ته مال ورکړ ويل: دا ډالۍ او سوغات دئ يا پور دئ، خو په نيت کي ئې زکات وو زکات سهي دئ، که يو چا خپل ټوله مال خيرات کړ زکات ئې له ذمې اوړي، که د مال يوه برخه له منځه ولاړه په هغه اندازه زکات له منځه ځي، يو سړي زر درهمه درلوده پنځه ويشت درهمه زکات باندي سته.

خو که دوه سوه درهمه له منځه ولاړه زکات پنځه درهمه کمېږي.

د يو چا پر مسکين پور باندي وي او س ئې د زکات په نيت وروبخښي د زکات ځای نه نيسي، ځکه مال په ملکيت ور نه کړل سو، بې له تمليکه زکات سهي نه دئ.

# د سرو او سپينو زرو زکات

په سرو او سپينو زرو کي هغه مهال زکات سته چي نصاب ته ورسېږي. د سرو زرو نصاب شل مثقاله دئ (د پنځه اتيا گرامو سره مساوي دئ).

د سپينو زرو نصاب دوه سوه درهمه دئ (د پنځه سوه پنځه نيوي گرامو سره برابر دئ) څوک چي د نصاب مالک سي د سرو او سپينو زرو څخه دي دلسمي يوه څلورمه چي (يوه روپۍ په څلوېښتو روپيو کي ده). ورباسي.

له شل مثقالو څخه نيم مثقال زکات ورکول کېږي، له دوه سوه درهمه څخه پنځه درهمه زکات ادا کېږي.

هغه سره او سپين زر چي ډېر صفا نه وي د سوچه زرو حکم لري دا هغه وخت که

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زرو ارزښت غالبه وي.

که د غشو (فضله موادو) ارزښت ډېر وي بیا سره او سپین زر د عروضو (سامانو) غوندي دي.

کله چي مال تر نصاب زیات سي هغه مهال زکات پکښې سته چي د نصاب یوې پنځمي ته ورسېږي. دا د امام اعظم رحمة الله علیه مسلک دئ.

د امام ابو یوسف رحمة الله علیه او امام محمد رحمة الله علیه مسلک دا دئ چي: کوم مال چي پر نصاب زیات سي یوه ځلوېښتمه پکښې سته فرق نه کوي که یوې پنځمي ته ورسېږي که نه، فتوا د دوی (امام ابو یوسف او امام محمد) پر مسلک ورکول کېږي.

د سرو او سپینو زرو د نصاب مالک اختیار لري که د زرو یوه ټوټه په زکات کي ورکوي، که رواجي قیمت ورکوي او که بل سامان او وزني او پیمانه ئې شی ورکوي ټول سهي دي.

# د سامان زکات

له سرو او سپینو زرو او حیوانانو چپه نور ټول اجناس عروض (سامان) ګڼل کېږي. په سامان کي هغه مهال زکات سته چي لاندي شرطونه موجود سي:

لومړی: د سامان د مالک سره به سامان د سوداګرۍ په نیت وي.

دوهم: د سامان قیمت به د سرو یا سپینو زرو نصاب ته رسېږي. مسلمان سوداګر به د کال په پای کي خپلو ټولو سوداګریزو شیانو ته حساب کوي که د بازار د نرخ سره سم د دې شیانو قیمت نصاب ته ورسېدی زکات دي ادا کړي، که نصاب ته ونه رسېدی زکات نسته، د دوکان سامان چي د سوداګرۍ له پاره نه وي نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پکښې حسابېږي. که سړي مځکه، حیوان یا بل غیر منقول مال درلودی او س ئې د سوداګرۍ نیت ورته وکړ هغه مهال ئې د زکات له پاره کال پیلېږي چي عملي سوداګري پیل کړي.

# د پور زکات

**د زکات په وړاندي پور دري ډوله دئ:**

لومړی: قوي (ځواکمن) پور.

دوهم: منځني پور.

دریم: کمزوری پور.

ځواکمن پور هغه پور دئ چي د پور یا د تجارتي مال په بدل کي پر سړي پاته سوی وي او پوروړي هم اقرار په کاوه فرق نه کوي که مفلسه وي. که پوره وړي انکار کاوه خو پور ورکوونکي شاهدان درلوده هم پور ځواکمن دئ.

که پور قوي وو پر پور ورکوونکي لازمه ده چي د خپل پور زکات ادا کړي. دا هغه مهال چي له پور څخه څلوېښت درهمه قبض کړي هر وار چي څلوېښت درهمه قبض کړي زکات به ادا کوي که کم وي زکات باندي نسته. دا د امام اعظم رحمه الله علیه مسلک دئ.

امام ابو یوسف او امام محمد رحمه الله علیه وایي: په قبض سوي پور کي که لږ وي که ډېر وي زکات لازم دئ.

په قوي پور کي د کال تېرېدل د نصاب د ملکیت له وخته څخه اعتبار لري، د پور د قبض له وخته څخه ئې نه لري د تېرو کلونو زکات باندي لازمېږي، خو هغه مهال چي یو وار پور قبض کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځنی پور هغه پور دئ چي د سوداګریز مال پور نه وي. بلکي د خپلو اصلي اړتیاوو (حوائج اصلیه وو) څخه ئې یو شی پلورلی وي لکه د اوسېدو کور، د اغوستو کالي او نور، پور د رانیوونکي پر ذمه پاته سوی وي، په منځني پور کي هغه مهال زکات لازم دئ چي پوره نصاب قبض کړي.

که پر پوروړي زر روپۍ پاته سي پور ورکوونکی دوه سوه درهمه ځني قبض کړي پنځه درهمه زکات باندي لازم دئ، که تر نصاب کم قبض کړي زکات باندي نسته. دا د امام اعظم رحمة الله علیه مسلک دئ.

یاران (امام ابو یوسف رحمة الله علیه او امام محمد رحمهما الله) وایي: په قبض سوي کي که لږ وي که ډېر وي زکات سته.

په منځني پور کي د کال تېرېدل د نصاب د مالک کېدو څخه پیلېږي د قبض له وخت څخه نه پیلېږي.

د تېرو کلونو زکات لازم دئ خو ورکړه ئې هغه مهال لازمه ده چي قبض کړل سي.

دریم کمزوری پور هغه دئ چي د مال بدل نه وي لکه مهر، ځکه مهر د مال بدل نه دئ، همداسي د خلع بدل د وصیت او سولي بدل.

په کمزوري پور کي هغه مهال زکات لازمېږي چي بشپړ نصاب قبض سي او د قبض له وخت څخه کال تېر سي، په کمزوري پور کي د تېرو کلو زکات نسته.

## د ضمار مال زکاة

ضمار مال هغه مال دي چي د تل لپاره په ملکیت کي وي خو تر لاسه کېدلای نه سي.

که د یو سړي پر بل چا مال باندي وي خو ځني تر لاسه کولای ئې نه سي، شاهدان باندي تېرولای نه سي، خو وروسته ئې مال تر لاسه کړ، یا مال ځني ورک وو وروسته ئې پیدا کړ یا بل چا ځني غصب کړی وو، وروسته ئې ورکړ، یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت مال څښتن مصادره کړ (څني وائي خیستی) وروسته ئې بیرته ورکړ یا ئې مال په دښت کي پټ کړی وو اوس ئې ځای څني ورک وو، وروسته ئې پیدا کړ. په دغو ټولو صورتو کي د تېرو کلو زکات لازم نه دئ.

## هغه څوک چي زکات ورکول کېږي

الله ﷻ ویلي دي: إِنَّمَا ٱلصَّدَقَٰتُ لِلْفُقَرَآءِ وَٱلْمَسَٰكِينِ وَٱلْعَٰمِلِينَ عَلَيْهَا وَٱلْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِى ٱلرِّقَابِ وَٱلْغَٰرِمِينَ وَفِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱبْنِ ٱلسَّبِيلِ ۖ فَرِيضَةً مِّنَ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٦٠﴾ [التوبه: ٦٠]

زکاتونه یوازي د فقیرانو، مسکینانو، او هغو کسانو دي چي د زکات راټولو کار کوي او هغه کسان چي زړونه ئې رامات سي او هغه مریان چي ځانونه پهٔ آزاد کړي او پوره وړو او د الله پهٔ لار کي مجاهدینو او مسافرو ته ورکول کېږي. دا د الله فرض دئ الله د پوهي او حکمت څښتن دئ.

په قرآن کي اته صنفه یاد سوي دي چي زکات ورکول کېږي. خو حضرت عمر ﵁ له هغه چا څخه زکات راوګرځاوه چي د زړه جلب ولو له پاره ورکول کېدی. ځکه اسلام پیاوړی سو اصحابو د ده دغه کار بد ونه باله، نو دغه راګرځونه په اجماع ثابته سوه.

اووه صنفه پاته سوه هغوی ته زکات ورکول کېږي، د هر صنف بشپړ بیان به وروسته راسي.

لومړی: فقیر، هغه څوک دئ چي تر نصاب کم مال ولري روا ده چي هغه چا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



زکات ورکړل سي چي تر نصاب لږ مال ولري فرق نه کوي که کسبکاره روغ سړی وي.

دوهم: مسکین، مسکین هغه څوک دئ چي: هیڅ مال ونه لري.

دریم: عامل، عامل هغه څوک دئ چي زکاتونه او عشرونه راټولوي، ده ته د خپل عمل په اندازه له زکات څخه مال ورکول کېږي.

څلورم: هغه مکاتب مریان دي چي د ځان ازادولو هڅه کوي دغه صنف په اوسني عصر کي نسته که فرضاً دغه صنف موجود سي زکات ورکول کېږي.

پنځم: پوروړي، دا هغه څوک دي چي پور باندي پاته وي خو د پور ورکولو وس ونه لري نصاب ونه لري. دغه ډول پوروړي ته زکات ورکول کېږي تر څو خپل پور ادا کړي دا تر هغه ښه دئ چي فقیر ته ورکول سي.

شپږم: د الله په لار کي وتلي کسان، هغه څوک دي چي: د الله ﷻ په لار کي د جهاد له پاره وتلي وي له خپلي کورنۍ څخه لیري وي. همدا ډول هغه حاجیان هم پکښې داخل دي چي د حج په نیت وتلي وي خو کعبې شریفي ته رسیدلي نه وي لګښت ئې خلاص سوی وي.

اووم: مسافر، مسافر هغه څوک دئ چي په خپل وطن کي مال ولري خو اوس په سفر کي ئې مال خلاص سوی وي، زکات ورکول کېږي تر څو دی دومره وس پیدا کړي چي خپل وطن ته ځان ورسوي.

پر کوم سړي چي زکات فرض وي روا ده چي دغه ټولو صنفو ته زکات ورکړي. دا هم روا ده چي یوازي یوه صنف ته ئې ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هغه څوک چې زکات نه ورکول کېږي

۱. زکات کافر ته نه ورکول کېږي.

۲. شتمن ته زکات نه ورکول کېږي.

۳. کوچني چې شتمن وي (سرمايه داره وي) زکات نه ورکول کېږي.

۴. بني هاشمو (سيدانو) او د دوی ازاد سوو مريانو ته زکات نه ورکول کېږي.

۵. د نصاب مالک خپل پلار او نيکه ته زکات نه سي ورکولای.

۶. د نصاب مالک خپلو اولادونو، لمسيانو، ته زکات نه سي ورکولای.

۷. د نصاب مالک خپلي مېرمني ته زکات نه سي ورکولای. مېرمن خپل مېړه ته زکات نه سي ورکولای خو نورو قريبانو ته زکات ورکول غوره کار دئ.

۸. د زکات په مال مسجد، مدرسه، پل او سړک نه سي جوړېدلای. مړي ته کفن نه سي ورکول کېدلای، د مړي پور نه سي په ادا کېدلای، ځکه په دغو ټولو صورتو کي تمليک نسته زکات بې له تمليکه روا نه دئ. ښه دا ده چې زکات خپلوانو ته ورکول سي وروسته همسايه ګانو ته ورکول سي، مکروه ده چې يوه سړي ته پوره نصاب زکات ورکول سي. د ساري په توګه دوه سوه درهمه، يا شل مثقاله سره زر يوه سړي ته په زکات کي ورکول سي، خو که داسي پوره وړي ته د پور د ادا کېدو لپاره تر نصاب زيات زکوة ورکړئ چې تر نصاب ډېر پور دي پر باندي وي مکروه نه دئ.

مکروه ده چې بې له ضرورته زکات له يوه ښاره بل ته يووړل سي، د قريبانو لپاره بل ښار ته د زکات نقلول مکروه نه دئ او چې د بل ښار خلک تر دې ښار مسکينان او محتاجه وي زکات نقلول مکروه نه دئ. که د يوه ګټور او ښه کار له پاره لکه د ديني مدرسو او نورو له پاره يووړل سي پروا نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حج کتاب

الله ﷻ ویلي دي: ﴿وَلِلَّهِ عَلَى ٱلنَّاسِ حِجُّ ٱلْبَيْتِ مَنِ ٱسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا ۚ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِىٌّ عَنِ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ [آل عمران: ۹۷]

د الله له پاره پر خلکو د کعبې حج سته پر هغه چا چي وس ئې ولري، که څوک کافر سي ربښتیا الله نړیوالو ته اړ نه دئ.

رسول ﷺ ویلي دي: مَنْ حَجَّ لِلّهِ فَلَمْ يَرْفُثْ وَلَمْ يَفْسُقْ رَجَعَ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ . متفق علیه

څوک چي د الله له پاره حج وکړي بدي خبري ونه کړي بد کارونه ونه کړي، کله چي کور ته ګرځي داسي به وي لکه په هغه ورځ چي مور زیږولی وو.

حج په لغت کي لوی کار ته د هوډ کولو په مانا دئ.

په شریعت کي د مخصوصي خوني (کعبې) او نورو لیدلو ته په مخصوص په وخت کي حج ویل کیږي.

ټول امت د حج پر فرضیت اتفاق لري هیڅوک اختلاف نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حج د فرض کیدو شرطونه

حج په ژوند کي یو وار عیني فرض دئ پر هر هغه نارینه او ښځینه فرض دئ چي لاندي شرطونه ولري:

۱. مسلمان وي، پر کافر حج نسته.

۲. بالغ وي، پر کوچني حج نسته.

۳. عاقل وي، پر لېوني حج نسته.

۴. ازاد وي، پر مريي او مینځي حج نسته.

۵. وس به لري، د خپلي کورني له پاره به تر بیرته راتلو پوري نفقه لري، د تګ او راتګ له پاره به خرڅه لري.

# د حج د ادا کولو د واجبېدو شرطونه

**هغه مهال د حج ادا کول واجب ګرځي چي لاندي شرطونه موجود وي:**

۱. په بدن به روغ وي، څوک چي شل وي، فلج وهلی وي، ډېر بوډا وي، د سفر وس ونه لري حج باندي نسته.

۲. حج ته د تلو مانع (خنډ) ونه لري، پر بندي او هغه چا حج نسته چي له پاچا څخه بېرېږي.

۳. لار به خوندي وي، که لار خوندي نه وي حج باندي نسته.

۴. د ښځي له پاره به محرم یا مېړه موجود وي چي د حج په سفر کي د دې ملتیا وکړي ځوانه او سپین سرې یو حکم لري که مېړه یا محرم ونه لري پر ښځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



حج نسته[٤٥].

۵. ښځه به په عده کي نه وي، که په عده کي وي حج باندي نسته.

# د حج د ادا کولو د سهي کېدو شرطونه

**د حج ادا ینه هغه مهال سهي کېږي چي لاندي شرطونه موجود سي:**

لومړی: احرام، بې له احرامه حج نه ادا کېږي.

احرام د حج هغه نیت دئ چي د تلبیې د ویلو سره مل وي، احرام باید د میقات څخه وسي، نارینه دي کنډلي جامي وباسي او نا ګنډلي جامې دي پر ځان وپیچي، ښه دا ده چي لنګ او دوپټه پر ځان واچوي.

تلبیه په دې ډول ویل کېږي: لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ.

ژباړه: اې الله! خدمت ته دي حاضر یم، خدمت ته دي حاضر یم، خدمت ته دي حاضر یم، ستا له پاره شریک نسته.

خدمت ته دي حاضر یم، ستاینه او نعمت ستا له پاره دي، پاچهي ستا له پاره ده، ستا له پاره شریک نسته.

دوهم: خاص وخت، حج تر خپلو مخصوصو میاشتو پرته په نورو کي نه سهي کېږي.

د حج میاشتي یوه د کوچني اختر، بله د میانۍ میاشت بله د لوی اختر د میاشتي لومړی لس ورځي دي (ټوله اویا ورځي کېږي). که څوک تر دغو میاشتو مخکي طواف او د صفا او مروا سعی وکړي نه سهي کېږي.

---

[٤٥] محرم د ښځي هغه خپلوانو ته ویل کېږي چي د نسب یا زوم والي له امله یا د رضاعت له امله ئې نکاح ورسره رواه نه وي، لکه اکا، ماما، د مېړه پلار، زوی، لمسی، ورور، خور او یا د لور مېړه.

تر ټاکلو میاشتو مخکي احرام روا دئ خو مکروه دئ.

دریم: حج باید پر مخصوصو ځایونو لکه عرفات، مسجد حرام او نورو وسي. د هغه چا حج سهي نه دئ چي عرفات ته تللی نه وي، که طواف زیارت ته ولاړ نه سي (طواف زیارت ونه کړي) حج سهي نه دئ.

## د احرام تړلو ځای

**میقات** - هغه ځای دئ چي هغه حاجیان چي له نورو ځایونو څخه مکې ته د حج په نیت راځي بې له احرامه له دغه ځایه تېرېدلای نه سي. د مځکي د څلورو خواوو له امله میقاتونه فرق کوي.

د یمنیانو او هندیانو له پاره میقات یلملم دئ[46]..

د مصریانو، شامیانو، غربیانو له پاره میقات الجحفة ده[47]..

د عراقیانو او د نورو شرقي هیوادونو له پاره میقات ذات عرق دئ[48]..

د مدینې د اوسېدونکو له پاره میقات ذوالحلیفه ده[49]..

د نجدیانو له پاره میقات قرن دئ[50]..

هر هغه څوک چي له دې ځایو څخه تېرېږي، د حج نیت ولري احرام باندي واجب دئ، ده ته روا نه ده چي بې له احرامه تېر سي، د مکې د اوسېدونکو له پاره میقات خپله مکه ده فرق نه کوي که د مکې اصلي اوسېدونکي وي که اوس هلته اوسېږي.

(46) یَلملم: د میم په سکون د دواړو لامونو په زور د تهامة له غرونو څخه یو غر دئ له مکې څخه دوه منزله لیري.

(47) الجُحفَة: د جیم په پېښ د حاء په سکون د یوه کلي نوم دئ له مکې څخه دوه منزله لېري دئ.

(48) عِرق: د عین په زیر د راء په سکون د یوه کلي نوم دئ له مکې څخه دوه منزله لېري.

(49) ذَوالحُلیفة: د حاء په پېښ د لام په زور د بني جشم د اوبو ځای وو له مکې څخه دوه منزله لېري.

(50) قَرن: د قاف په زور د راء په سکون د یو غره نوم دئ، عرفات ته نږدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم کسان چي د مکې او میقاتو تر منځ اوسېږي د هغوی له پاره زمین میقات دئ (زمین حل هغه ځای دئ چي له مکې څخه د میقاتو تر شا وي) دغه سړی به تر زمین حرم ها خوا ته یا له خپله کوره احرام تړي.

# د حج ارکان - داخلي فرضونه

**حج دوه رکنونه لري:**

لومړی: د لوی اختر د میاشتي په نهمه ورځ به تر زوال وروسته بیا تر سپېدو پوري عرفات ته ورځي په دغه موده کي که یو ګړی پر عرفات ودرېږي کفایت کوي.

دوهم: تر عرفات وروسته به پر کعبې شریفي اووه واره راګرځي (طواف به کوي) دغه طواف د طواف زیارت په نوم یادېږي. طواف افاضه هم بلل کېږي.

# د حج واجبونه

**د حج واجبونه ډېر دي:**

۱. له میقات څخه به احرام تړي.
۲. پر مزدلفه به یو څه وخت پاته کېږي.
۳. د مزدلفې وخت د لوی اختر په لومړۍ ورځ د سهار تر لمانځه وروسته بیا تر لمر راختو پوري دئ.
۴. طواف زیارت به د لوی اختر په ورځو کي کوي.
۵. د صفا او مروا تر منځ به اووه واره تګ راتګ کوي. پیل به له صفا څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي، پر مروا به ئې ختم وي.

٦. څوک چي د مکې او سېدونکی نه وي طواف الصدر به کوي.

۷. تر هر طواف وروسته به دوه رکعته لمونځ کوي.

۸. د لوی اختر په ورځو کي به درې جمرات (شیطانان) ولي.

۹. د لوی اختر په ورځو کي به په حرم کي وربښتان خریي یا کوچني کوي.

۱۰. د طواف او صفا او مروا پر مهال به له جنابت او بې اودسۍ څخه پاک وي.

۱۱. له ممنوع شیانو څخه به ډډه کوي، ګنډلي کالي، د سر او مخ پټول، ښکار، وژل، بدي خبري او جنجال کول به پرېږدي.

# د حج سنتونه

**په حج کي ډېر سنتونه سته:**

۱. د احرام له پاره لمبېدل یا اودس کول.

۲. نوی لنګ او دوپټه اغوستل، رنګ به ئې سپین وي. که نوي نه وي پرېولل سوي به وي.

۳. د احرام تر نیت وروسته به دوه رکعته لمونځ کوي.

۴. تلبیه به ډېره وایي.

۵. څوک چي د مکې او سېدونکی نه وي طواف قدوم به کوي.

٦. کله چي په مکه کي وي طوافونه دي ډېر کوي.

۷. د طواف تر پیلېدو مخکي دي د دوپټې راسته څنډه تر راسته اړخ لاندي واړوي تر څو راسته اوږه ښکاره سي.

۸. په لومړیو درو شوطو کي دي اوږې ښوروي ګامونه دي لنډ اخلي.

۹. د صفا او مروا تر منځ دي د دوو شنو میلانو تر منځ په تولو اوو وارو کي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



منلهٔ ځغلي.

۱۰. د طواف د هر وار ګرځېدو په پای کي دي حجر اسود مچوي يا دي لاس ور وړي.

۱۱. د اختر شپې دي په منی کي تېري کړي.

۱۲. د افراد حج له پاره دي هديه (ژوندی حيوان) د ځان سره بوزي.

## هغه څه چي په حج کي منع دي

**لاندي کاْرونه د محرم له پاره روانه دي ددې ده دي ځني وکړي، تر څو حج په بشپړه توګه ادا سي:**

۱. جماع (جنسي مقاربت) او هغه څه چي سړی جماع ته هڅوي.

۲. ناروا کړنه.

۳. ښکنځل او جنجال کول.

۴. خوشبويي کارول.

۵. د نوکانو پرې کول.

۶. د نارينه وو له پاره ګنډلي جامې لکه قميص، پرتوګ، چپنه او موزه اغوستل.

۷. سر او مخ پټول.

۸. د ښځي له پاره مخ او لاسونه پټول.

۹. د سر، ږيري، تخرګونو، زيرناف (تر نامه لاندي) ورېښتان ليري کول.

۱۰. د بدن او ورېښتانو غوړول.

۱۱. د حرم د درختو او واښو پرې کول.

۱۲. د ځمکي وحشي حيوان ښکارول فرق نه کوي که غوښي ئې خوړل کېږي که نه حکم يو دئ.

د حجر اسود په مچولو دي طواف پای ته ورسوي. بیا دي دوه رکعته لمونځ وکړي.

دغه طواف د طواف قدوم په نوم یادیږي، دغه طواف سنت دئ. بیا دي صفا ته ولاړ سي، د صفا غره ته دي پورته سي. کعبې ته دي مخامخ سي الله اکبر او لا اِلا الله دي ووايي، پر رسول ﷺ دي درود ووايي.

دعاوي دي وکړي، بیا دي راکښته سي، د مروا پر لور دي روان سي، مروا ته دي پورته سي، هغه کار چي په صفا کي ئې کړی وو دلته دې هم وکړي، یو شوط (دور) پوره سو. بیا دي صفا ته ولاړ سي بیرته دي مروا ته ولاړ سي، په دې ډول دي اووه نوبته پوره کړي. په هر وار کي دي د دوو شنو میلانو تر منځ تلوار کوي.

کله چي د لوی اختر د میاشتي اتمه ورځ سي د سهار لمونځ دي په مکه کي وکړي بیا دي منی ته ولاړ سي هلته دي شپه تېره کړي، کله چي په نهمه ورځ لمر راپورته سي له منٰی څخه دي عرفات ته ولاړ سي، هلته دي پاته سي الله اکبر او لا اله الا الله دي ووايي. پر رسول ﷺ دي درودونه ووايئ، دعاوي دي وکړي. تر زوال وروسته دي پاچا (یا د پاچا نایب) خلکو ته د ماپښین په وخت کي د ماپښین او مازیگر لمونځونه په جماعت ورکړي، یو اذان دوه اقامته دي وکړي، تر لمر لوېدو پوري دي په عرفات کي پاته سي بیا دي د مکې پر لاره روان سي، د اختر شپه دي په مزدلفه کي تېره کړي، پاچا (یا د پاچا نایب) دي د ماښام او ماخستن لمونځونه په یوه آذان، یوه اقامت د ماخستن په وخت کي ادا کړي.

کله چي سپېدې راپورته سي د لوی اختر سهار سي، پاچا دي د سهار لمونځ په تاریکۍ کي ادا کړي. بیا دي پاچا (یا نایب) د خلکو سره یو ځای ودرېږي دعاوي دي وکړي بیا دي تر لمر راختلو مخکي د مزدلفې څخه ولاړ سي، کله چي وروستي ځلي (لوی شیطان) ته ورسېږي په اوو کوچنیو ډبرو دې وولي د لومړي ویشتلو

سره دي تلبیه پرېږدي.

بیا دي پسه حلال کړي بیا دي سر وخریي، یا دي ورېښتان لنډ کړي، بیا دي د اختر په درو ورځو کي یو وار مکې ته ولاړ سي طواف زیارت دي وکړي، بیرته دي مِنٰی ته راوګرځي په منی کي دي واوسېږي، کله چي د اختر دوهمه ورځ سوه لمر تر سر واوښتی، درې سره څلي (درې شیطانان) دي وولي.

لومړی دي هغه څلی وولي چي خیف مسجد ته نږدې دئ په اوو کوچنیو ډبرو دې وولي، د هر وار ویشتلو سره دي الله اکبر ووایي، بیا دي ودرېږي دعا دي وکړي.

بیا دي منځنی څلی وولي هلته دي ودرېږي.

وروسته دي وروستی څلی وولي هلته دې نه درېږي.

کله چي د اختر دریمه سوه، لمر له سره واوښتی، بیا دي درې سره څلي د تېر په څېر وولي. د شیطانانو د ویشتلو پر مهال دي په مِنٰی کي اوسېږي، بیا دي مکې ته ولاړ سي یو ګړی دي په المحصب کي پاته سي، بیا دي مکې ته داخل سي.

پر کعبه دي اووه واره راوګرځي اوږې دي نه ښوروي. وروسته دي صفا او مروا ته نه ځي دا طواف د طواف وداع یا طواف صدر په نوم یادېږي، تر طواف وروسته دي دوه رکعته لمونځ وکړي، بیا دي زمزم ته ورسي د زمزم اوبه دي په ولاړې وچښي.

بیا دي ملتزم ته ورسي الله ﷻ ته دي عاجزي وکړي، بېلابېلي دعاوي دي وکړي.

کله چې د کور اراده وکړي باید په لندو سترګو د ژړا په حالت کي له مکې ووزي د کعبې پر جلا والي دي ورته افسوس ودرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قران حج

قِران په لغت کي د دوو شيانو يو ځای کول او ته ويل کېږي.

په شريعت کي قران دا دئ چي سړی له ميقات څخه د حج او عمرې دواړو نيت وکړي، زموږ پر مسلک قران حج تر تمتع حج فضيلت لري. تمتع حج تر افراد حج فضيلت لري.

د قران حج کوونکي به داسي دعا کوي: اللهُمَّ اِنِی اُرِیدُ العُمرَةِ وَالحَجَ فَیسرِ هُمَا لِی وَ تَقَبلهُمَا مِنِی.

اې الله! زه د عمرې او حج اراده لرم، دواړه راته اسانه کړه، دواړه راڅخه قبول کړه، بيا دي تلبيه ووايي.

کله چي مکې د قِران حج کوونکی ورسي لومړی دي د عمرې طواف وکړي، په درو لومړيو شوطو (ګرځېدو) کي دي اوږې وښوروي، بيا دي دوه رکعته نفل د طواف وکړي، د صفا او مروا تر منځ به سعی کوي، د شنو ميلانو تر منځ به په ډېر تلوار حرکت کوي، اووه نوبته به پوره کوي، دا د عمرې افعال سوه، وروسته دي د حج په کارونو پيل وکړي، د حج له پاره دي د قدوم طواف وکړي. بيا دي په هغه ډول د حج اعمال تر سره کړي چي مخکي ئې تفصيل تېر سو.

کله چي د اختر په ورځ لوی شيطان وولي، د پسه ذبح باندي واجب ده. که د ذبح له پاره ئې حيوان پيدا نه کړ تر اختر مخکي دي درې روژې ونيسي، کله چي د حج له مناسکو څخه فارغه سي اووه روژې دي نوري ونيسي.

دی اختيار لري که پاته روژې په مکه کي نيسي که په خپل کور کي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تمتع حج

تمتع حج دا دئ چي سړی یوازي د عمرې نیت وکړي. د احرام تر دوه رکعته لمانځه وروسته دي داسي ووایي: اللهُمَ اِنی اُرِیدُ العُمرَةِ فَیسرِهُمَا لِی وَ تَقَبَلهُمَا مِنِی.

اې الله! زه د عمرې اراده لرم، راته اسانه ئې کړه، راڅخه قبوله ئې کړه. بیا دي تلبیه ووایي، کله چي مکې ته ولاړ سي د عمرې له پاره دي طواف وکړي، د طواف په لومړیو کي دي تلبیه پرېږدي په درو لومړیو شوطو کي دي اوږې ښوروي بیا دي د طواف دوه رکعته لمونځ وکړي.

بیا دي د صفا او مروا تر منځ اووه شوطه سعې وکړي بیا دي سر وخریي یا دي وریښتان لنډ کړي، په دې ډول له احرامه ووتی.

دا هغه مهال که ئې له ځانه سره هدیه بېولې نه وه، که ئې هدیه بېولې وه بیا نه وزي.

کله چي د میاشتي اتمه ورځ سي له حرم څخه دي د حج له پاره احرام وتړي بیا دي د حج اعمال تر سره کړي، کله چي د اختر په لومړۍ ورځ وروستی ځلی (لوی شیطان) وولي د پسه یا اوښي حلالول باندي لازمېږي. که ئې وس ونه لري درې ورځي تر اختر مخکي اووه ورځي وروسته به روژه نیسي.

که ئې درې ورځي روژه نیولې نه وه، د لوی اختر ورځ راورسېده، هرومرو به پسه یا اوښ حلالوي. روژه کفایت نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عمره

په ژوند کي يو وار عمره موکد سنت ده، دا هغه مهال که هغه شرطونه موجود وي چي د حج له پاره ضروري دي، عمره په ټول کال کي کېدلای سي.
خو د عرفات په ورځ، د لوی اختر په ورځ، د تشريق په ورځو کي د عمرې له پاره احرام تړل مکروه دي.
په عمره کي څلور افعال سته:
۱. احرام
۲. طواف
۳. د صفا او مروا تر منځ تګ کول.
٤. سر خريل يا کوچنی کول.
که څوک د عمرې اراده ولري، د حرم له مځکي څخه دي حلالي مځکي ته ولاړ سي، دا هغه مهال که عمره کوونکی د مکې اوسېدونکی وي يا اوس په مکه کي اوسېږي. څوک چي له مکې څخه دباندي ليري اوسېږي د عمرې له پاره دي له ميقات څخه احرام تړي.
بيا دي د عمرې له پاره طواف او د صفا او مروا تګ راتګ وکړي، بيا دي د سر ورېښتان وخريي يا دې کوچني کړي، ځان دي له احرامه خلاص کړي.

# جنايتونه او سزاوي

جنايت هغه کړنه ده چي کول ئې منع وي.
جنايت دوه ډوله دئ:
لومړی: د حرم په هکله جنايت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهم: د احرام په هکله جنايت.

د حرم په هکله جنايت دا دئ چي:

د حرم ښکار ووژني، يا ئې د وژلو اشاره وکړي، يا ئې نورو ته وښيي. يا د حرم درختي ته لاس واچوي (ښاخونه ئې پرې کړي) يا ئې واښه پرې کړي.

دا جنايت دي محرم او غير محرم دواړه ځني منع دي. که هر چا دغه جنايت تر سره کړ سزا باندي سته.

که يو چا د حرم د مځکي وحشي حيوان ښکار کړ حلال ئې کړ، خوړل ئې روا نه دي، مردار لاښ ګڼل کېږي، فرق نه کوي که محرم ذبح کړی وي که غير محرم.

که حلال سړی (غير محرم) د حرم حيوان ښکار کړ، قيمت باندي لازمېږي، مسکينانو ته به ئې ورکوي. د قيمت پر ځای روژه کفايت نه کوي. که سړي د حرم واښه يا درختي پرې کړې قيمت باندي لازمېږي، محرم او غير محرم يو حکم لري.

که د حرم واښه د خېمې د درولو له پاره يا د اور لګولو د ځای کيندلو له پاره پرې کړي پروا نه لري ځکه له دې ډول تعرض څخه ډډه کول امکان نه لري.

د احرام په هکله جنايت دا دئ چي: محرم د خپل احرام پر مهال هغه کار تر سره کړي چي په حج کي منع دئ، يا واجب کار پرېږدي.

د احرام په هکله جنايت شپږ ډوله دئ:

لومړی: هغه جنايت دئ چي په کولو سره ئې حج فاسدېږي، د پسه حلالول کفايت نه کوي، روژه کفايت نه کوي، صدقه کفايت نه کوي، دا جنايت تر عرفات مخکي جماع کول دي، که سړی تر عرفات مخکي جماع وکړي حج فاسدېږي.

پسه به ذبح کوي په راتلونکي کال کي به دوهم وار حج کوي.

دوهم هغه جنايت دئ چي په کولو سره ئې د اوښ ذبح کول لازمېږي:

دا ډول جنايتونه دوه دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی: که سړی تر عرفات وروسته تر سر خریلو مخکې جماع وکړي اوښه به حلالوي که نه غوا به حلالوي.

دوهم: که طواف زیارت په جنابت وکړي همداسي ده.

دریم: هغه جنایت دئ چي په کولو سره ئې د پسه یا اوښي ذبح کول لازمېږي، دغه ډول جنایتونه لاندي ډولونه لري:

لومړی: داسي کړنه چي سړی جماع ته هڅوي، لکه په شهوت مچول، لاس وروړل.

دوهم: ښې له عذره ګنډلي جامې اغوستل. ښځه به هغه جامې اغوندي چي خوښي ئې وي خو خپل مخ به په داسي ډول نه پټوي چي حجاب باندي موښتلی وي.

دریم: کله چي د ږیري او سر وېښتان لیري کړل سي عذر موجود نه وي.

څلورم: کله چي محرم بشپړه ورځ خپل مخ پټ کړي.

پنځم: کله چي محرم په لوی بدني غړو کي یو غړی په پوره توګه خوشبویه کړي، عذر موجود نه وي. د ساري په توګه ورون، پونډی، مړوند، مخ او سر خوشبویه کړي، که یوه بشپړه ورځ خوشبویه کالي واغوندي همداسي ده.

شپږم: کله چي د یوه لاس یا پښې نوکان پرې کړي.

اووم: کله چي طواف الصدر پرېږدي.

څلورم: هغه جنایت دئ چي په کولو سره ئې صدقه لازمېږي، کمه اندازه ئې نیمه پیمانه غنم یا ئې قیمت دئ، دا جنایت لاندي ډولونه لري:

لومړی: کله چي محرم د سر تر یوې څلورمي کم سر، یا ږیره وخریي.

دوهم: کله چي یو یا دوه نوکان پرې کړي د هر نوک په عوض کي نیمه پیمانه غنم لازمېږي.

دریم: کله چي تر یوه اندام کم خوشبویه کړي.

څلورم: کله چي تر یوې ورځي کم ګنډلي یا خوشبویه کالي واغوندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځم: کله چي تر يوې ورځي کم سر او مخ پټ کړي، که بې اودسه طواف صدر وکړي همداسي ده.

اووم: کله چي په درو شيطانانو (ځلو) کي يو تر اووه واره يوه ډبره کم وويشتل سي.

پنځم ډول جنايت هغه دئ چي په کولو سره ئې تر نيمي پيمانې کمه صدقه لازمېږي.

دا ډول جنايت دا دئ چي شپږه يا ملخ ووژني يوه کمه اندازه صدقه به ادا کوي. که دوه دوه، يا درې درې ووژني يو موټ غنم دي په صدقه کي ورکړي. که تر دې زيات ووژني نيمه پيمانه غنم به صدقه کوي.

شپږم ډول جنايت هغه دئ چي په کولو سره ئې قيمت لازمېږي، دا ډول جنايت د ځمکي (وچي) وحشي حيوان وژل دي، که محرم د وچي حيوان (چي دريابي نه وي) ښکار کړي يا ئې ذبح کړي يا د ښکار کولو اشاره وکړي يا ئې بل چا ته ځای وښيي قيمت باندي لازمېږي، فرق نه کوي که د ښکار سوي حيوان غوښي خوړل کېدلې که نه حکم يو دئ.

ښکار سوي حيوان ته به دوه عادلان قيمت ږدي. که د ښکار سوي حيوان قيمت د هديې قيمت ته ورسېدی محرم اختيار لري يا دي هديه رانيسي په حرم کي دې حلاله کړي يا دي خواړه رانيسي پر مسکينانو دې ووېشي، هر مسکين ته دي نيمه پيمانه ورکړي.

يا دي د هري نيمي پيمانې په عوض کي يوه روژه ونيسي. که ئې قيمت د هديې قيمت ته نه رسېدی، محرم اختيار لري يا دي خواړه رانيسي پر بې وزلو دې ووېشي، يا دي د هري نيمي پيمانې په عوض کي يوه روژه ونيسي. په ضررې خزندو لکه غالبوزي، لړمانو او نورو کي شی نسته، د مار، موږک، حمله کوونکي سپي په وژلو کي شی نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هدیه

هدیه هغه حیوان دئ چي حاجي ئې حرم ته بوزي، هدیه به هرومرو پسه، غویی، یا اوښ وي. پسه د یوه کس له پاره کفایت کوي.

اوښ او غویی د اوو کسانو له پاره کفایت کوي، په دې شرط چي د یوه برخه به تر یوې اوومي کمه نه وي.

هدیه به هم د اختري غوندي له عیبونو څخه سالمه وي. بُزې به هرومرو یو کلني وي، پسه به هرومرو د شپږو میاشتو وي، خو غوښن به وي. غویی به هرومرو دوه کلونه بشپړ کړي وي.

اوښ به هرومرو پنځه کلونه بشپړ کړي وي، نفلي، د قران او تمتع هدیه د لوی شیطان تر ویشتلو وروسته ذبح کېږي د اختر درې ورځي ئې وخت دئ. پاته هدیې تاکلی وخت نه لري. هره هدیه په حرم کي ذبح کېږي.

سنت دئ چي هدیې د اختر په ورځو کي په منی کي ذبح کړل سي. د هدیې څښتن ته روا ده چي د هدیې غوښي وخوري دا هغه مهال که نفلي، یا د قران او تمتع له پاره وو. بډای (شتمن) سړی ئې هم خوړلای سي.

که نفلي هدیه په لار کي هلاکه سي د هدیې څښتن دې غوښي نه خوري، بل شتمن دې هم نه خوري. بلکي دغسي حلال سوی دې پرېږدي، غاړه کی (د غاړې تناو) دې په وینو ورولړي.

د نذري هدیې خوراک د هدیې څښتن او بل بډای ته روا نه دئ ځکه نذر صدقه ده، د مسکینانو حق دئ، د جنایاتو هدیه د مالک او بل بډای له پاره روا نه دي، چي وئې خوري.

ځکه دا هدیه د حج د یوه کمي د پوره کولو له پاره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د رسول ﷺ د قبر لیدو ته ورتلل

رسول علیه السلام ویلي دي: مَن زَارَ قَبرِي وَجَبَت له شَفَاعَتِي. رواه طبراني.

څوک چې زما د قبر لیدو ته راسي د هغه له پاره زما شفاعت واجب دئ.

رسول علیه السلام ویلي دي: من حج البیت ولم یزرني فقد جفاني.

څوک چي د کعبې حج وکړي زما زیارت ته رانه سي زما سره ئې جفا وکړه.

په مستحباتو کي د رسول علیه السلام زیارت تر ټولو ډېر فضیلت لري. الله جل جلاله چي چا ته د حج توفیق ورکړي مدینې منورې ته دي ولاړ سي، د رسول علیه السلام زیارت دي وکړي.

کله چي د مدینې منورې نیت وکړي پر رسول علیه السلام دي درودونه ډېر وایي کله چي مدینې منورې ته نژدې سي غسل دي وکړي ځان دي خوشبویه کړي، ښه کالي دي واغوندي، تر څو د رسول علیه السلام درنښت وسي.

لومړی دي په ډېري آرامۍ او احترام نبوي مسجد ته ورسي، د مسجد په احترام دي دوه رکعته لمونځ ادا کړي. دعاوي دي وکړي، بیا دي قبر ته ورسي. د قبر په مخکي دي په ډېري عاجزۍ او کامل ادب کښېني سلام دي ووایي، درود دي ووایي، بیا دي هغه سلامونه ورسوي چي نورو کسانو د ده له پاره لېږلي وي، بیا دي نبوي مسجد ته ولاړ سي، دومره لمونځ دي وکړي چي دی ئې غواړي، د ځان، مور او پلار، او نورو مسلمانانو او هغو کسانو له پاره دي دعاوي وکړي چي له ده څخه ئې غوښتنه کړې وي.

هلته په مدینه کي دي څو شپې وکړي، د شپې له خوا دي ډېر عبادتونه وکړي، د رسول علیه السلام زیارت ته دي ډېر ورځي، تسبیحات او لااله الا الله محمد رسول الله،

(c) ketabton.com: The Digital Library



استغفار دي ډېر وايي.

ښه دا ده چي جنت البقیع ته ورسي تر څو د اصحابو، تابعینو او صالحانو قبرونه وګوري.

ښه دا ده چي تر څو په مدینه منوره کي وي لمونځ دي په نبوي مسجد کي کوي، کله چي وطن ته راګرځي ښه ده چي له نبوي مسجد څخه په دوه رکعتو لمونځ سره رخصت واخلي.

د رسول ﷺ قبر ته دي ورسي سلام وصلات دي ووایي، بیا دي د ژړا په حالت کي روان سي له رسول ﷺ څخه پر جلا کېدو دي افسوز کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اختري کولو کتاب

الله ﷻ ویلي دي: [فصل لربک وانحر] د خپل رب لپاره لمونځ وکړه، ذبح وکړه.

رسول ﷺ ویلي دي: قَالَ « مَا عَمِلَ آدَمِيٌّ مِنْ عَمَلٍ يَوْمَ النَّحْرِ أَحَبَّ إِلَى اللَّهِ مِنْ إِهْرَاقِ الدَّمِ إِنَّهَا لَتَأْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِقُرُونِهَا وَأَشْعَارِهَا وَأَظْلاَفِهَا وَإِنَّ الدَّمَ لَيَقَعُ مِنَ اللَّهِ بِمَكَانٍ قَبْلَ أَنْ يَقَعَ مِنَ الأَرْضِ فَطِيبُوا بِهَا نَفْسًا ». رواه ترمذي.

د لوی اختر په ورځ داسي کار نسته چي د الله ﷻ دي تر اختري کولو ډېر خوښ وي.

د قیامت په ورځ به اختری د خپلو ښکرو، وربښتانو او ښونګرو سره راسي وینه ئې تر مځکي مخکي خپل ځای ته رسېږي نفس خوشبویه کوي.

رسول ﷺ ویلي دي: قَالَ « مَنْ كَانَ لَهُ سَعَةٌ وَلَمْ يُضَحِّ فَلاَ يَقْرَبَنَّ مُصَلاَّنَا ».رواه ابن ماجه

څوک چي وس ولري اختری ونه کړي زموږ عیدګاه ته دي نه راځي.

اضحیه د همزې په پېښ او زېر دواړو ویل کېږي، یاء په تخفیف او تشدید دواړو ویل کېږي. هغه حیوان ته ویل کېږي چي د لوی اختر په ورځ قرباني سي. په شریعت کي اضحیه هغه حیوان دئ چي په مخصوص وخت کي د عبادت په نیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



حلال کړل سي.

د امام اعظم رحمة الله علیه پر مسلک اضحیه (اختري) واجب دئ فتوا د ده پر مسلک ده.

امام ابو یوسف رحمة الله علیه او امام محمد رحمة الله علیه ئې موکد سنت ګڼي.

## اختري پر چا واجب دئ؟

**اختري پر هر هغه چا واجب دئ چي لاندي شرطونه پکښې موجود وي:**

١. مسلمان به وي، پر کافر اختري نسته.

٢. ازاد به وي، پر مریي اختري نسته.

٣. مقیم به وي، پر مسافر اختري نسته.

٤. شتمن به وي (سرمایه به لري) پر بې وزلي (مسکین) اختري نسته.

دا شرط نه دئ چي پر نصاب به کال تېر سوی وي.

بلکي کوم څوک چي مسلمان وي د لوی اختر په ورځ د نصاب مالک وي نصاب تر اصلي اړتیاو زیات وي اختري باندي واجب دئ.

## د اختري کولو وخت

د لوی اختر د میاشتي د لسمي ورځي له سپېدو څخه د اختري وخت پیلېږي بیا د دوولسمي ورځي تر لمر لوېدو پوري دوام کوي.

دومره ده چي د ښارونو او لویو کلیو اوسېدونکي به د اختر تر لمانځه مخکي اختري نه حلالوي. د کوچنیو کلیو اوسېدونکي چي په کلي کې ئې د اختر لمونځ نه کېږي کولای سي چي تر سپېدو وروسته دستي اختري ذبح کړي. ښه دا ده چي اختري د لوی اختر په لومړۍ ورځ ذبح سي بیا دوهمه وروسته دریمه ورځ فضیلت

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري.

ښه دا ده چي اختري په خپل لاس ذبح کړل سي.

که څوک حیوان په سمه توگه نه سي ذبح کولای بیا دي له بل کس څخه مرسته وغواړي، خو مالک دي د ذبح پر مهال هلته حاضر اوسي.

ښه دا ده چي اختری د ورځي له خوا ذبح کړي. که ئې د شپې ذبح کړي روا ده خو مکروه ده.

که د یوه سبب په وجه د اختر لمونځ بلي ورځي ته پر ښوول سو تر زوال وروسته د اختر ذبح روا ده.

که په یوه ښار کي د اختر لمونځ څو ځایه کېدی روا ده چي اختری تر لومړي لمانځه وروسته ذبح کړل سي.

## هغه حیوان چي د اختري له پاره کفایت کوي او هغه چي کفایت نه کوي

د اختر له پاره یوازي اوښ، غویی، گامېښه، پسه او بوزه کفایت کوي، وحشي حیوان کفایت نه کوي.

مېږه د یوه، اوښه او غوا د اوو کسانو له پاره کفایت کوي.

که په اوو کسانو کي د یوه شریک برخه تر یوې اوومي ۷/۱ کمه وي د ټولو له پاره کفایت نه کوي.

غوا، اوښه، گامېښه د اوو کسانو له پاره کفایت کوي، خو ټوله به د قرباني (اختري) نیت لري. که د یوه د غوښو نیت وي د ټولو اختری روا نه دئ.

پر بوزې به یو کال تېر سوی وي په دوهم کال کي به داخله سوې بیا د اختري په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیت ذبح کېدلای سي.

خو پسه به تر شپږو میاشتو اووښتی وي، دومره به چاغ وي چي د یوه کلن سره برابر وي.

د غوایي او ګامېښي به دوه کلونه پوره وي، په دریم کي به داخل وي د اوښ به پنځه کلونه پوره وي، په شپږم کال کي به داخل وي.

ښه دا ده چي کوم حیوان چي اختری کېږي باید چاغ او له عیبونو څخه روغ وي.

که هغه حیوان اختری کړل سي چي پیدایشي ښکرونه ونه لري روا دئ.

که ئې د ښکرو یوه برخه پرې سوې وي هم روا دئ. که دومره په بېخ کي پرې سوي وي چي مغزو ته رسېدلي وي بیا روا نه دئ.

که خصي (چي خایې ئې کښل سوي وي) اختری کړل سي روا دئ، بلکي فضیلت لري ځکه غوښي ئې خوږې وي. که حیوان دومره لېونی وي چي څر کولای سي په اختري کي روا دئ، که ئې څر کولای نه سو روا نه دئ.

هغه حیوان په اختري کي روا نه دئ چي دواړې سترګي ئې لید (دید) نه کوي. که ئې یوه سترګه ړنده وي هم روا نه دئ. چي پښې ئې کږې وي د ذبح ځای ته تللای نه سي هم روا نه دئ.

که د حیوان درې پښې سمي وي یوه پښه ئې کږه وي پر مځکه ئې لګوي په اختري کي روا دئ.

که حیوان دومره ډنګر وي چي په هډوکي کي ئې مغز پاته نه وي روا نه دئ. که ئې غوږونه یا لکۍ پرې وي روا نه دئ. که ئې د غوږو او لکۍ ډېره برخه پرې وي روا نه دئ. که ئې د غوږ یا لکۍ دوې دریمي پاته وي یوه دریمه ئې پرې وي روا دئ.

که ئې غاښونه مات وي روا نه دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ډېرې غاښونه ئې پاته وي روا دئ.

که پيدايشي غوږونه ونه لري روا نه دئ.

که ئې د تيو سرونه پرې وي روا نه دئ.

## د اختري غوښې او پوستونه چا ته ورکول کېږي؟

روا ده چي اختري کوونکی د خپل اختري غوښي وخوري، روا ده چي نورو مسکينانو او شتمنو ته ئې ورکړي.

ښه دا ده چي غوښي درې برخي کړل سي. يوه دريمه دې ووېشي، يوه دريمه دې د خپلي کورنۍ له پاره راوګرځوي. يوه دريمه دې خپلوانو او انډيوالانو ته ورکړي. که ټوله غوښي ووېشي ډېر فضيلت لري.

که ټوله غوښي د ځان له پاره راوګرځوي هم پروا نه لري، که اختری نذر سوی وي ټوله غوښي به وېشي خوراک ورته روا نه دئ.

سړي ته روا ده چي د خپل اختري پوست د خپل کار له پاره وکاروي بل شتمن ته ئې هم ورکولای سي.

که ئې خرڅ کړي هرومرو به ئې ثمن خيراتوي. قصاب ته د اختري له غوښو څخه اُجوره (مزدوري) نه ورکول کېږي، پوست هم نه ورکول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

صداقت خپرندویه ټولنه- کندهار

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**